# لومړی څپرکی

دسپرلي دوروستۍ مياشتي دلمړۍ لسېزي وروستۍ ورځي داسي تيريدي چې لمرهم خپله تودوښه ورځ تربلې زياتول.داوخت نومعولاًورځي اوږدې او شپې هم لنډي وې.دجوزامياشت نودبڼوالواوبزګرانودحاصلومياشت وي، ددوي دهيلودپوره کيدومياشت وي،ددوي دتوي شويوخولودجبران مياشت وي.که څه هم چې دغه مياشت دبزګرانولپاره دکال ترټولوسترې اوله بوختياو ډکه مياشت وي،خودوي يې دخپلي پولی اوپټي له اصيل څخه هغه دچاخبره من من غوښه اخلي.ددغودهکانانوله جملی څخه يوهم پنځه پنځوس کلن ګل محمدچې مشهورپه کاکوسره و،چې زياتي ګرمي اودکوربی کسۍ اړکړی وو چې دورځی کاردشپې په سړه هواکې وکړي ،خو!کورنۍ به يې ورته ترهغوپه انتظاروه ترڅوبه چې بوډاګل محمدنه وراغلی.

په کورنۍ کې يې ښځه ګلالۍ اويوه نازولې پاڼه لور اوسيده.ده.ته نوخدای[ج] دغه يواولادپاڼه ورنصيب کړې وه بله ثمره يې نه درلوده .پاڼه لس کلنه وه اودموراوپلار دواړوښه لاس باندي خلاص واودې به هم ښه په اخلاص له دواړوسره زياته مرسته کول، کله به چې ګل محمدله کور څخه سهارراووتی نوله ځان سره به يې خپله چاى اوډوډۍوړلي، اوترهغه وخت به بې کارکوي،ترڅوبه چې دلـ[illegible]رتود[illegible]شوه،[illegible]به[illegible]خپل[illegible]کو[illegible]به راغی،اوپه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورکې به ترهغه پوري انتظاروچې لمربه خپله تیزۍ ورکه کړه،نوګل محمد به بیاپه خپل کارپسی راووتی.

ماښام به چې کله دډوډۍ وخت شونوبه بیاپاڼې ډوډۍ وروړله په هرځای کې به چې ددې پلارو،هلته به داورتله اوله پلارسره به یې په ګډه ډوډۍ خوړل.

بوډاګل محمداوتاندې پاڼې څه باندې دوې اونۍ همداسي له خولوډکي پرې کړې ایله دومره وتوانیدل چې دکال شومه یې برابره اونوروته له لاس اوږدیدوڅخه ځان خلاص کړ.

خوسپین ږیری ګل محمدلاهم دخیال اوفکرټال دې ته پرینښودچې په یوازې شومه اواوړه دې کال دولس میاشتې تیرې شي، ګڼونوروخوراکې توکوته هم ضرورت و،اودهغوولپاره نقده پیسوته اړتیاوه،

چې دیومریض اوخدای (ج)مکړه بلې ستونزې لپاره وای نو!دهمدې ټولو لپاره یواځی ګل محمد واودفلکې انتظار،آن کله کله خوبه کړی ورځ په همدې طمعه وربانديې تیره شوه چې ګوندې یوڅوک یې دمزدورۍ لپاره بوزي،بیشکه چې الله (ج) مالک دی اوهرچاته مقررشوی رزق ورکوي،ګل محمدهم ګلالۍ اوپاڼه مړول په یوډول نه یوډول یې هماغه اندازه پیسې ترلاسه کولی چه ګوزاره وربانديې وکړي.

یوه ورځ ګل محمدله خپله کاره وختې پرلسوبجو خلاص شواودخپل کورپر خواراروان وچې په لاره کې دوې لس کلنې انجونې په مخه ورغلې چې له ښوونځۍ څخه رارخصت شوې وې اودکورپرخوارواني وې.دوې په خپلومینځوکې داخبرې سره کولاې چې دغه کاکوهم لورلري اوښوونځۍ ته یې نه پریږدي تمامه ورځ په خوارکۍ کارکوي،سبق نه وربانديې وایې،ډیرظلم وربانديې کوي داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلرونه هم شته.بلې به ویله ربنتیاهم که په ښوونځی کې وای اوس به زمونږسره وای اوډیرسبق به یې زده کړي و.وګوره که صبایې لورغټه شوه نوخپل پلارته به ښراوي کوی چې زه یې بې تعلمه غټه کړمه اوخپله ګټه یې راځه اخیسته،دغوانجونولاهم داخبرې پوره یانی پای ته نه وې رسولي چې له ګل محمدڅخه یې لاره بیله اوپه خپله مخه ولاړې.

ګل محمدچه همیشه به دکورنۍ یواځوالی اواقتصادی حالت ځوراوه اوس ورته ددغوانجونوخبرونورهم په فکرکې کړ.ددغوانجونودغو خبرودګل محمدپه ذهن کې ځوتږې انګازې وکړي چه له خپلې لورسره ظلم...له پاڼې سره ظلم...له خپل زړه سره ظلم...آخ...داځه اورم دا...ګل محمدلاکورته نه ورارسیدلی چې داتصمیم یې ونیوی چې ربنتیاهم زه بایدپه خپلې لورزده کړي وکړم،زه بایدخپل مسولیت اداکړم زه بایدیوښه پلارشم.

ربنتیاهم چې زه بې تعلمه راغټ شوم څخه خیرمي والیدی، ټول عمر مي له خواریوسره مخ دی هیڅ هوسانه شوم اونه هم هوساژوندپه نصیب شو. کچېری په کوچنیوالی مي پلارراباندی تعلیم کړي وای اوس به یوځای نه یوځای که ریئس یامعاون نه وم نویومامورګی خوبه وم،اوپه یوه نرمه چوکې کې خوبه ارام اوهوساناست وم،له خوبه به می ځښل اوله خوبه به می خوړل.خوافسوس زماپرژوند چې داسي په توره شپه کې راباندی تیرشو،اوبه چې تروړخ واوړې بیانه راګرځی.خیرزه خو له تعلمه پاته شوم او اوس خویې زده کولای هم نه شم، نوبیاولي خپله لوربې تعلمه کړم،هغه خووږه ده اوپه وړکتوب کې هرڅه زده کیږي.که نورڅه نه وی صباخوبه یې له ښراکولوڅخه خلاص یم،چې زه خودپلاره له لاسه بې تعلمه پاته شوم،پلارمي خپلې ګټې راباندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولي اوزمادراتلونکی په غم کې نه ؤ.په دغه فکرونوکې ترکوره راورسیدی اوله هرڅه دمخه یې خپلې ښځې ګلالې ته وربږغ کړل.

ګلالی اه ګلالی راشه چې په کارمي يې.

ګلالې هم په وارخطاسره ورته راغله چې خیرخوبه وي ولی نن دومره وختی راغلی اوولی دومره وارخطايې څه پیښه ده ؟

ګل محمدورته وویل :

مانن یوتصمیم نیولی دی ،هغه داچې زه غواړم پاڼه په ښوونځی کې داخله کړم.

_ داته څه وايې؟

_ زه هغه څه وایم چې تاواوریدل.سرله صباڅه به پاڼه ښوونځی ته ځې.ماخوداپریکړه کړي ده ستاراسره خوښه ده؟

_ په ښوونځی کې به نوڅه وکړي؟ مونږدماښام په ډوډۍ پسي حیران یواوته دې لورښوونځی ته اچوې.لیونی شوی خوبه نه یې؟اوس به یې دښوونځی لپاره جلا شیان برابروي، ښوونځی څومره مصرف لري.زه خودرته وایم چې ښوونځی خودپیسه دارانوکاردي اوهغوي په خپلواولادونو باندی تعلیم کوي.مګر مونږغریبان خوله هرڅه څه محرم یو.نه دښوونځی توان لرواونه هم دسبق ویلو.زه خودرته وایم لدې کاره تیرشه ګټه نلري،زماخوبیخی نده درسره خوښه.

ګلالې چې هرڅه ورته وویل خوګل محمدیې له خپلې خبرې وانه ړاوه.ګل محمدداژمنه وکړه هرڅنګه چې وی اوهرڅومره لګښت چې لري،زه په خپلې لورښوونځی وایم.

له ځمکې وي اوکه له اسمانه زه یې دښوونځی ټول لوازیم ورته برابروم،خودادښوونځی څخه نه محرومه وم.سرله صباڅه به پاڼه ښوونځی ته ځې.خدای(ج)مهربانه اوروزی رسانه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدغه وخت کې پاڼه هم دموراوپلارخبرې واوریدې اوخونې ته وراغله له دوي څه یې پوښتنه وکړه چې څه خبره ده چې دومره په لوړاوازخبرې کوې؟بیاڅه شوي دي؟

موریې ورته وویل:

چې پلاردي نن لیونی شوی دی ناولدې کوي پیسه داره شوی دی .

پاڼې له پلاره وپوښتل:

رښتیاپلاره پیسه دي ډیري پیداکړي دي؟مورمي رښتیاوایې؟که دغسي وي نواول به ماته نوي کالي رااخلې،زمادغه کالي ډیرزاړه اوځیري شوي دي؟

_ لورې کالي خوبیخي درته رانیسم،خوخبره داده چې زه غواړم تاپه ښوونځی کې شامله کړم ترڅو زده یې کړي.

پاڼه ددې خبری په اوریدوحقه پکه حیرانه شوه اوپلارته یې وویل:

پلاره داته څه وایې ښوونځی‌اوزه.داخوبیخي له امکانه لېري خبره ده چې زه به ښوونځی‌ته ځم ماته یوه جوړه کالي راواخله ترهرڅه تیره یمه پلاره.

_ نه لورې مانن داتصمیم نیولی دي، ته به سرله صباڅه حتماًځې ښوونځی‌ته، کالي هم درته راوړم ستادخوښې کالي دراخلم یوه جوړه څه دوي دري جوړې درته اخلم،خوته به زماخبره منې لورې.زماخبره به پرځمکه نه غورځوی.

_ پلارجانه که زه ښوونځی‌ته ولاړم نوتاته به دشپې بیاځوک ډوډۍ دروړي،اوبل ښوونځی‌خواسانه ندي ډیرسخت دي زه یې نشم زده کولاي.نه پلاره! هره خبره دي منم خوښوونځی‌نشم ویلاي.

پلاریې پاڼه پرسر مچ کړه اوورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې که ته ښوونځی ته ولاړه شي،نوبيازه وختي کورته راځم ډوډۍ خورم اوبيابيرته ځم کارته،داپې زماستاسره وعده،خوته به زماخبره نه ماتوی زماګرانې لورې،سمه ده.

موريې پاڼې ته وويل:

پاڼې لورې!پلارچې دې يوخبره وکړي هغه به حتماًعملی کوي،ماهم ډيرورته وويل خوزماخبره نه منې ،اوبل داچې پلاردې دومره ټينګ دي نوبياتوکل پرخدای(ج)کړه،ځوورځې ولاړه شه که دې زده کوای شوای نووبه يې وائي ،اوکه دې نشوای زده کولای بيابه يې پريږدي څه پرواخونه کوي جبري خوندی.

پاڼې بياپرپلارډيرټينګاروکړچې لدې کاره به تيرشو،خوپلاريې دې ته مجبوره کړل چې ښوونځی‌به وايې،کله چې يې ددې خبره نه منل نوپاڼې مجبوره شوه اودپلارخبره يې ومنل چې سرله صباڅخه به ښوونځی ته ځې.

پلار يې هم ډيرخوشحاله شو چې پاڼه ښوونځی‌تللوته راضې شوه.

پاڼه نوسهارته په انتظاروه،اوډيره وارخطاپه دې وه ،چې سهارخوبه ښوونځی ته ځم اوښوونځی‌دې ته يونابلده ځاي اويوسخت کارمعلوميدی، چې زه به څنګه سبق زده کوم،خيرتوکل په خدای(ج)يې کړل .

کله چې دسهاراته بجې شوي دسهارچاي يې له موراوپلارسره وڅيښلې اودښوونځی‌پرلورورروانه شوه.موراوپلاريې په هغه حالت کې هم ورته دعاووې اودلاسايې ورکول چې انشاءالله هرڅه به درته اسانه شي زمونږ دعاوي درپسي دي. پاڼې هم له دوي څه رخصت راوخستله اودښوونځی‌پرخوارارروانه شوه.کله چې دښوونځی‌دروازې ته راورسيده،غوښتل يې چې دننه ښوونځی‌ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورشی،خودښوونځی دووښځینه ناظیمینو(پیره دارو)پوښتنه ځني وکړه چې څوک غواړي اوله چاسره دی کاردی؟ځکه دهغوخوهمداوظیفه وه چې هرڅوک نابلده ښوونځی ته راشي دوي کې تلاشی هم کوي اوپوښتنه هم ځني کوي. اودوي په دي هم پوهیدل چې داخودښوونځی انجلۍ نده اوکیدای شي له یوې مکتبې انجلۍ سره به یې کاروي.

پاڼه چې مخکې هم وارخطاوه دغوخبرویې وارخطایې نوره هم زیاته کړه اوپه خوراعجیب اوغریب اوازیې ورته وویل:

زه هم راغلې یم ترڅوله سره ښوونځی ووایم.

ناظمې ورته وویل:

تراوسه لکه چې ښوونځی ته نه یې راغلې ،اوس خوډیروخت تیرشوي دی دښوونځی دشروع کیدوڅه،ولی وختي نه راتللې؟

پاڼه ورته وویل:

زه نه وم خبره اومانه غوښتل چې درس ووایم،اوس مي موراوپلارمجبوره کړې یم،اوماته دښوونځی وخت هم صحی ندي معلوم،که وخت تیرشوي وي نوزه به بیرته ولاړه شم؟

ناظیمې ورته وویل:

ته یوڅوشیبې صبروکړه زه دستی راځم،بیابه درته ووایم.

پاڼې هم ورسره ومنله اودناظیمې ترراتګ پوری انتظارشوه.

ناظیمه هم ښوونځی ته ننوته ،او اداري ته ورغله ،له مدیرې سره یې داخبره شریکه کړه چې یوه نوی انجلۍ راغلې ده اودښوونځی کالي یې هم ندی اغوستي،غواړي چې اوس درس ووائي،ستاراته څه هدایت دی چې زه یې پرځای کړم؟

مدیرې ورته وویل:

ماته یې راوله زه به خبرې ورسره وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناظیمه هم راغله اوپانه یې له ځان سره بوتله دمدیرې اطاق ته،په لاره کې پاڼه هم له ناظیمې څه پوښتنه وکړه چې داولی داسي شورماشوردي؟

ناظیمې ورته وویل:

بیابه ته هم داسي شورماشورکوي.

_ ولی په ناروکي څه تاثیرشته که دادښوونځی اصول دي چې خامخابه ټول شورماشورکوي؟

ناظیمه ورته په غوسه شوه چې ته اوس لادومره پوښتنې کوي وخت دي لاچېری دی،خوبیایې هم دغوسې په حالت کې ورته وویل:

هوپه شورماشورکې سبق ښه زده کیږي،داشورماشورندي داشاگردان خپل سبق تکراروي کوم چې استادورته نوی ویلي وی، نوري پوښتنې زماڅخه مکوه له مدیرې صاحبې څه یې بیاوکړه.

پاڼې هم دناظیمې په غوسه کیدووپوهیده،ترادارې پوري یې بیاپوښتنه نده ځني کړې،کله چې اداري ته ورسیدل نوپاڼه یې مدیره ته پریښوده اودابیر ته خپل کارته ولاړه.

مدیره صاحبه چې دښه استعدادخاونده وه،له پاڼې سره یې ډیرپه نرمی اومهربانی سره خبرې کولي اوپوښتنه یې ځنی وکړه.گرانې! لومړی خوستاښایسته نوم راوښیه_ څه نومیږي ؟

پاڼه که څه هم چې ډیره وارخطاو،ورته وویل:

زمانوم پاڼه ده.

_ ښه ښایسته نوم دې دی_ دپلارنوم دې څه دی؟

_ دپلارنوم می گل محمد دی.

_ ولی دومره ناوخته ښوونځی ته راغلې،ایاتاته دښوونځی دشروع کیدلووخت نه ومعلوم چې ښوونځی څه وخت شروع کیږی؟اوس خودښوونځی دشروع کیدوڅخه تقریباَدوی میاشتې تیرشویدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاگردانوډېردرسونه درڅخه ويلي،ځنګه به دي داتيردرسونه زده شي؟

پاڼه ورته وويل:

ماته دښوونځۍدشروع کيدلووخت صحي نه ومعلوم،اوبل ماهم نه غوښتل چې ښوونځۍ ووايم.مونږډيرغريبان يواوپه ښوونځۍ نه پوهيږوچې څه وخت شروع کيږی،اوڅه وخت يې دشروع کيدووي. موراوپلارمي هم ښوونځۍ ندي ويلي،هغوي هم نه باندي پوهيږي.خوزه يې اوس دې ته مجبوره کړې يم چې ښوونځۍ ووايم، که مې چيري زده کواې شواى.

_ ولې يې نشې زده کولاى،او ولې تانه غوښتل چې ښوونځۍ ووايې. ښوونځۍ خودهرچاليپاره دی،داخوپه غريبي اوخاني پوري اړه نه لري، علم خوبايد هرانسان حاصل کړي.ته خوبه کوروروڼه لري اودغريبي يې نوپه تاڅه؟ ته خو کوچنې انجلۍ يې.

پاڼه که څه هم نه غوښتل چې خپل دزړه حال ورته ووايې،خوورته مجبوره وه چې ربښتيايې ورته ويلي واى.نوورته وويل:

چې زه نه وروړلرم اونه هم بله خور.يوه زه يم مورمې ده اوپلارمې، نورڅوک په کورکې نه لرو،زما پلار غريب کاره دی،اودخلکوکارونه کوي ،زه هم ګاهې وخت ورسره مرسته کوم.يابه مې ډوډۍ وروړله اويابه مي ورته دکوره يخې اوبه وروړلې.

مديرې چې له پاڼې داخبرې واوريدې نوډيره خفه شوه اوزړه يې ورباندي وسوځيدی،دپاڼې پرحال يې افسوس وکړ،چې زموږپه هيوادکې تراوسه پوري غربت شتون لري اودغربته لانه يوخلاص شوي.بله پوښتنه يې ځنی ونکړه ورته وويل:

ښه اوس نوکه ښوونځۍ وايې نواول به دښوونځۍ کالي پيداکوې،داکوم کالي چې تااغوستي دادښوونځۍ لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندي،داشخصی کالي دي اوپه شخصی کالیو کې اجازه نشته چې درس ووایې.نن خوخیرده صبابه دې پلارته ووائي چې درته دښوونځی کالي راوړي. کالي خوبه پلاردرته اخیستلاای شي؟

دپاڼې نوداخیال وچې دازمااوس کالي کوم چې می اغوستي دی،دازاړه دی اونورنوی کالي راته راښي نوورته وویل:

چې صحي ده داکالي که مي زاړه وی نونورنوی کالي لرمه،هغه به صباواغوندمه اوبیابه ښوونځی ته راشم.

مدیرې ورته وویل:

یاداکالي اوهغه ستانوی کالی دښوونځی لپاره ندي،دښوونځی لپاره جلاخپل کالي شته ،چې کالي یې توروي،پوړنې یې سپین اوبوټونه که یې هررنګ وي فرق نه کوی،پلارته به دي ووائي هغه به یې له بازاره درته راوړي،نن به په دغه لباس کې په صنف کې کښینې ،خوصبابه دښوونځی په لباس کې راځې؟ځکه چې دادښوونځی اصول دي.ښه اوس نوداراته ووایې چې په څه پوهیږي مخکې دي درسونه ویلي دي؟

پاڼې ورته وویل:

تراوسه خومی هیڅ شي ندي زده،اونه مي زده کړي دي لدې وروسته به یې زده کړم.

_ چې داسي ده نوله اول صنف څخه به یې شروع کړو،همداسي دي خوښه ده؟

_ زه په اول صنف لا نه پوهیږم چې څه معنی لري،چې ته راسره همکاری وکړي نوهرڅه به مي زده شي.ته پوهیږې اوکاردي.

مدیرې هم پاڼه له ځان سره اول صنف ته راوستل.دصنف دروازه یې خلاصه کړه،په صنف کې شاګردانوخپل درس ویل،کله چې یې مدیره والیدله نو درس یې پریښودي اوددیکت په ویلوسره ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاګردان دمديرې داحترام لپاره ودريدل.مديرې هم وروسته دکښينستلواشاره وکړه اوټول شاګردان بيرته پرخپلوځايوکښينستل.بيامديرې دهغه صنف له معلمې سره چې پلوشه نوميده دصنف اوشاګردانو پوښتنه وکړه چې درسونه يې زده کيږی؟

پلوشې معلمې ورته وويل:

هوښه يې زده کيږي.

بيامديرې ورته وويل:

چې داانجلۍ پاڼه نوميږی،اوس راغلې ده چې درس ووائي،داديوبې وزله اوديوې غريبي کورنۍ انجلۍ ده،لدې سره به ډيرکوښښ کوی،نوم يې په حاضری کې ورسوه اوتيردرسونه ورسره تکرارکړه،پردې دی ډيرپام وی.

پلوشې معلمې هم دسرپه ښوروالوسره مديرې ته ډاډورکړ چې حتماًبه ورسره مرسته کوي.

بيامديرې پاڼې ته دکښينستووويل چې له شاګردانوسره په قطارکې کښينې، اوشاګردانوته يې داهم وويل چې ګوري داانجلۍ درڅخه په تکليف نشی. شاګردانوهم وعده ورکړه چې ترخپله وسه به ورسره کومک لاکوي.

پاڼه هم راغله اودشاه په قطارکې له انجونوسره کښينستله.وروسته مديره له صنفه راووته اومعلمه پلوشه هم دمديرې سره راووته،په صنف کې انجونوپاڼې ته وکتل،ټولوانجونو له ځان سره وخندل چې عجيبه انجلۍ راغلې ده، داوګوره اودرس زده کول.نه يې دښوونځی کالي اغوستی اونه يې بوټونه په پښودي.تاسي ددې څيروچپلاکوته وګورې،دابه نوښه درس زده کړي هرې يوې به ورباندی قسم قسم مسخرې کولې خوپاڼه چپه خوله ناسته و،ديوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجلۍ زړه ورباندي وسوځیدی دشاه له قطاره یې راولاړه کړه اودمخ په سپ کې یې له ځان سره کښینوله،ورته وویل:

چې ته زماشریکه یې ته به لماڅخه نه جلاکیږی،زه درته تیردرسونه کوم چې موویلي دی هغه ټول درسره تکراروم.ته دانجونودخنداپروامه کوه،هیچاهم له ځانه سبق ندي زده کړي،ټولودلته له معلیمانوزده کړي دي،هره انجلۍ لومړی ستاپه رقم و.

پاڼې هم له هغې انجلۍ سره کښینستله، که څه هم دومره وارخطاوه چی له ډیرې وارخطایې څخه یې خبرې نشوای کولای.خوددې انجلۍ خبرویوڅه تاثیرورباندي وکړاویوڅه یې زړه ارامه شو،زړه ته یې داولویدل چې داربنتنې انجلۍ ده اوزماسره واقعاًهره مرسته کولای شي،نویې له خپلې نوې ملگرې سره څنگ په څنگ کښینسته اودهغه په لاس کې چې کوم کتاب و،هغه ته یې کتل.

پلوشه معلمه بیرته راغله صنف ته اوپه درس ویلویې شروع وکړه اودڅودقیقولپاره بیرته له صنفه ووتله.

ټولودرسونه ویل خودپاڼې سرنه باندی خلاصیدی،حیرانه و چې داڅنگه زده کیږی دغسي یې ورته کتل،کله چې درس خلاص شو،نود خپلې ملگرې څخه یې پوښتنه وکړه چې زماخوهیڅ سرنشوباندی خلاص،ستازده شو؟

ملگرې یې ورته وویل:

زماهم اول سرنه باندي خلاصیده،خواوس په هره جمله پوهیږم،ځکه دامی دوهم کال دی،تیرکال ناکامه وم اوبیرته په اول صنف کې کښینستمه،ته به هم په هره جمله پوهه شې،بیابه ځان ته حیرانه یې.

پاڼې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاشکی می درس زده شي،دهغې ورځې په ارمان یم،چې دموراوپلارارمان مي راباندي پوره شي.ښه اوس خودي نوم راوښيه،ستانوم څه شي دي؟

ملګرې يې ورته وويل:

زمانوم نازودی،اوستانوم خومی دمديرې صاحبې څه زده کړ.څومره ښايسته نوم دي دی پاڼه.

پاڼې ورته وويل:

ستاهم ډيرښايسته نوم دی نازو.

نازوورته وويل:

راځه اوس درس زده کړو.

پاڼې هم دنازوسره درس شروع کړ،بيرته معلمه يې راغله اوکوم درس چې يې ورته ويلي وبياورته تکرارکړ. کله چې ددرس تکرارخلاص شونودمعلمې سترګې پرپاڼې ولګيدې،چې داخوهغه نوې شاګرده ده.پوښتنه يې ځني وکړه چې ستادرس زده شو؟

پاڼې ورته وويل:

زده به می شي،نن می اوله ورځ ده،اونازوهم مرسته راسره کوی.

معلمې ورته وويل:

ډيرښه کاردی چې نازومرسته درسره کوی،ته هم کوښښ کوه چې زده يې کړې،اوبيابه ښوونځی ته په خپل وخت راځې .

پاڼه ورته وويل:

وروسته تردي به په صحي وخت راځمه.

معلمې ورته وويل:

ښه خيرزده کيږی دي،اوس دی هم ښه کړي دي چې راغلې،.ښه ښاګردانودرس موبياهم په ټولوسره تکرارکړئ چې له ياده موونوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولوشاګردانودرس تکراروي،پاټې هم نوروانجونوته کتل اودې هم له ځان سره سوکه سوکه ویل، خوسریې نه باندی خلاصیده،له نازویې پوښتنه وکړه چې زماخواوس هم نشوزده، دابه زه څه کوم که مې درس نه زده کیدي؟

نازوورته وویل:

زه درسره یم.په یوه ورځ خودرس هیچاندی زده کړي اونه په یوه ورځ زده کیږي،زه هرڅه درته ښیم ستالاوارخطادی.ته صباته خپل دښوونځی کالي برابرکړه،زه په هرشي کې درسره مرسته کوم.دتفریح په وخت کې به درته کتابونه له تحویلدارصاحبه راوخلم،اوته به په کورکې کتابونوته پوښونه ورکړي، یوخوبه کتاب ټینګ شی اوبل به نه څیری کیږي.ګوره پام کوه چې کتابونه دي ورک نکړي ځکه بیایې درڅخه غواړي.دوي خپلې خبرې لانه وې خلاصي کړي چې دتفریح زنګ ووهل شو.نازوپاټې ته وویل:

درځه زه به دي لومړی بوزمه تحویلدارته اوله هغه څخه به درته کتابونه راواخلم.پاڼه هم ورسره ولاړله تحویلدارته .هغه ته نازو وویل چې تحویلدارصاحب! داانجلۍ اوس ښوونځی ته راغلې ده،که کتابونه داول صنف ورته ورکړي.تحویلدارهم ورته نوي کتابونه ورکړل اوورته وویل:

پام کوه چې درڅخه ورک نشي_ که دې ورک کړل بیایې تاوان درڅخه اخلم.ښه پاک به یې ساتي،څیري یې نکړی.

نازوورته وویل:

ماورته ویلي دي،انشاءالله ښه به یې وساتي.

_ ښه نوچې داسی ده نوورځي چې تفریح درڅخه تیره نشي.

نازواوپاټې هم کتابونه ځنی راوخیستل اوپه یوه ځای کې سره دواړې سره کښینستلې.نازوبه له ځان سره هره ورځ کیک اوپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو کوچنی ترموزکې چاي اويو گيلاس له کوره څخه راوړل.له بستې څه يې ټول شيان راوکښل کيک يې سره نيم کړ.نيم يې خپله له چايوسره وخوړی اونيم يې پاڼې ته ورکړ. وروسته تردې يې پاڼې ته وويل:

صبابه دي پلارته ووائي چې زماپه رقم کالي درته راوړي.

پاڼې ورته وويل:

پلارته مي حتماًوايم هغه زماسره دهرشي وعده کړي ده.چې زماهرشي ته ضرورت شي راته رااخلې يې.دغه کالي خوبه په بازارکې پيداکيږی؟

_ هوخودپيداکيږي ،چې ورته ووائي دښوونځی کالي مي په کاردي،بياهردوکاندارته معلوميږي، که په بازارکې نه پيداکيدل،بيادې موردرته جوړکړي.دموردې کالي زده دي؟

_ يادمورمي کالي ندي زده،خوخيرکه په بازارکې نه پيداکيدل، بيازمونږد کورسره يوه خياطه شته،دهغووکره به يې جوړ کړم.دادومره مشکل ندی.

دتفريح وخت پوره شو،بيرته زنگ ووهل شواوټول شاگردان خپلوصنفوته ولاړل.نازواوپاڼه هم راغلې خپل صنف ته.معلمې ورته دبل نوی مضمون درس پيل کړ.دغرمی څه باندي لس بجې به وي چه درخصتۍ زنگ وکړنگيدی. ټول شاگردان خپلوخپلوکوروته تلل،نازواوپاڼه هم دخپلوکوروپرخواراروانې شوې،کورته چې نيږدې شوې يودبله يې خدای په امانی سره وکړاودوي هم خپلوکورونوته ولاړلې.

پاڼه هم خپل کورته راغله،موريې نوترهغه وخته پوري په انتظارو.رقم رقم چورتونه يې له ځان سره وهل چې زماله لورسره به يې نواوس څه کړي وي.په ښوونځی کې به يې شامله کړې وی اوکه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې نه وي شامله کړې.ناکراره وه اوهيڅ ځمکې ځاي نه ورکوي.مورخوډيرمهربانه وي په هرحال کې داولادغم ورسره وي.داپه دغوچورتوکې وه چې پاڼه يې مخی ته ودريده.موريې هم تربل هرڅه له مخه دښوونځی پوښتنه ترې وکړه.لورې!په ښوونځی کې يې شامله کړې؟ولي دومره وځنديدې؟

پاڼې ورته وويل:

هومورجانې!په ښوونځی کې شامله شوم،نوي درسونه يې راته وويل.خوزما سرنه باندي خلاصيده، بيايوې انجلۍ ډيره زياته مرسته راسره وکړه.نازو نوميږی ډيره ښه انجلۍ ده،هغې راته وويل چې درس خوپه يوه ورځ نه زده کيږی اونه چازده کړي دي،په سوکه سوکه سره زده کيږی په ډيره حوصله سره.نوډيرسات می تيرشو،دومره ډيري انجوني وې چې له حسابه وتلي وې، ټولودرسونه ويل اوټولي خوشحالي وې.بيايې دمديرې خبرې ورته وکړې،چې داسي يې راسره وکړل داسي يې شاګردانوته معرفی کړمه،خپله ټوله کيسه يې مورته وکړه.اوبيايې ورته دښوونځی دکالوويل چې مديرې اودصنف معلمې می راته وويل چې صباته به دښوونځی کالي حتماًدرسره راوړې. دښوونځی جلاکالي وي،نن لاهم ټولوانجونوراباندی خندل چې داوګوره په داکالو کې ښوونځی‌واٸي.ترڅوچې می پلارجان راته دښوونځی کالي اونوي بوټونه نه وي راوړي ترهغه وخته بيا ښوونځی ته نه ځم.

موريې ورته وويل:

وزماګرانې لورې!چې ستاسات په ښوونځی کې تيرشوی دی داڅومره ښه کارشوی دي.ته دکالوغم مکوه داخودومره غم ندی.دښوونځی کالي به دي نن پلارپه هرځای کې چې وي درته راوړي،کله چې راشی اول به ستادکالوغم وخوری،ته بيغمه اوسه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وایمه،سمه ده زما ګرانې لورې.یوواري خوراشه چې پرداسرخودې مچ کړم.پانه یې پرسرمچ کړله،اودپلارتر راتګه پوري موراولوردواړې ورته انتظارشول.کله چې یې پلارراغی،نو هغه ته یې ټوله کیسه وکړه اودښوونځی دکالوغوښتنه یې ځنې وکړه.

پلاریې هم دستی له ځایه راولاړشواوپانه یې له ځان سره بازارته بوتله،هلته یې ورته کالي،بوټونه ،دکتابوبسته،کتابچې،قلمونه،پنسیلونه اوپنسل پاکونه وراخیستل.پانه هم خوشحاله شوه چې دصبالپاره خومی ټول شیان برابرشول اودانجونوله خنداڅخه به خلاصه یم.

کله چې سهارشو اوساعت هم لس کمې اووه بجې وې،پاڼې هم خپل نوي کالي،بوټونه،اوپوړنی په سرکړ،بسته یې پراوږوکړه اوله موراوپلاره یې اجازه راواخیسته اودښوونځی پرلورورروانه شوه،کله چې ښوونځی ته راورسیده نوترپرون یوڅه دلاوره وه،سیده ولاړه خپل صنف ته.نازوپه صنف کې ورته انتظاروه ،له هغه سره یې ستړې مشې وکړه اوله څنګ سره یې کښینسته.نازو دتیري ورځې ددرس پوښتنه ځني وکړه چې دتیره ورځ درس دې زده کړی؟خوپاڼې په نه زړه سرورته وښوراوی چې سم مې ندې زده شوی.

نازوورته وویل:

چې داسه ده نوهله ژرکوه چې اوس یې درسره تکرارکړم، چې زده دي شي که معلمه راغله نوحتماًپوښتنه درڅخه کوي.

پاڼې هم له خپلې بستې څخه کتاب راوایستی اوله نازوڅه یې دتیري ورځې درس وویل.وروسته بیا ددوي نګرانه معلمه راغله، لومړی یې حاضری واخیسته بیایې له شاګردانوڅخه کورنی کاروغوښتي ،ټولوپه نوبت سره خپلې کتابچې ورته راوړلې اومعلمې به ورته امضاکولې،دتیرې ورځې ددرس په اړه یې هم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولوشاګردانوڅخه پوښتنه کوله،خوچې کله نوبت پاټې ته راورسیدی،نوهغې معذورت څنی وغوښتی،چې نن مي نه درس زده کړي اونه مي کورنی کارکړي صبابه هم کورنی کاروکړم اودرس به هم زده کړم.

معلمې یې چې کله ددې حالت والیدی بله پوښتنه یې څني ونکړه اوپه نوی درس یې شروع وکړه. معلمې یې نازوته وویل چې له پاټې سره کوښښ کوه،څکه داخود درس په زده کولونه پوهیږی.بیایې پاټې ته وویل چې ته به هره ورځ شل شل مخه نوی درس لیکې.پاټې هم ورسره ومنله چې حتماَبه بیادرس هم زده کوي اوکورنی کاربه هم لیکې.

بس شپې دي اوورځې دي تیریږې ترڅوچې پاټه له درس ویلوسره یوڅه بلده شوه،یوخودنازوهمکاری په پسې وه اوبل خپله داهم ددرس په طریقه وپوهیده ترڅوچې

چهارنیماازموینه راورسیدل،اوله ټولوشاګردانو څخه یې ازموینې واخیستې.کله چې ازموینې خلاصې شوې،ددوي په صنف کې پنځه وشت تنه زده کوونکې وې،ددوي نتیجې هم معلومې شوې اول نمره یې نازووه اتلیسمه نمره پاټه شوې وه،که څه چې پاټه پدې لاهم نه پوهیده چې دابیاڅه معنالري. ایااول نمره ښه وي که اتلیسمه.خوپه هغه نازو وپوهیوله چې اول نمره هغه زده کوونکې ته ویل کیږي چې په ټول صنف کې لایقه وی اوترټولویې نمرې زیاتې وي.

وروسته تردې بیادګرمې په خاطرپنځلس ورځې رخصتۍ وې،ټول شاګردان یې دپنځلسوورځولپاره رخصت کړل،پاټه په دي ډیره خفه وه چې داپنځلس ورځې رخصتې به څنګه ورباندي تیریږي،څکه چې ددې له ښوونځۍ سره ډیره مینه پیداشوي وه،یوه ورځ رخصته هم پردې ډیره اوږدیدله ،داخولاپنځلس ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي.خونازوبه ورته داويل،چې پروانکوي ته بيازمونږ.کره راځه يابه زه ستاسوکره درځم،تيردرسونه به سره تکراروو،اوسات به مو سره تيروي.

پاڼې چې کله له نازوداخبره واوريده نونيږدي وچې له خوشحالي ځه يې زړه دريدلای وای،دستي يې ورته وويل:

دوارې به يودبل کورته سره ځو_دابه ډيرښه کاروشي،کنې پرمابه دارخصتۍ ټول درسونه هيرکړي و.سمه ده يوه ورځ به زه ستاسوکره درځم اويوه ورځ به بياته زمونږ.کره راځې.

نازوهم ورسره ومنله،يوه ورځ به نازوددوي کره ورتله اويوه ورځ به پاڼه دنازوکره تلله،ټولې درخصتې ورځې يې په درس ويلوتيرې کړې.کله چې درخصتۍ وخت پوره شواوبياله سره درسونه شروع شول،پاڼې ته نودانوي درسونه دومره اسانه شوي و چې هرڅومره به يې ورته وويل هغه به يې ترپخوا ښه زده کيدل،ترڅوچې کلنی ازموينې وخت رانيږدي شو

، اوټولوزده کوونکوورته تياری نيولی وه،کله چې ازموينې خلاصي شوې اود پارچوياطلاع ناموورځ وه،نوداځل بيانازواول نمره وه اوپاڼه اووم نمره شوې وه.

په دوهم کال چې کله ښوونځی‌شروع شو،نوکه به دڅهارنيماازموينه وه اوياکه به کلنی ازموينه وه،پاڼه به اول نمره اونازوبه دوهم نمره و.ټول شاګردان به ورته حيران تللي و، چې پاڼه وګوره اواول نمره ګۍ داخوډيره سره ليري ده. داهغه انجلۍ ده کوم چې موږټولووربانديپسخندواهي اواوس راشه.خوددې کوښښ اوزيارچې به يې سره پرتله کړ، نوبه ټولوبيرته داويل چې دانشي اول نمره نوبه ځوک اول نمره کيږي.ددې په رقم کوښښ خوهيچاهم نشوای کولای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه نودې په لړموده کې داول نمره ګۍ ځاي خپل کړ.

په همدي ترتيب سره پوره نهه کاله دښوونځی وخت تيرشو،چې پاڼه به دټول ښوونځی عمومی اول نمره وه اونازوبه دوهم نمره وه،ددوی ملګريتوب اوددوي لياقت په ټول ښوونځی کې يومثال ګرځيدلی ؤ.

دواړې به يوځای ګرځيدلې اودواړوبه يوځای درسونه ويل اودواړې به په يوه چوکۍ څنګ پرڅنګ سره کښينستلې.کله چې له نهم صنف څخه کاميابې شوې لسم صنف ته اودښوونځی وخت هم شروع شونوترهغه وخته خودرسونه ډيراسانه ول اوهرې معلمې کولاي شول چې دوي ته ښه درسونه وواييي دهرمضمون دا.خودلسم صنف رياضی ډيره سخته وه اوښځينه ښوونکو نشواى کولاي چې دوي ته نهم څخه پورته صنفوته درس ورکړي،نويونارينه ښوونکی چې په رياضی کې يې خاص شهرت درلوداوښه رياضی يې هم زده وه،ددوي په ښوونځی کې مقررشو.هغه ښوونکی معلم اصف نوميدی اوعمريې هم تقريباًپنځه ځلويښتوکلنوته رسيدی.هغه په لسم،يوولسم اودولسم صنف کې خپل مضامين درلودل،له اتم صنف څخه نيولی تردوولسم صنف پوري،درياضی اوهندسې مضامين دده په غاړه ؤ،اوداوه مضامين دومره سخت اودومره دلچسپ دي چې په هروخت کې په هرځاي کې له هرچاسره پوره مرسته کولاي شي.نورمضامين چې زده شي نوکيداي شي چې يووخت هيرشي،مګررياضی اوهندسه چې يواردچازده شوه بيادهغوو هيريدل مشکله وی. معلم اصف هم خپل درسونه شروع کړل خوکله چې يې په لسم صنف کې لومړی درس شروع کوي،نوله درس ويلوڅخه يې مخته يوسوال پرتخته واليکی، سوال داسي و، ١ ٢ او ٢ ١ چې يواودوه ډيردي اوکه دوه اويو.له هرشاګردڅخه يې پوښتنه کوله اوهرشاګرده به په نوبت تختۍ ته راتله چې دواړه سره مساوي دي،خوچې کله نوبت پاڼې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغی نوهغې سوال داسی حل کړ.یواودوه ډیردی تردوه اویو،ځکه چې یواودوه یووشت کیږی اودوه اویودوولس کیږی.

کله چې یې سوال حل کړ،نومعلم اصف خپله ورباندي چکچکې کړي چې اوس سوال حل شو،اوپانې ته یې افرین اوشاباسی ورکړاوددې لیاقت یې دستاینې وړوبلی.

وروسته تر سوال حل کولوېې شاګردانوته نوی درس شروع کړ.دده درسونه دومره په زړه پوري اودومره په جلاواسانه میتودیې زده کوونکوته تدریس کول چې هرزده کوونکی بې له کوم ستونزې ځه زده کول.له هرزده کوونکی سره یې جلاجلاکوښښ کوی،اوترهغه وخته یې یوزده کوونکی هم نه پریښودی چې زده کړي یې نه وای.

ټولوته به یې داهم ویل چې که مونه وزده زماځخه پوښتنه کولای شی ځکه په پوښتنه کولوکې عیب نه وي خوچې پوښتنه ونکړي هغه عیب دي ،کوم وخت چې چاته پوښتنه عیب ښکاره شي نوهغه وخت به هیڅوک یوشي هم زده نکړي.

وروسته تردرس ویلوېې شاګردانوته کورنی کارورکړ.

کله چې داورځ تیره شوه اوسهاربیادمعلم اصف دمضمون وخت په لسم صنف کې شروع شو،له شاګردانوېې دتیرې ورځې کورنی کاروغوښتی.هرې زده کوونکې به په خپل نوبت سره خپل کورنی کارورښکاره کوې،کله چې پانې ورته خپل کورنی کارښکاره کړ،نودمعلم اصف ډیرزیات خوښ شو،یوخویې خط ډیرښایسته اوپه ترتیب واوبل په ځوقسمه رنګونه یې کې کارکړي و.

چې داهم یوازی اویوازی دلایقه شاګردانونښه ده اولایقه شاګردان داکولاي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپاڼې لیاقت معلم اصف ته ډیرزیات خوندورکاوی،ځکه چې لایقه شاګردهمیشه ترنوروشاګردانوپرزده کوونکوډیرزیات ګران وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

دپاڼې لیاقت ښوونکی اصف ته ډیرزیات خوندورکاوی، اومینه یې په زړه کې ورسره پیداشوه.اودامینه ورځ په ورځ زیاتیده،خوداورته نامناسبه ښکاریده چې زه دي له یوداسي چاسره مینه ولرم،چې هغه زمایوه زده کوونکې وی،هغه خوماته داولادپه شان ښکاري،اوښوونکی هم دموراوپلارپه شان حق لري، نوزه بیاولي داحق ته توهین وکړم؟اوولي خپل مقام ته په سپکه سترګه وګورم؟ که چیري ماداسي وکړل،بیاخوبه ددنیاټول ښوونکي دخلکوترنظربدورځي اوپه بده ستر ګه به ورته ګوري.

دادښوونکی څومره سپیڅلی اوله مسولیت څخه ډکه وظیفه ده،خو....

بل به یې خپل عمر ته پام شو چې ماوګوره اوداکوچنۍ معصومه انجلۍ.نوځکه یې خپل دمینې اظهارنشوورته کولای.دادعابه یې همیشه ورته کوله چې خدای(ج) دي همیشه کامیابه اوخوشحاله لري.له ځان سره یې داټنیګه وعده وکړه چې خپله مینه به په زړه کې پټه ساتي،حتاپاڼه به لاهم لدې رازه هیڅکله نه خبروی.

دپاڼه اونازولیاقت په صنف کې هیڅاته چنداني خوندنه ورکوې،خودوي به باندي پوهیدلې اوخپله ملګرې به یې نوره هم پسي ټینګه کړه،هیڅکله په خپل منځ کې نه سره خفه کیدلې.نه به یوازي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونځۍ ته راتللې ،نه به هم له ښوونځۍ څه کورته یوازي تللې،یوبل دیوازیتوب طاقت یې هم نه درلود.

یوه ورځ دچهارشنبې ورځ وه، دوي نیمی بجې دماپښین کیدونکی وې،دښوونځۍټول زده کوونکې رخصت شوي ول اوخپلوکورته تلل،پاڼه اونازوهم سره ملگرې وې اوخپلوکوروته تللې،له بده مرغه چې په نیمه لاره کې یوټونس ډوله موټرچې ټولي شیشې(اینې) یې توري وې،دوي ته په لاره کې ودریدل مول وهلي سړي خواره لکه وږې لیوان ځني راکښته شول اوهمدادوي بې گناه اوبې ازاره انجوني یې لکه دغرونوناخبره هوسیاني په یوه حمله په موټرکې واچولې،دوي چې هرڅه نارې غلبلې وکړلې هیچایې ږغ وانه وریدي.دموټردروازې یې پسي بندي کړي اوپه خپله مخه ولاړل،په موټرکې یې یوقسم دنښه کیدودواورسره و،هغه یې په دسمال کې واچول اوددوي په پزویې ونیول، دوي دواړې بې حاله شوي اوپه موټرکې بیسده پرتې وې.موټرنوله هغه ځایه تقریباًپنځه کیلومتره لیری یو ځای ته ولاړی. هلته یې په یوخالی کورکې چې هیڅوک نه کې اوسیدل په دغودواړومظلومو، بې گناه اوبیچاره ووډیرپه بی رحمۍ،په ډیرظلم اوپه ډیر وحشتانه انداز دخپلوخواهیشاتودپوره کولولپاره وحشی تیری وکړ.نه یې ددوي معصومیت، مظلومیت،انسانیت،شخصیت ته وکتل،نه یې ددوي راتلونکی ژوندته چې بیابه یې په څه رقم سره دوي ژوندوکولاي شي.لکه وږي اووحشی لیوان چې ښکارته تږې وی، له دوي دواړوسره یې دغسي په وحشتانه ډول پردوي دغوڅلورځناوروتیری وکړاوپه خپله مخه ولاړل.دوي دواړې غریبانې لکه بسمل،اوبې وسه بې وزره مرغې چې پرمځکه باندي پرتې وي،ترهغوپوري بی سده وې ترڅوچې شفاخانې ته یووړل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې.هلته په شفاخانه کې پرسدراغلې،شاه وخواورباندي ډاکټران راګرځيدلي و،دواړې ځنګ پرځنګ لکه هميشه به

چې په خوښيوکې غاړه غړۍ وې نن دوحشت اوبربريت په همدې توره سيلۍ کښې غاړې غړۍ دروغتون په چپرکټانوکې پرتې وې،اوهغه وحشيانوکوم چې پردوې يې ظلم،ستم کړې وي ورياديدل.

دواړو به په هغه حال کې يوبل ته سره کتل اودومره به يې سره وژړل چې کراريدل يې نه درلودل،ډاکټرانوبه چې هرڅه کوښښ وکړخوددوي ژړاپه هيڅ ډول کرارنه درلود،هيچا هم داسي ژړانشواى تحملولاي، ترهغوچې دشفاخانى ډاکټران هم ورسره په ژړاشول.که څه هم چې دډاکټرانو غټ زړونه وي اودغټوزړوخاوندان وي،خوددوي دواړې حال به چې هر ډاکټروالیدی حتماً يې ورسره ژړل،خودهغه سربيره به يې هم په داژړاکې ورته ويل چې لږڅه حوصله وکړي،چې موږموله موضوع خبر شواوتاسوته خپل خپلوان راخبر کړو.

خودواړوبه ورته داوويل:

چې مونږهيڅ خپلوان نه لرو،مونږته نورژوندهيڅ ارزښت نه لري،که له مونږ سره تاسي ښه کوي،نومونږلدې ژونده خلاصې کړې،تاسي ولی مونږژغورې؟ مونږته نورژوندبې معنٰی دي اوبې معنٰی ژوندنوڅه ژوندوي.

ډاکټرانو ورته وويل:

چې تاسوخوپه دي کارکولوکې نه ياست ملامتې،داخوستاسوسره ظلم شوي دی،او نه تاسوپه خپله خوښه داکارکړي دی.داده انسانيته ليری خبره ده اونه دادانسانيت اوشرافت کاردی، اونه دادهغووليپاره يونيک نامی ده.دايوجرم دی چې هغوولە تاسوسره کړي دی،دادبزدلانوکاردی،داد بی رحمواوبی غريتانوکاردی،دادکافرانوکاردی،دوي دانسانيت له چوکاټه ليری

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارکړي دي،داانسانان نه بلکې حیوانان دي،داظالمان دي.دوي ته به خدای(ج) حتماً سزاورکوي.اوس ستاسوپه ویرکولوهیڅ نده جوړه، تاسي بایدهغوظالمانوته سزاورکړي،هغوي پیداکیږي اوپه سزابه رسیږي،تاسي ناامیده کیږي مه،کیدای شي داستاسوددښمنانوکاروي،چې په دارقم یې تاسوته بدنامی دراړوله، تاسوبایدلدې حالاتوسره مقابله وکړي،که نن له تاسوسره داکاروشو،صبابیاله نورو سره کیږی،اوتاسي بایدنورې انجوني لدې وحشي عمله وژغوري.اوس راته خپل دکورپتې راکړي چې مونږموخپله کورنۍ دربانديي خبره کړو،هغوي به څومره درباندي پریشانه وي،چې تاسوچیري یاست اوچیري تللې یاست.

کله چې ډاکټرانوورته داخبرې وکړي نودوي هم ورته خپل دپلارنومونه اودخپلوکوروپته ورته ورکړه.

ډاکټرانوهم په هغوي پسي امبولانس واستوي اودپاڼې،نازوموراوپلارېې ورته راوستل،هغوي یې په دي موضوع خبرکړل.کله چې یې پاڼې اونازوپه هغه حالت والیدل،بیا ورباندي تازه غم اوویرکې ګډشو،څه مریضان چې په شفاخانه کې وهغوي هم ورسره ژړله،ډیره سخته ورځ و خدای(ج) دي دغسی ورځ په هیچانه راولی،څومره زورغواړي څومره تکلیف اوڅومره دردلری.په دایوه شپه کې ټول ښارکه حکومت وکه رایت،که خبریالان وکه ښاریان،ددوي له موضوع څخه خبرشول،اوداکیسه په ټول ښارکې وپاښل شوه ،په تیلویزونوکې،راډیوګانواوپه انټرنیت کې لا داموضوع نشراوخپره شوه. وروسته بیاورته امیرجینائی راغی له پاڼې اونازوسره یې ولیدل اوهغوي ته یې وویل:

موږته ربښتیاوواياست ،مونږبه هغه مجرمین حتماً پیداکوواوپه سزابه یې رسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڼې اونازودواړودژړاپه حالت کې ورته ویله چې هغوي حتماًپه سزاورسوي، په داریې وځیږوي اوترهغوویې له داره مه راکښته کوي ترڅوچې مرغانویې دسر غوښې نه وي خوړلي،یایې ژوندی په ځمکه ښخ کړي،ترڅوله هغووسره هم دغسي غیری انسانی عمل وشي،لکه زمونږسره چې یې کړي دي.

امرجینائی ورته وویل:

دغسي به کیږي،دغسي سزاورته ورکوو،داسي سزاورته ورکووچې نورلاهم دي عمل ته بیاخالي سترګې ورواړوي،اوترهغه چې موږه نه وي باندي سوړشوي نه یې پریږدم،دایې زماستاسوسره ټینګه وعده.اوس نوماته خپله کیسه سر ترپایه وکړئ،چې څنګه اوپه کوم ځاي باندي داپیښه وشوه؟

پاڼې ورته وویل:

دوي نیمی بجې به وې مونږله مکتبه څه رارخصت شوواوتللوخپلوکوروته، په نیمایی لاره کې مونږته موټرودروی اومونږیې په زورموټرته ورپورته کړلو.

_ څونفره وه اوتاسوخوبه کوم یونه وي کې پیژندلي ؟

پاڼه:

څلورنفره وه،مخان یې پټ کړي و،یوموهم ندي پیژندلی.

_ تاسوته خوبه مخکې کوم چاګواښ نه وکړئ؟

نازو:

یاهیچاهم مونږته ګواښ ندی کړي،اونه مونږله کوم چاسره بدلرو.

_ کچیري موږتاسوته مجرمین راولو،تاسي به هغه خپل مجرمین و پیژنئ؟

نازو : یانه یې شوپیژندلی،ځکه ټولو مخان پټ کړي و.

_ تاسي پرکوم چاشک لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڼه:

داسي څوک خونسته چې موږ شک ورباندي وکړو.

نازو:

موږ هم له چاسره بدندي کړي،چې اوس شک پرو کړو.

_ داخبرې کوم چې مونږاوتاسوسره وکړي هيڅوک مه باندي خبروی اومه ورته واياست چې مونږداسي خبرې ورته وکړي، کچېري چاپوښتنه درڅخه کوله،نوتاسي ورته داوايي چې زمونږحالت يې کتي اوپوښتنه يې راباندي کول،دامه ورته وايي چې مونږدمجرمينو په لټه کې يو.اوس مونږله تاسوڅخه ځو،ترڅومومجرمين نه وي پيداکړي،يوه سانيه کرارنه کښينو.

پاڼې اونازودواړووعده ورکړه چې هيچاته به څه نه وايي،موږپه تاسوباورلروچې تاسوکوم څه موږته وويل هغسي هم کولاي شي

امر جينائی هم وعده ورکړه چې ستاسوپه زړه کاربه وشي.دوي يې له اطاقه راووتل اوپه خپل کارپسي شول.

پاڼه اونازودوي ورځي لاپه شفاخانه کې پاته شوې په دريمه ورځ يې خپلوکوروته بوتلې.يوه مياشت پوره تيره شوه چې نه پاڼه اونه نازويودبل له حاله خبري وې،نه ښوونځی ته تللې.څومره مينه اومحبت چې يې له ښوونځی‌اودرس ويلوسره وله بل هيڅ شي سرېې نه درلوده،اوخپل ملګريتوب يې هم دتل لپاره پريښودي.موراوپلاربه يې دواړوته ډيري زارې کولې چې داسي مه کوي،درسونه موښه زده کيږي، له درسوسره مينه لري،له ځان سره ظلم مه کوي. خودوي بيانه غوښتل چې يادي ښوونځی‌ته ولاړې شي،اويادي خپله دوستی نوره هم سره وساتي،ددواړودافکروچې نورنوله هرڅه څه مزه تللې ده،اوهيڅ شي ورته ارزښت نلري،حتاملګريتوب اوژوندلاهم. دابه يې ويل چې که مونږيودبله سره ووينو نوخپل تيرشوي حالت به بيرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راژوندی شي،نورمونږنه غواړوچې تیره واقع موږه ذهین کې لاراوګرځي.کچیري ښوونځی ته ولاړلوبیاخونوتولي انجوني مونږته دشک په سترګه ګوري،که دشک په سترګه راته ونه ګوري دغسي راته وګوري،مونږبه په خپلوزړوکې داګمان کووچې دوي به زمونږدراپیښې شوي واقعې په اړه فکرکوي،اوکه دغسي نه وي نویوه ورځ نه یوه ورځ خو پیغورراکوي. دهمصنفیانوپخوالاښه نه ایسدو،کله به چې مونږاول اودوهم نمره و.اوس خوکه نورڅه نه و،نوپه نیمه کې به موږوه کوي چې تاسولاژوندته زړه ښه کړي دي،نوترډي چې هره ورځ په ښوونځی کې وژل کیږو،اوزیریږو.نوترهغه خوداښه ده چې په خپل کورناستې یو،ځوک خوبه څه نه راته وایي،له پیغوره به خلاص یو.ژوندخوموبه له هغه هم تباه اوبربادشو،ښوونځی دي هم راڅه پاته وي،ارمانونه مودي هم نیمګړي پاته وي .

ددوي کورنۍ به چې هرڅه ورته وویل چې هیڅوک دغسي ګمان نه کوي لکه تاسي چې یې کوي.ولی له ذهینه هغه واقع نه باسي،یوازي خوتاسي نه یاست په غم اخته شوي،موږهم په غم درشریک یو،څومره چې تاسي زیریږي ،موږله تاسوډیرزیریږو،نوڅه وکړوستاسوخوشحالي زمونږخوشحالي ده،اوستاسو غم زمونږغم دي،که خوشحاله واست مونږهم خوشحاله یو،اوکه غمګین واست مونږهم درسره غمګین یو،داچې تاسي مونږداسي نااامیده کوي نوپردي خومویبخي نااامیده کوي، زموږ له خاطره،دغسي مه کوې،نااامیدي مه کوي اوژوندپه نااامیدي سره نه تیریږي.

خودوي به چې هرڅه کول پرپاڼې اونازویې هیڅ تاثیرنکوې.اخیر یې کورنۍ هم پسي پریښودل.خوخوابه یې وربانديي بده وه،اوترهرچادګل محمدکاکوډیره خواباندي بده وه.یوخوغریبي په اورکباب کړي و،بل دلور په غم به دومره غمګین و،چې پرځمکه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيڅ طاقت نه کيدی،اودغم دزغملو توان يې هم نه درلود،غم اوبې وزلي چې سره يوځاي شي نوبه څه نه سره کوي.

يوه ورځ لس بجې وې چې دپاڼې دکوردروازه وټکيدل،موريې دروازې ته ورغله ،اوپوښتنه يې ځنې وکړه چې څوک يې اوڅه وايي؟

ددروازې له خواورته راږغ شول،چې زه يمه مورجانې!زمانوم اصف دی،اوزه دپاڼې ښوونکی يم،اياکيدای شي چې يوارله پاڼې سره له نيږدې وګورم.

دپاڼې مورورته وويل:

ولی نه،خدای (ج) دي هرکله راوله،راځه کورته.زموږخبرې خوپرهغې هيڅ تاثيرنه کوي،خوکه تايوڅه نصيحت ورته وکړ.

ښوونکی اصف ورته وويل:

بيغمه اوسه مورجانې!زه راغلی دهمدي لپاره يم،انشاءالله راضی به يې کړم.

ګلالې ورته وويل:

کاشکي دغسي وشي.راځه زويه.

ښوونکی اصف هم کورته ورسره ورغلی،پرپاڼې يې ږغ وکړچې پاڼې! ته چيري يې، اوس خوهيڅ ښوونځی ته نه راځې.خوپاڼه په خپل فکرکې غرقه وه بيخي يې ورپام شوي ندي.ښوونکی اصف چې کله دپاڼې حالت واليدي،په سترګويې توره شپه شوه اوسترګې يې له اوښکوډکې شوې،خوبيايې هم په هغه حالت کې پرپاڼې ږغ کړل.چې پاڼې!په څه چورت کې غرقه يې.څنګه يې؟

پاڼې چې کله دښوونکی اصف له خولې څه خپل نوم واوريدي،نوورته پام يې شو،چې ښوونکی اصف يې کورته راغلی دی اوددې له څنګ سره ولاړدی.نووارخطاشوه اوچټکه ورولاړه شوه،چې ښوونکی صاحب!ته _ ته اوزموږکور،په لاس يې سترې ميسې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکی اصف ورته وویل:

زه خوښه یم.اوداتاڅه لیونتوب ته لاس اچولی دی.ولي ښوونځۍ ته نه راځې؟ خپل ځان ته دي پام دی،کوم حالت ته رسیدلې یې.ولي دغسي کوي؟له ځان سره ظلم کوي؟له موراوپلارسره ظلم کوي؟.ایا دهغوي خیال هم درسره شته؟که هغه دي له پښولاندي کړي دي، څومره چې ته ځان خفه کوي،له تاهغوي یوپه سله خفه کیږي اوخفه وي.دغسي مه کوه.دهغوي په فکرکې واوسه.اوهغوي خفګان کولوته مه پریږده.

کله چې ښوونکی اصف ورته داخبرې وکړې،پاڼې غریبي ورته وژړل اوورته وویل:

نورنوښوونځۍماته څه ګټه لري؟په ماکې نورڅه پاته دي؟زه نورخپل پاته ژوندیوازې پرکورتیروم.په کوموستر ګوخپلوهمصنفیانوته وګورم،دومره جرئت زه نورنه لرم.ماوروسته لدې همدالاره دژونددتیرولولپاره غوره کړي ده.

ښوونکی اصف ورته وویل:

ولي ګټه نه درته کوي ،داټول شاګردان چې ښوونځۍوائي دالکه چې خپل وخت ضایع کوي،یایې کورسات نه تیریږي،لیونتوب مه کوه،اومه مایوسه کیږي،په دي کې ستاڅه ګناه ده چې ته وایې زه څنګه خپلوهمصنفیانوته وګورم.ټول پدي موضوع خبردي.داکارخوتاپه خپله خوښه ندی کړی،نوبیاولي داسي کوي؟ ته څنګه ویلاي شي چې زه نورژوندیوازې په همدي ډول تیروم، داچې ته اوس لادتنهاژوندتیرولوغوښتنه کوی،چې عمر دي شلوکالوته ندي رسیدلی،دخپل موراوپلارلپاره داوږوبارجوړه شوې،خپل موراوپلارته احتاجه یې.اوس به تادخپل موراوپلارخدمت کوي.اوهغه هم اوس خیرموراو پلار به هرڅه درسره وکړي هرخدمت به دي وکړه،هرنازبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ومني،خوخدای(ج) مکړه چې کله دوي له دنیاڅه سترګې پټې کړي بیابه نو څه کوي؟ ایاپه یوازي سره ژوند تیریږي؟اوکه یې ته تیرولاي شي؟ ایایوڅوک به دغسي پرتیاره ستاخدمت همیشه وکولاي شي؟ لیونتوب مکوه داخیالونه په ذهن کې مه درګرځوه، داټول بیځایه اوعبث فکرونه له ذهنه وباسه.دخپل راتلوونکی ژوندپه فکرکې سه، خپله اینده په خپله جوړه کړه.ته خواوس هرڅه دخپل راتلوونکی لپاره کولای شي،ته دي پلارله دې غریبۍ څخه خلاص کړه،ترڅوبه دخلکومزدوري کوي،ترڅوبه دغسي خواراوزاروي،ترڅوبه ستاغم دده پراوړووي،دوي خوچې تاخوشحاله وینې دوي هم خوشحاله کیږي،اوچې ته داسي....

تاته ډیرښایسته چانسونه برابریږی،ستاپه عمراوستاپه لیاقت اواستعدادمی زړه نه کیږی،چې هرڅه په نیمی کې درڅه پاته شي.ولي خپل ځان ته سزاورکوي،ولي خپلې موراوپلارته سزاورکوي،داسي مه کوه لکه ته چې یې کوي،سرله صباڅه خپل ښوونځی ته راځه،ماپه حاضری کې تراوسه نه ته اونه مي نازو غیرحاضرې کړې .تاسوزمونږدښوونځی افتخارياست،په تاسوخومونږټول ښوونکي نازیدو،ستاسوپه استعدادمونږنازیږواوافتخارپه کووچې موږدومره دښه استعدادزده کوونکي لرو،موږروزلي دي زموږتربیه یې اخیستې ده.ماداډیرې ورځي تاسوته کتل چې تاسوبه راشي،خونه ته راغلې اونه هم نازو.اخیرته زه خپله مجبوره شوم اوداتکلیف مي وکړ، په خنداکې یې ورته وویل،داهم ستاسوله وجې څه،داتکلیف نوتاسوراته راکړ،ولي به زه درپسي راتلم.

دپاڼې نوپه دروهفتوکې دغه لومړنۍ موسکاوه،چې ښوونکی اصف ته یې دده په خبره وخندل،ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکی صاحب محترم! ستاله راتگه څخه خویوه دنیامننه کوم،ماته دي فخر راوبخښي اوزه ددې لایقه هم نه یم چې ته په ماپسي زماکورته راشی، ستامقام خوتراسمانه پوري رسیدلی دی،خوزه به اوس په ښوونځۍ کې په کوموسترگوخپلوهمصنفیانوته گورم،په کوموسترگومدیرې صاحبې ته گورم،ماته نور درس هیڅ گټه نلري.

ښوونکی اصف ته چې یې داځل بیاداسي وویل نولږ،په عصیبانی ډول یې ورته وویل:

داخبرې چې دي وکړي داستاسره هیڅ نه ښائي چې تاکړي وای.ماته څه بیاهیچاته دغسي مه وایه،زمازړه دي په دي ویلورازخمی کړ،په واقعیت سره خفه دي کړم.ولي به ته خپلوهمصنفیانوته نه گوري.ولي به هغوي تاته ددي په اړه څه وایي.داسي هیڅوک به نشي پیداچې تاته پیغوردرکړي،زه درسره ولاړیم،اوکه یوه ورځ هم چاددي موضوع په اړه کې څه وویل زه دي مئسول یم،اوپه هغه ورځ ماترگریوان ونیسه چې تاماته زموږ،په کورکې څنگه وعده راکړي وه،ویل لاڅه کوي که چااشاره لاهم درته وکړه.نورنوته څه وائې.زه دی ضمواریم اوزه درسره ولاړیم.

پاڼې به چې هره بهانه ورته جوړه کړه نوښوونکی اصف به ورته داسي لاره برابره کړه چې هیڅ یې نشوورسره کولای،ترڅوچې ښوونځۍ تللوته مجبوره شوه،اودایې راضی کړه.اوله ښوونکی اصف سره یې ټینگه وعده وکړه،چې سرله صبابه ښوونځۍ ته ځي،کله چې ښوونکی اصف له پاڼې له وعدې له ورکولوڅه ډاډمن شونودپاڼې له کوره راووتی اودنازوکورته ورغی .

نازویې هم خوشحاله اوراضی کړه،چې دابه هم سرله صباڅه ښوونځۍ ته ځي. دنازوله کوره بیرته راغی ښوونځۍ ته،داخبره یې دمدیرې سره گډه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مديرې دښوونکی اصف لدي اقدام څخه ډيره خوشحاله شوه،چې واقعاً داسي کار يې کړي چې دستايلووړدی.نوپه دواړوسره يې دصباورځی لپاره پلان جوړ کړ،چې صبابه ټول ښوونځی ددوي تر راتگه پوري رخصت وي،اوددوي لپاره به دتعظيم په ډول ولاړوي،چې دوي بياداسي خيال ونکړي چې زموږپروانلري،اوبل به دوي هم درس ويلوته تشويق شي،چې زموږڅومره خيال ساتي اوټول راباندي خوابدي دي.نوترصباپوري ددوي په طمع شول.

کله چې سهارشواووخت اووه نيمې بجې شوي.چې پاڼه اونازو ښوونځی‌ته راغلې. اوددوي په مخ کې مديره،ښوونکی اصف اوټول ښوونکي اوزده کوونکي دوي ته په تعظيم ولاړدي،اوپه ډيره خوشحالي سره ددوي راتگ ته ښه راغلاست وويل،اودوي يې ترخپله صنفه په بدرگه بوتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

امیرجنایی چې کله له شفاخانې څخه راووتی،دپانې اونازوپه مجرمینو پسې یې ورځې اوشپې صبا کولاې ،چې کله به یې ونیسم اوکله به یې دقانون منګولوته وسپارم،خوتریوې میاشتی پوره یې چې هرڅه وکړل پیدایې نکړل.

یوه ورځ په عمومی بازارکې ډیره طلا(سره زر) له دوکانوڅخه په شپه کې غلاشوي ول،دوکاندارانو خپل عرض قومنداني ته وړاندي کړ.په قومنداني کې هم دوي ته وعدې ورکړل شوې،چې موږهم په دې کارکې جدي یو،اوخپل کوښښ کوو.ستاسوورک شوي مالونه به بیرته پیداکوو،خوچې تاسي یوڅه صبراوحوصله وکړي.

دوکاندارانوهم ورسره ومنله اوددوي تراحواله پوري معطل شول.

یوه هفته لانه وتیره شوې چې دوه نفره غله،چې دصرافانوله دوکانوڅخه یې غلاوي کولي ونیول شول.

دغلو داسي خوي دي،چې یوځای غلاوکړي بل ځای به یې هم کوي،په لږڅه قناعت نه کوي حرص وي،اوحریص کوي چې نورهم بایدډیرڅه ترلاسه کړم.

دوي دصرافانوسرای ته وراوښتي و،اویوډول کلیګانې ورسره وې،چې هررقم قلفان باندي خلاصیدل.دوي چې کله ددوکانوقلفونه خلاصول ،پولیس مخکې لاورته په کمین کې و،اووورباندي برغ یې کړل،چې شورونخوري لاسونه موپورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوعجیبه خولاداده څومره چې غل دلاوره وی،دغومره بیابې زړه هم وی، دپولیسودبرغ په اوریدوسره یې دبدن غړې وتښتیدل اولاسونه یې پورته کړل. پولیسویې هم په لاسوکې کړی(والچک )واچول اوقومندانۍ ته یې راوستل .

هلته یې امرجینائی ته ورتسلیم کړل.امرجینائی به نوڅومره ورته خواشنی و.چې یوځای دوکاندارانوپه عذاب کړی و،اوورته ویل به یې چې، داڅه رقم وظیفه تاسي اجراکوي؟ستاسود شتون سربیره هم په دي ښارکې غلاوي کیږي. معاش خوري اوصحی کارنه کوي؟بل ځای دپاڼې اونازوکیسي زړه ورکې خوړلی و،چې ولي یې مجرمین په لاس نه راځي.کله چې داغله په لاس ورغلل ډیرخوشحاله و،ځکه ده له خدایه (ج) څخه دغسي یوه موقع غوښتل. نویې غلوته وویل :

زه ډیرخواشنی اوپریشانه یم،تاسوراته بې زماله څه کولوچې درسره وي کړم،خپله اقرارراته وکړئ،چې یامووهم اویا درکومه بله سزادرکړم،تردي به داښه وي چې خپله راته ووایاست.هرڅه چې موکړي دي.څومره غلاوي ،چیري،اوله چاسره،اوستاسوسره نورڅوک ملګري دي،داټول بیان راته وکړئ. اوداتاسي له ماڅه واوري چې ترهغه خوموزه په خدای(ج) قسم که موپریږدم ترڅوچې واقعیت راته ونه وایاست.نورنوخپله سرخلاص کړئ.

غلوهم فکروکړچې داخورښتیاده چې که ورته ونه وایونوبیامودوهلوپه زوراقرارراباندي کوي.اوبل له امرجینائی څخه دومره بیریدل چې زړونه یې ځني کښلي و.اودایې دځانولپاره بهتره وبلل چې بې له سزاهرڅه ورته رښتیارښتیاووایي.نویې امرجینایی ته داسي وویل:

مونږددې ښارغله یو.تیره هفته موهم دزرګرانوله دوکانونوڅخه ډیره طلاغلاکړه.امرجینایې چې داواوریدل نوله ډیري خوشحالۍ څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کالوکې نه ځاييدی،چې ځه ددوکاندارانوله شره اوخبروڅخه خو خلاص شوم.بيادغلوخبروته غوږشو.

غلوورته ويل مونږډيري نوري غلاوي هم کړي.ټولي غلاوي کوم چې دوي کړي وې، ګوته په ګوته يې وروښودي.اوددې سربيره يې يوه غلالاورته ويل چې مونږپه نوروجينايې پيښوکې هم لاس لرو.کله چې يوه غله داخبره کوله نودابل ملګری غل يې ورته خواشينی شوچې نورږغ مه لره چپ شه،که لالاخبرشو، بې مرګه به موپرنږدي.په دغه وخت کې امرجينايی ددوي خبروته متوجی واونورهم خوشحاله شو،چې دوي په جينائی پيښوکې هم لاس لري،اوډومره ښه شو چې له جرمونويې خبرشوم،بيايې ورته بياوويل:

کوم کوم جينايی پيښوکې لاس لري؟هغه هم راته بيان کړئ؟

دايوه غله چې کله دلالانوم واوريدی،په بدن کې يې لرزه پيداشوه،اوپه خوله کې بندبند کيدی اوورته وويل:

زه وارخطاشوم،اوله وارخطايې څه راڅخه وويل شول.مونږپه جينايې پيښوکې هيڅ لاس نه لرو،فقط غلاوي کوو.

خواميرجينايی پسي مجبوره کړل چې تاخپله يادونه وکړه،اوس خودوسيه درته برابره شوه،اوماهم ستاله خولې واوريدل.هغه هم راته ووايه .اوبل دالالاموڅوک دی،هغه څه درسره کړي دي(ژرشي ماته دردسرمه جوړوي) کيدای شي اصلی مجرم هغه وی.

غله نواوس هغه دچاخبره دپاڼ اوپړانګ ترميان شول.خواوس داميرجينايی په قبضه کې ول.نودلالاوام يې په زړه کې دغومره نه و لکه داميرجينايی دا،نويې ورته وويل:

چې موږڅه موده مخکې انجوني اختطاف کولي،اوله هغه سره مو....

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر جینائی چې کله داختطاف لفظ ځني واوریدی،دستي یې دپاڼې اونازو نښاني ورته وویلي،چې دښوونځی دوی انجوني وې،هغوي خوبه ستاسوښکارنه وي شوې؟

غله ورته وویل:

هوهغه انجوني هم زموږښکارشوي وې. موږته چې هره یوه په لاس راتله،نودې ته مونه کتل چې دادچااودکم ځای انجلۍ ده. چیري چې به راته پیداشوه،هغه به مواختطاف کول اوخپل لالاته به موور تسلم کړه.

امیرجینایی ورته وویل:

چې دښوونځی پرانجونوخوڅلورنفروتیری کړي و.تاسي هم پکښې واست؟اوهغه دوه نورڅوک دي؟

غلوورته وویل:

دوه موږو،اویوموبل ملګری و،چې تیره هفته یې موټرټکرکړاومړشو. اوڅلورم نفرموږنه پیژنوچې هغه به څوک و.دوي ځکه داڅلورم نفرنه ورښودی چې هغه ددوي لالاو.له هغه څه دومره بیریدل چې نوم یې لاهم په خوله نشوای ورته راوړلای.ځکه دهغه له ښودلوڅخه پښیمانه شول.خوامیرجینایی بیاهم پسي پرنیښودل چې څنګه درسره ملګری واوتاسي یې نه پیژنی.هرڅوک چې دی راویښیه.

غله ورته وویل:

چې هغه دومره زورور،ظالم،اودسخت زړه خاونددی،کچیري پدي خبرشوچې موږهغه تاته ښودلي دی،نوهغه به موژوندي پرنږدي.اقرارمودرته وکړ،هره سزاچې وي موږته یې راکړه اوموږهره سزاپرځان قبلوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوامیرجینایی ورته ویل چې کیدای شي چې تاسي بې ګناه واوسي.اوتاسي هغه داجرم ته تشویق کړي یاست.اصلی مجرم ستاسولالادی،هغه راوښيئ نوربه هم لدې جرم کولوڅخه خلاص شي.که تاسوته سزادرکړل شي،نوهغه خوصبابیاجرم کوي،تاسي دي نه یاست ورسره هغه بیانورملګري پیداکوي. کچیري تاسي هغه ماته راوښودی نوزه ستاسوسره ډېرمرسته کوم.اوهیڅ تکلیف به نه دروررسیږي اونه به څوک درباندي خبرکړم.بیرته موایله کوم.دابیازماستاسوسره وعده ده.

غله یې مجبوره کړل چې خپل مشرلالاوروپیژني.نویې دخپل لالانوم ورته واخیستی چې مرجان نومیږی اوزموږدټولولالادی.اوټول ورته لالاوایو.اودوکیل صاحب سیف الله زوی دی.

امیرجینایی ته چې کله غلودخپل مشرنوم وښودی.زړه ته یې نه لویدل هیڅ باوریې نشوای باندي کولای.اوداګمان یې وکړ چې داغله دڅان دخلاصیدو لپاره دادرواغ راته وایي.نویې غلوته وویل:

تاسوچې کوم شخص  ماته راوښودی،داخوبیخی زمازړه ته نه لویږی،چې هغه به داسي فاسدکارونه کوي.هغه خویومنل شوي شخصیت دی.کچیری داخبره درواغ شول اوهغه بی ګناه و،نوبیا؟ تاسوپوهیږي چې څه به درسره وشي؟

غلوورته وویل:

کچیری یوه خبره هم زموږداقراره درواغ وه.نوربیاته پوهیږي اوکاردی.هرڅه چې راسره کوي بیاستااختیاردی.

امیرجینایی حیران و. زړه نازړه اومجبوره هم وچې مرجان که مجرم وکه نه وبایدراوستلی یې وای.پرحکومت دامثال تیرشوي دي چې حکومت غوږونه لري ،سترګې نه لري.داسي کاریې وی چې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروړپيژني،نه خپل پيژني،نه دوست اونه هم کوم ملګری. سراوکاريې له مجرمه سره وي.

کله چې يواطلاع په لاس راوړي.شپه وي که ورځ دستي اقدام کوي،په کارکې يې شپه اوورځ نشته. دستي يې خپلوعسکروته امروکړ،چې دوکيل سيف الله زوی مرجان لاس تړلی راولئ.عسکرويې هم مرجان په يوساعت کې،چې لاسونه يې ترشاه په کړی(والچک) تړلي و،داميرجينايي مخته ودروی.

مرجان چې کله اميرجينايي واليدی نوورته وويل:

اميرصاحب!اياله هرچاسره دغسي عمل کيږي لکه زماسره چې نن وشو؟

اياددوي دغه انسانيت وزماسره؟

اميرجينايي ورته وويل:

ډير وخت داسي پيښيږي.اوډيرداسي څوک شته چې دانسانيت کلمه نه پيژني ،اوهرچاته دانسانيت کلمه وربښي،خوخپله يې ترپښولاندي کوي.دانسانيت لاره بدله کړي اودحيوانت لاره يې غوره کړي وي.مخامخ يوانسان وی خوپټ تريوځناور هم بدتروی.دانسانيت له کلمې څخه ګټه اخلی.

مرجان ورته وويل:

زه پوه نشوم،ستاڅه مقصددی،اوته څه وايې.شايدتازه پيژندلی نه يم چې زه څوک يم اودچا زوی يم؟

اميرجينايي ورته وويل:

تابه زه په خپل مقصدباندي پوه کړم،چې ته څنګه اوڅوک يې.ته يومجرم يې اوته بايدخپله سزاووينی.تاداسي کارونه کړي دي چې زماڅه دهيچاهم زړه ته نه لويږي.تاډيرجرمونه کړي دي،اوته يوډيرغټ مجرم يې.ددې پرځای چې دې ټولنې ته دی خدمت کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای،خیانت دی ورسره وکړ.ایاداستاخدمت وخپلې ټولنې ته. ایاداستانیک نامی ده چې له بی وزلوسره ظلم اوپرهغووستم کوي.

اودخلکومالونه غلاکوی.ته یوداسي څوک یې.لکه درته وچې مي ویل.اوتاهم ډیر ښه پیژنم چې ددې ښاردنامتووکیل سیف الله زوی یې. اوهرڅه چې کوی کولای یې شي،ځکه پلاردی واسطه دی.دهغه له نامه ګټه اخلئ. اوهرڅه چې وکړی صبادي هغه له هرمشکله خلاصوی.اوولی به یې نه کوی ته خودوکیل صاحب زوی یې.

مرجان ورته وویل:

زه نه پوهیږم چې پرچامی ظلم کړي دي.اودچامالونه می غلاکړي دي. دایوناحقه توردي چې په مایې لګوي . ځکه زه بیګناه یم،اوچې بې ګناه شوم دهیچاپرواهم نلرم.زه چادرښوولی یم؟ چې زه مجرم یم.دابه ستایوه سهوه شوي وي.که سهوه نه وی نوهغه څوک ماته راوښیه،چاچې زه درښودلی یم؟

امیرجینایی ته خو مخکي لاغلوویلي و،چې که موږمووروښودو،هغه به له موږسره ډیرظلم وکړي،که په موږیې زورنه رسیدي.زموږکورنۍ ته به زیان ورسوي. نویې مرجان ته دا وویل چې مونږاطلاع ترلاسه کړي ده،اوخبرشوي یو.موږخپل رازونه تاته نشوافشاکولای،چې چاراته ویلي دي.ته هغه پریږده اوس خپل ټول جرمونه کوم چې دي کړي دي هغه په خپله اقرارو‌کړه اوقبول یې کړه.کنې زه به له زورزیاتي څخه کاروا‌خلم.

مرجان ورته وویل:

چې بې ګناه یم نوڅنګه پرځان جرم قبول کړم.ته چې له هرڅه کاراخلئ اخیستلی یې شي،ځکه صلاحیت لري.زه خودادرته وایم چې زه بې ګناه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیرجینایی هم ورته خواشنی شواوخپلوعسکروته یې امروکړ،چې دومره یې وواهي چې بیاخپل ځان هم ونه پیژني. ترهغویې مه پریږدي چې اقراریې نه وي کړي.عسکروته هم قومنده شوي وه،عسکریې دي ته اماده ول چې مرجان ووهي. غوښتل یې چې مرجان دوهلواطاق ته بوزي اوهلته یې ښه ووهي، خوتروهلوسره ونه رسیدل ،ځکه چې دمرجان پلاروکیل سیف الله ورباندي راغی.

ډیره خواشني واوپه ډیره خواشنتیایې امرجینائی ته وویل:

چې امیرصاحب! دادي څه کارونه شروع کړي دي،زمازوی دي ولي راوستلی دی.ښه شوچې زه په خبرشوم کنې پوست به دي اوس ځني ایستلي وای.

بیامرجان ته ورنیږدی شو،اوهغه ته یې وویل:

زویه !وهلی خوبه یې نه یې؟

مرجان ورته وویل:

ښه شوچې راغلی،کنې زماڅه به یې پوست په ډیروهلو کښیلی وای. تراوسه یې نه یم وهلی خواوس یې نوبالاکارراکوی.زه نه پوهیږم چې څه مي کړي دي.زه په خپله ګناه نه یم خبر.اونه دي راته وایي چې داجرم دي کړي دی.

پلاریې ورته وویل:

یاولي دي وهې.چې ستاجرم معلوم نه وي،اوثبوت نه وي ورسره،هیڅ هم نشي کولاي.بیغمه اوسه زویه!ته دچازوی یې؟اوڅوک څه درته ویلاي شي.خیرداسي کیسې ډیروخت پیښیږي. کیدای شي چې ده سهوه کړي وي.نویې امیرجینایی ته مخ ورواړوي اوورته وویل:

امیرصاحب! ته خویومنل شوي شخص یې،اوستاله کارونوڅخه د ښارټول خلک راضي دي.خونن دي داسي کارکړي دی،داسي نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيادي حيثت اواعتبارته زيان واړوي.ته پوهيږي چې زه څوک يم اوڅه کولاي شم؟ داځل خوخير يوه سهوه به درڅخه شوې وي،خوپه اينده کې که بيادغسي کاردرڅخه وشو،په زيان به دي تمام شي. اوکه دي بيازمازوی بې له کوم ثبوته راوستلی و،بيابه پردغه کوم چې قرارلري نه به يې.ستاخدمت اوستامقام ته زه ډيردرناوی لرم،ستاله شخصيت سره دامقام ډيرښه معلوميږي.

اميرجينايی ته چې کله وکيل صاحب سيف الله داخبرې وکړي،نوده غريب هيڅ هم نه ورته ويل،ځکه ثبوت نه وورسره ،دغلوپه اقرارېې کومه دوسيه نشواى ورته جوړولاي.حيران تللاي و،اوپه دي هم پښيمانه وچې ولي يې بی له کوم ثبوته هغه راوستی.نوپه ډيرعجزسره له وکيل صاحب اودمرجان څخ بخښنه وغوښته.اوداډاډېې ورکړچې نوربه په اينده کې دده زوی څه،نورڅوک به هم بې ثبوته نه راولي.هغوي هم په خنداااوپرده درشخندپه ډول بخښنه ورته وکړه اوځني رااوتل.

کله چې دوي ځني ولاړل،اميرجينايی ډيرخواشنی و،چې وکيل صاحب ده ته ترځان تيري خبرې وکړي.اوزوی يې ځني خلاص کړ.نويې له ځان سره داوعده وکړه،چې ترڅوېې مرجان ته ثبوت نه وي پيداکړي،اوهغه يې په سزانه وي رسولي،کراربه نه کښيني.فکريې ډيرخراب وغوښتل يې چې خپل دزړه درداوغم له يوچاسره شريک کړي.نوترهرچايې دابهتره وګڼله چې له مديرې سره ووينې اوهغه هم لدې رازه خبره کړي.

ښوونځی ته راغی.هلته يې له مديرې سره ملاقات وکړ اودمرجان له موضوع يې هغه خبره کړه.چې اصلی مجرم پيداشوي،اواوس مي زورنه په رسيږي.ترڅومي ثبوت نه وي ورته پيداکړي.څه نشم پري کولاي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدیره هم دې ته حیرانه وه چې داخوعقل نه منی.عجیبه ده هغه چې داکارکوي،نوله نوروڅه ګیله ده.اودایې ځنګه پلاروچې دخپل مجرم زوی طرفداری کوي.بایدترټولولومړی هغه ورته خپله جزاورکړي .خیرخدای(ج) به یې یوه ورځ وشرموی.چې اصلی مجرم پیداشونوثبوت به هم ورته پیداشي.

مجرم هیڅکله له جرمه لاس نه اخلي.ته یې هم تعقیبوه.

امیرجینایی ورته وویل:

ماتراوسه هم چاته دغسي ټینګ نیت ندي کړي.ځنګه به یې نه تعقیبوم .ماته یې پلارځنګه خبرې وکړي،زمابه هغه خبرې هیریږي.ترټولوکارونه مي دغه مهم کاردی.اخربه په یودام نه یودام کې راګیرشي.

.زړه مي ډیرناقراره و،چورت مي ووهی چې داغم له چاسره شریک کړم.ترڅولږ مي دزړه بوج کم شي.ترټول مي ته بهتره وبللې،ځکه نودرته راغلم.ښه خیراوس ماته اجازه راکړه چې په خپل کار پسی شم.

مدیرې هم ورته اجازه ورکړه اوده ته یې پدي لاره کې کامیابی وغوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

پاڼې اونازودواړوخپل درسونه ترېوولسم صنفه پوري په ډېره مینه اوشوق سره ورسول اوډېربه ورته متوجې وې.

له خپلوځانو سره يې داوعدې کړې وې چې اوس نوبايدترېوځايه پوري ورسيږي

چې چاته په ژوندکې محتاجې نشي داطمعه خويې له خپلوځانونوڅخه ختلی وُچې له مونږسره به په ژوندکې يوڅوک واده کوي.دواړوخپله توجوخاص اوخاص درسونوته کړي وه،دومره ډېرکوښښ يې سره کاوي چې هيچاهم تراخېره پوري اول نمره ګی اودوهم نمره ګی نده ځني وړې.ښوونکوهم ورباندي فخرکاوي،دښوونځی په ټولوښوونکودواړې ډېري ګرانې وې.خوپه ښوونکی اصف بياترټولوډېري ګرانې وې،اوپاڼه خوبيابيخی دومره زيا ته باندي ګرانه وه چه ديوې ونې دتنې په ځيريې دمحبت اوبه دپاڼې ترر ګونوور رسولې. دده ټوله توجو پاڼې ته وه،يوخويې دزړه له کومی مينه ورسره کول اوبل ددې دلياقت له خاطره.خپله مينه اودمينې خمارېې باندي ماتوی.اوبل داچې پرپاڼې هم ښوونکی اصف ډېر ګران و.خوپدې نه پوهيده چې هغه ورسره مينه لري اومينه ورسره کوي.هره خبره يې ښوونکی اصف ته کول اوهره مشهوره يې له ښوونکی اصف څه اخيسته.ښوونکی اصف به هم ورته صحی اوډېره نيکه مشهوره ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ ښوونکی اصف له ځان سره ډیره ټینګه اراده کړي وه، چې پاڼه به له خپلې مینې خبروي.نورطاقت اوصبریې نشوای زغملای،نوریې مینه په زړه کې پټه نشوای ورته ساتلی،نورورته یوه ثانیه هم بې له پاڼې ژوند ګران و.

زه خوبه خپل دمینې اظهارورته وکړم،کچیری یې لماسره ومنله خومینه به ورسره کوم،اوکه یې نه راسره منل نوښوونځی،خوبه ورپریږدم،ددې دمینې به ځان خلاص کړم.له هره ورځ هلاکته به خلاص شم.هره ورځ چې یې وینم نوي نوي زخمونه مي په زړه راکوي.زه هم څه نه شم کولای اودامي له مینې نه خبریږي. هغه به لدې رازه خبره کړم اوخپل دزړه بوج به مي کم شي.اوس خومي یوه طمعه ورته پیداشوي ده.اودابه هم نه وایې چې زه وګوره اوته ځکه ...

یوه ورځ یې دپاڼې په صنف کې دانجونوکورنۍ کارامضاء کوي.کله چې دپاڼې کورنۍ کاریې ور امضاء کوي دامضاء لاندې یې پاڼې ته نوشته کړل،چې زماسره په تفریح کې یوازې ووینه دتحویلدارخانې شاته،ډیرضروری کاردرسره لرم ،بل څوک مه خبروه.

زه دتفریح په وخت کې دتحویلدارخانې شاته ولاړیم اوته هلته حتماًراشه.

پاڼې چې کله دښوونکی اصف لیکلې نوشته په خپله کتابچه کې والیدل، حیرانه شوه چې ښوونکی اصف ولې لماسره یوازې وینی؟داسې څه ضروري کار راسره لري؟حیرانه پاته وه اوپدې فکرکې وه چې څنګه ځان لدې موضوع څخه خبرکړې.هرڅه فکرچې یې وکړپه موضوع پوه نشوه. تفریح ته یې تلوسه زیاته شوه.کله چې دتفریح زنګ ووهل شو.اوپه هغه وخت کې نازوپاڼې ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن به له صنفه نه وزو،مورمي مااوتاته چرګ راپوخ کړي دي،هغه به په صنف کې سره وخورواودباندي به نه ځو.

دپاڼې نوټول چورت اوفکرله ښوونکی اصف سره و،چې هغه خوراته انتظاردی،اوبل دنازوخبره يې هم پرځمکه نشوای غورځولای.که يوې به يوه خبره وکړه،نوبس بلې به هماغسی کول.خودابهانه يې نازوته وکړه اوورته وويل:

سمه ده ته يې سره برابروه،زه به ديوڅوشيبولپاره دباندي هواخوري وکړم اوپه بيړه بيرته راځم،کله چې راغلم نوتابه تيارکړي وي زه به راشم.ته پوهيږي چې دتياري خواړه ډومره خوندوروي.په يوه يواريې سره وخندل اوپاڼه دصنفه ځني ووته.

ترشاه شاه يې کتل چې هسي نه وي نازومی تعقيب کړي،اوبيا دټول وخت لپاره ورته دروانجنه شم.خوهغه يې ترنظرنه ورغله اوخپله راغله دتحويلدارخانې شاته.

هلته نوزده کوونکوډيره راشه درشه نه کول،ځکه ښوونکی اصف هغه ځای دمينې داظهارلپاره غوره وبلی.کله چې پاڼه راورسيده دښوونکی اصف په څهره کې تلوسې دومره ځان ښکاره کړي وچې تابه ويل پوره يوه ورځ يې انتظارکړي.دپاڼې له رارسيدوسره سم په ډيرادب يې سلام ورواچوی اونيږدې ورغله،په لاس يې ستړې ميشې ورسره وکړه . پوښتنه يې ځنی وکړه چې خيرخوبه وښوونکی صاحب!څه خبره ده چې زماسره دي يوازی ليدل غوښتل؟

خوښوونکی اصف چې هرڅه کوښښ وکړچې ورته ووايې،جرئت يې ونشوای کړای،چې دايې ورته ويلي وای چې زه مينه درسره لرم،نوخبره يې پربله خواواړوله،چې دومره ضروری هم نه و،اوپه دغه ويلوسره په خوله کې بنديدی اوداسي يې ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چ _چ_چې _م_م_ما_ما_ددې ل_ل_ل_له_لپاره را_را_غو_غوښتې يې چه امتحانونه مورانيږدي دي، ته با_با_بايدکوښښ وکړي په درسوکې د_د _ -دي.چ_چ_چې څوک اه_اه_اول نمره ګۍ درڅه يونه_نه_نه_سي..

پاڼه چې کله دښوونکی اصف داحرکات واليدل حيرانه پاته شوه،چې ښوونکی اصف خوتراوسه هم لماسره داسي څه نه وکړي،اونه يې تراوسه په داسي بنده لهجه خبرې راسره کړي دي.نويې ورته وويل:

فقط دهمدې خبرې لپاره دی يوازي راغوښتې يم.داخودومره مهمه خبره نه وه،خيرچې اوس دي همدومره خبره کړم ،زه به نورکوښښ هم کوم.ستا تشويق چې راپسي وي،هيڅوک يې نشي راڅه وړای.ستاکوردی هميشه ودان وي چې زه دې خبره کړم. ته بيغمه اوسه ښوونکی صاحب!انشاءالله ترخپله وسه خومی کوښښ کړی دی.

ښوونکی اصف هم ورته وويل:

ښ_ښ_ښ_ ښه چ_چ_چې کو_کو_کوښښ دې کا_کړی دې،ب_ب_بياخونه ښه ده،ب_ب_بس نوما_ما_ماهم دهمدې لپاره را_را_راغوښتې يې.دانجونوپه مخکې مي نش_نش_نشوای در_در_درته ويلای،ځ_ځ_ځه نونوردې په مخه ښ_ښ_ښه شه.پاڼه هم ځنی رارهې شوه اوخپل صنف ته راغله،خوپه لاره کې دافکروروالويدی،چې که داسي موضوع وای نوپه کتابچه کې به يې راته ليکلې وای،نويوازي به يې نه راغوښتلم،اصلي موضوع بله خبره ده،چې ماته مخامخ نشي ويلای،ځکه په خوله کې هم بندبندکيدی،نوزه بايدلدې موضوع ځان خبرکړم،خيراوس دي پاته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صنف کې نازوخپله برخه ورته جلاکړي وه اودې ته معطله وه،کله چې پاڼه راغله نوپه دواړويې ښه په خونداومزه سره وخوړل.

کله چې ښوونځی رخصت شوټول زده کوونکي خپلوکوروته ولاړل.پاڼه چې کله کورته راغله ټول چورت یې له ښوونکی اصف سره و،چې حتماًیوه خبره خوده چې ماته یې مخامخ څه نه ویل.نوزه به داسي وکړم چې یوخط ورته والیکم،هره خبره اوهره موضوع چې وه په خط کې خوراته ویلای شی سمدلاسه یې له بستې څخه قلم اوکتابچه راوایستل اومتن یې داسي ورته ولیکی.

محترم ښوونکی صاحب !ترهرڅه له مخه خوستا مبارک صحت جوړاوروغ له متعٰال خدای (ج) څخه غواړم،وروسته تردي محترم ښوونکی صاحب!تازماسره ډیرښه کړي دي ،دومره ښه دي کړي دي چې زه یې هیڅکله هم نشم هیرولای،

اونه دي هیڅ وخت دنیکیوحق اداکړم. ستاپه شان مهربانه خلک خواوس پدي دنیاکې ډیرکم پیداکیږي،الله (ج) دي همیشه خوشحاله اوسرلوړی لره.زه اوزمامواوزماپلاردي ټول عمردعاگویه یو.زه خودي آن په یوه لمانځه کې هم بې دعاوونه پریږدم،اوانشاءالله داکارخوبه ترهغوکومه څوچې په ماکې دژوند ساه وی.مااوتاچې کله دتحویلدارخانې شاته سره والیدل،اوتاماته بل څه ویل،خوتاپه هغه ساعت اصلی موضوع راڅخه پټه کړه اوتاراته دااول نمرگۍ خبره بهانه کړه،خوخبره هغه نه ده.نن ته یوبل رقم وي،چې ماته تراوسه هم په داسي حالت کې نه وې لیدلی.

ماهم هغه ساعت نشوای درته ویلاي چې اصلی موضوع ولي نه راته وائي،خو کله چې کورته راغلمه نودافکرراسره پیداشو،چې ښوونکی صاحب به لاڅه درته ویل،نومي داتصمیم له ځان سره ونیوي ترڅولیک درته نوشته کړم.ته که په خوله نشي راته ویلاي نوته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته لیک نوشته کړه،هره موضوع چې وي زه به ځني خبره شم،ترڅوکومه اندیښنه چې رالویدله ده راڅه ورکه شي.اوزه به ترهغه پوري ناقراره یم ترڅوستاځواب نه وي وارسیدلی.نوردي وخت نه نیسم خوستادځواب په طمعه یم _ مننه پاښه _

دالیک یې ورته نوشته کړ اوله ځان سره یې وساتی.کله چې په داصباښوونځی‌شروع شو،اوښوونکی اصف هم ددوي صنف ته راغی،خوپه هغه ورځ یې ددوي په صنف کې مضمون نه درلود،هسي یوپوښتنه یې په شاګردانوکوله،اودپاښې لیدل خوده پرځان فرض داسي کړي و،داسي ورځ به نه وه چې ده به پاښه نه لیدل.

پانې هم خپل لیکل شوي لیک په کتابچه کې کښیښودي،اوښوونکی اصف ته یې وویل:

ښوونکی صاحب!کچیري وخت لري نویوسوال مي حل کړي دی،که یې ته راته وګورې چې صحي مي حل کړي که غلط،که غلط وي راته صحي یې کړه،ډیرپیچلي سوال دی.

ښوونکی اصف هم د سوال غوښتنه ځني وکړه چې ته یې راوړه چې څنګه دي حل کړي.

پاښه هم ورولاړه شوه،اوخپله کتابچه یې ورکړه ،کله چې ښوونکی اصف کتابچې ته وکتل،لیک یې کې والیدي ،په کتابچې کې یې داورته لیکلی و،چې دالیک مي ستادپاره لیکلی دی،دالیک درسره واخله.په کورکې یې درسره وګوره.

ښوونکی اصف پدې پوه شوچې لیک دده لپاره لیکل شوي دی،نوشاه یې شاګردانوته وروګرځوله اوله کتابچې څخه یې لیک راواخیستی په جیب کې یې واچوی.شاه یې شاګردانوته پدې خاطروراګرځوله چې که ددوي په مخ کې یې له کتابچې څخه لیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستی وای نوټولو ته شک ورلویدي اوحتماًیې یوه ګمان نه یوګمان ورباندي کوی.

بیرته یې مخ شاګردانوته راوګرځوي اوکتابچه یې پاڼې ته ورکړه،چې سوال دی صحی حل کړي و، اودانوروشاګردانوته یې وویل:

چې که تاسي هم په سوالوکې کوم مشکل لري،کولاي یې شي چې ماته اوس لاووایاست.په پوښتنه مه شرمیږي ځکه په پوښتنه کول څوک نه شرمیږي اوڅوک بدنه باندي ایسې،دایومتل دی چې وائي:

پوښتنه کول عیب ندہ بلکی نه پوهیدل عیب ده،اوس درسره همکاری کولای شم،اوپه امتحانوکې خوبیاتاسوپوهیږي چې بیاښودل اونقل کول نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

ښوونکی اصف نوترهغه وخته پوري دپاڼې لیک نه وکتلی، ترڅوچې کورته راغی اوله هرڅخه مخکې یې له جیبه څه لیک راوایستی. کله چې یې لیک خلاصوي لاسونه یې ریږدیدل اوزړه یې تکانونه خوړل،داګمان یې کوی چې څه به یې راته لیکلي وي. کله چې یې په ویلوشروع وکړه،تراخیره یې زړه دومره ناکراره وچې هیڅ یې په خونه کې طاقت نه کیدی،دخپلې ښځې ځانګې چې کله ورته پام شو،پوښتنه یې ځني وکړه،چې څه خبره ده چې پریوه ځای دی طاقت نه کیږي؟څه شوي دي؟

ښوونکی اصف ورته وویل:

دا لیک دیوې معصومې انجلۍ دی،ماته یې رالیږلی دی،پاڼه نومیږي کوم چې مایې تاته ټوله کیسه ډیره پخواکړي وه.ماته تراوسه دهغې په کیسه سمه نه وې پوې کړې.نن به درته هرڅه ووایم.هغه داچې زه لدې انجلۍ سره ډیره زیاته مینه لرم.اوتراوسه مي هیڅوک ندي باندي خبر کړي. داتصمیم مي نیولی دی چې له هغه سره کچیري هغې زه خوښ کړم؟ واده وکړم.اوتاته اوس لاځکه وایم چې چې ته څه راته وایې.ایاداکارستاراسره خوښ دي که یا؟اوکه دي خوښ نه وي زه بیالدې کاره تیریږم.کیدای شي چې هغه هم واده راسره وکړي.ځکه له ماسره هغه زماپه ګمان ډیره مینه لري.لکه زه چې نشم ورته ویلاي دایې هم نشي راته ویلاي. خپل دمینې اظهارنشوسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای.دا لیک یې دهمدې په خاطرراته رالیږلي دي.اوس نوستاخوښې اوکار ته ګورم چې ته پدې کارکې راسره موافقه یې که یا؟

څانګې ورته وخندله اوورته وویل:

تاخپل ځان ته کتلي دي.ته وګوره هغه وګوره،یوځل خوخپل اودهغې عمرسره پرتله کړه.ایاهغه هم ستاسره واده کول غواړي؟عجیبه ده چې هغه له تاسره پردغه حال مینه کوي.زماڅخه نوته څه اجازه غواړي،چې تاسي دواړه سره خوښ یاست بیاخوزمابیخی درسره خوښه ده.زماله خوادرته اجازه ده.اوهرڅومره ژرچې کیږي داکارسره ورسوه.

_بس چې ستاراسره خوښه وي،بیانومابریږده اوکار.زه به هم خپل کوښښ وکړم.هغه به له خپلې مینې څخه خبره کړم.اوله خپل زړه نه به دادروندپیټی لیري کړم،کوم چې له ډیرې مودې می لکه یورازساتلی دی.کچېری پاڼې واده راسره کوي خوښه ترښه،اوکه یې واده نه راسره کوي بیاخوبه نوزړه ته دایقین ورکړم، چې نورنودمینه کولولیاقت نلری اودعمرې ابدلپاره به یې هیره کړم.بل زه په دي پوهیږم چې دپاڼې داخیال دی،چې لماسره خوپه ژوندکې هیڅوک پرته له مابل څوک واده نه کوي.ځکه همیشه ناامیده وي اوزه په پوهیږم.زه به یې داناامیدي هم وروركه کړم.چې داسي څوک خولاشته چې ماته زماسره دواده کولولپاره تیاردي.

_داشاعرانه خبرې اوس مه کوه.ووایه چې څه ورسره کوي چې هغه لدې رازه څخه خبره کړي؟داکاربایدژر وکړی هسی نه چې بیاوخت دي له لاسه وتلی وی.

_زه ورته یولیک لیکم.اوپه لیک کې ورته ټول خپل دمینې اظهارکوم.نورنوهغه پوه شه اوکاریې کچیري هغې هم راسره مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلوده نوبه معلومه شي.اوپه خوښه به سره واده وکړو. که یې زه نه وم خوښ بیاخونوخبره خلاصه ده.

_ دابه ډیرښه کاروشي،چې له هغې غریبې سره مرسته وکړي.زماخوهیڅ زړه ته نه لویږي چې هغه دي واده درسره وکړي.ځکه چې مااوریدلي دي چې اوسني انجوني له سپین ږیروسره واده نه کوي.ته دي ځان ته وګوره اوس خود سپین ږیروپه جم کې راځی.ایاداخوبه له امکانه لیري خبره نه وي؟

_ شه اوس دي لاسپین ږیری راڅخه جوړکړ.زه هم پدي پوهیږم چې زماعمردهغې له عمره څخه تردوه برابره زیات دی.خوزه څه وکړم اوڅنګه خپل زړه ته داتسلی ورکړم چې داکارله امکانه لیري دي.هرڅه کوښښ چې می وکړ خونه کیږي،اونه مي زړه په دي یقین کوي چې زه دهغې لپاره مناسب نه یم.تهووایه چې څنګه خپل زړه ته دایقین ورکړم.

_ تانوخپله فیصله کړي ده،زه څه نشم کې ویلای.ته خپل نهایې کوښښ وکړه چې څنګه کیږی هغسي وکړه،زه هم درسره ملګرې یم.ځانګې نوپدې خاطرخپل خاوندته اجازه ورکوله چې دهغې له واده څه پوره شپاړس کاله تیرشوي وخوکمه ثمره یې نه درلوده،اوددې په واده کولوځکه خوشحاله و،چې خدای(ج) مهربانه دی ګوندی دوي لدې ثمره څه برخمن شي.

ښوونکی اصف هم دستي قلم اوکتابچه راواخیستل اوداسي یې کې ولیکل.

ګرانې اومهربانې پاڼې!

که څه هم چې ته زماشاګرده یې،څه وکړم نن به درته خپل د زړه حال پوره ووایم.نورمي دصبرکاسه ډکه شوې ده،نوردانتظارپربتهې نشم پاته کیدای.وایې له هرڅه سره کیږي خوله مینې سره نه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرڅه پټيدلاي شي ،خومينه نشي پټيدلاي.ماډير کوښښ وکړچې خپل دمينې اظهاردرته وکړم،خوداراته بې انصافي اوبې عدالتي معلوميده، چې زماعمروګوره اوستاعمر.څه وکړم ډيروخت غلی پاته شوم خونن درته هرڅه وايم.له کومي ورځې څخه چې ته می ليدلی يې،ته باوروکړه چې ترداوسه پوري دي له خيال اوفکر سره ګذاره کوم،ستاخيال راسره تل ملګری وي.ډيرواري مي کوښښ وکړ چې درته ووايم خودومره جرئت مي نشوای کولای اونه دومره جرئت راکې پکښې و.

تيره ورځ مي ډيرزړه وکړ چې له هرڅه دي خبره کړم اوته می دتحويلدارخانې شاته راوغوښتې،خوکله چې ستاسره مخامخ شوم ټول بدن مي ريږد واخيستی اوساه می بنده بنده کيده،نيږدی وچې زړه می دريدلای وای.هيڅ زړه می نشوای کولای چې خپل دزړه حال درته ووايم،نوځکه مي خبره پربله خواکړه اوتاته مي ازموينه بهانه کړل.زمااصلی مقصدهغه نه و،اصلی مقصدمي داوچې تاله خپلې مينه څه خبره کړم.چې زه درسره څومره مينه لرم. همداوس چې زه داليک تاته ليکم ته خونه يې خدای (ج) خوشته،ټول بدن می دقلم په شمول ريږدي اولکه سختته تبه چې مي وی،داسي ريږدم.خپل ځان نشم قابوکولای، دومره تاثيردي راباندي پروت دی.خودومره پوهيږم چې داستادمينې زوردی.څوځله مي نيت وکړچې ستااوزماپه مينه ټول ښوونځی خبره کړم، خوداپياماته نامناسبه ښکاريده چې داسي ولي درسره وکړم،ځکه بيرته به له خپل نيول شوي تصميم څخه تيرشوم اوستادرضايت رايه به می خوښه کړه چې ترڅومي لدې سره خبرې نه وي کړي هيڅ به نه کوم.مابه چې ماښام له ځان سره پلان برابر کړ،

چې سهاربه درته هرڅه وايم اوټينګه اراده به مي کړي وه،خوکله به چې سهارشواوښوونځی ته به راغلمه ته به مي واليدلې،ټول پلانونه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



می له خاوروسر خاورې شول اوهيڅ به مي نشواى درته ويلاي.دانن چې تاته دزړه له اخلاصه داسي خبرې ليکم،داستادليک برکت دي چې په ماکې يې دومره جرئت پيداکړچې تاته ليک وليکم اوپه ليک کې داسي الفاظ ورسره ازافه کړم.کچېرى تاراته ليک نه واى ليکلاي مابه ستادمينې ارمان دژوندترپايه پرخپلواوږوګرځولاي واى.شايدچې ماهيڅ کله هم دغه موقع اوجرئت نه واى کړي،چې تاته خپل دزړه حال ووايم.هرڅه به پرخپل حال پاته واى،اوزه به په اورکې يوازى سوځيدم لکه دادومره وخت چې سوځيدم. مااوڅانګې هم پريکړه سره وکړه،هغه هم لدې موضوع څه خبره ده اودايې راته خوښه کړې چې تالدې رازه خبره کړم. هغې راته خپله رايه راکړې ده،اودايې راته ويل چې ته به حتماًداکارکوي زه درسره ملګرې يم. ته ورته ووايه که يې درسره خوښه وه وداده به درسره وکړي،اوکه يې نه ودرسره خوښه نوداخوبيابدکارندى چې ته يې کوي.اوس مى درته خپل دزړه حال ټوله ووايه.زه تل ددغې ورځې په ارمان وم چې کله به خپل دناکرارزړګۍ خبرې تاته وکړم اوتاخبره کړم،خونن مي داموقع پيداکړه اودمودومودوارمان مي نن پوره شو. نورنوستاخوښه اوستاکار.خپل رضايت ته دي وګوره خپلې خوښې ته دي وګوره،څنګه چې دي زړه درته وايې.له خپل موراوپلارسره اوهم دي له نږدې ملګرو اوخپلوانوسره داخبره ياده کړه.هررقم چې دوي درته خوښه کړه،له ټولوسره مشهوره وکړه.

زه ستادځواب په طمعه يم ځواب به حتماًراکوي.اوزه پوهيږم چې دامناسب کارندي خوڅه وکړم،زه هم ليونى يم اوزړه مي هم ليونى دى.

دفکرونواوخيالونوپه دنياکې مي غرق کړي، زررقمه چورتونه راواچوى،چې داسي وکړه داسي به وشي،ژوندبه دي برابرشه او....

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کیسه لمااوڅانګې پرته نورهیڅوک خبرندي اونه ماچاته ویلي دي،چې زه له تاسره مینه لرم.دامي یورازساتلي واوهیڅوک مي ندي باندي خبرکړي. ځکه که څوک خبرشوي وای نودارازپاشل کیدي اوزه به ټولوته خړمخی وم.ټولوبه راباندي خندل چې دایوښوونکی اوله خپلې زده کوونکې سره یې داسي وکړل،له نوروخوګیله نشته.نورنونه غواړم چې خبرې راڅه اوږدې شي.الله (ج) دي همیشه خوشحاله اوکامیابه لره. ستادځواب په هیله.مننه هغه څوک چې تل ستامینه له یوپاچاهي څخه بهتره ګڼي _ ښوونکی اصف _.

لیک یې سره وپیچي په یوپاکټ کې یې ورته واچوی اوپه جیب کې یې له ځان سره وساتی.

کله چې سهارشودښوونځیوخت و.نودښوونکی اصف دوهم ساعت دپاڼې دوي په صنف کې و.هلته یې تردرس ویلو مخکې دټولوکورنی کاروکتی اوورته امظاء کوي یې، کله چې یې دپاڼې کورنی کار کتی له جیبه څه یې هغه لیکلی لیک چې مخکې یې تیارپه لاس کې نیولی و،دپاڼې په کتابچې کې کښیښودی اوکتابچه یې بیرته پاڼې ته ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

زياته موده وتلې وه چې مديرې له اميرجينايي سره له نيږدي نه وليدلي.يوه ورځ يې دي ته زړه شوچې له هغه سره ووينى.دستي يې اميرجينايى ته په تيليفون کې خبرورکړچې که چيري دليدلوامکان وي نوپه ښوونځى کې ورسره وګورى.

اميرجينايى هم به له کوم ځنډه ورته راغى اوله مديرې صاحبې سره يې له نيږدي وليدل.

مديرې هم ورته ښه راغلاست وويل،اوډيره بخښنه يې ځني وغوښته چې ده ته يې تکليف ورکړ.

اميرجينايى بخښنه ورته وکړه چې داخوکوم تکليف ندي.

وروسته ترمجلس کولوڅه يې دمرجان پوښتنه ځني وکړه،چې دهغه لپاره دي کوم ثبوت ندي پيداکړئ؟ډيروخت نه کې ووتې.

داپوښتنه چې يې ځني وکړه،اميرصاحب ليږڅه بل رقم ته شو،مخ يې سورشواودرنګ بڼه يې تغيروکړه. په خبروکې بندبند کيدى،داسي يې ورته وويل:

اصلى مجرم خومرجان ندى.ماډيرکوښښ وکړچې هغه ته يوه لارنه يوه لاره پيداکړم ترڅوهغه مجرم ثابت کړم اوپه سزايې ورسوم.خوهغه د جرم له دنياڅخه ډيرليري دي،اونه هم له مجرمينوسره کومه راشه درشه لري.ماچې کله هغه دوه غله نيولي و،هغوي دخپل ځان دخلاصيدولپاره دوکيل زوى مرجان په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړ.خوهغه بې ګناه واوماخوارکی ډیرځوراوه، اوس یې پلارته سم نه شم کتلای.اصلی مجرم یوبل څوک دی چې هغه هم پدي ښارکې اوسیږی.خوهغه هم پدي پوهیدلی دی چې زه دهغه په لټه کې یم.هغه ډیر هوښیاردی،داډیره موده کیږي چې له جرمه یې لاس اخیستی دی.خوزه

خدای(ج) ته امیدلرم چې هغه له ثبوته سره ونیسم اوپه خپله سزایې ورسوم.

مدیره پوه شوه چې د امیرصاحب کاریې کړي دی،په پیسویې خوله ورګنډلی ده.حیرانه دې ته پاته وه چې څنګه یې امیرصاحب راضی کړي دي. دده عظم خوله ډبرې څخه هم کلک و،دی خوډیرورته خواشنی و.دده خواشنتیاڅه شوه.دده هغه قول اووعده څه شوه کوم چې یې له ماسره کړي وه.

دده هغه ټینګه اراده څه شوه،دده هغه خجالت څه شوکوم چې وکیل صاحب په خپله شُعبه کې له خاوروڅه لاهم سپک کړي و.

ښتیاچې پیسې پرډېره کښیږدی ډېره ماتوی.اورښتیاچې پیسې دډیروښو خلکوخولې وربندوي.هیڅوک دپیسوپه مقابل کې څه نشي کولاي.داسي څوک لکه امیرصاحب چې په ټول ښارکې یې جوړه نه وه،اودټولویوازې اویوازې ده ته سترګې وې چې که ودغه یوامیر صاحب دی .نویې امیرصاحب ته وویل:

ښتیاچې ماهم داګمان کاوې چې دوکیل زوی وګوره اوداسي کار.داخوناحقه تبلیغات دي چې په دوي خوارانوپسي کیږي.داچې خپله دحکومت خلک داسي یوجرم وکړي،نوله مجرمینوڅخه بیاڅه ګیله ده.خیربه یې غواړوترهرڅه خیربهتره دي. بیاهم ته کوښښ کوه کله چې دي مجرم ونیوی نومابه په خبروې.بس نورنووبخښه ستاقیمتی وخت می درضایع کړ.کیدای شي چې تابه ډیرمصرفتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودل.माددغې موضوع لپاره راغوښتی وې.له راتګ څخه دي یوه دنیامننه ډیره خوشحاله شوم چې ومي لیدی.

_ مصرفتونه شته،ستادخبرراکولوڅخه خوربښتیاهم مختته،قومندان صاحب دیوکارراته ویلی و،خوهغه دومره مهم نه و لکه ستالیدل چې و.خیرپه هرصورت مونږاوتاسي چې همکاري ونکړوڅوک به یې راسره وکړي. ته بیغمه اوسه کله چې مي مجرم ونیوی،اول تاته خبردرکوم،ته باوروکړه چې زه دغسی یوه لحظه هم نه یم کښینستلی.دپاڼې اونازوژړاوي خومی اوس هم په غوږوکې ازانګې کوي،هغه ورځ خودهیریدلونه ده.ددوي حق به انشاءالله ترپښونه لاندي کیږي. ستاخبره خیربه یې غواړواوله هرڅه نه خیربهتره دی.نورنودر څخه ځم.زه هم ډیرخوشحاله شوم چې ومي لیدې.

له مدیرې څه یې رخصت راواخیستی اوله مکتبه راووتی.په لاره کې له ځان سره موسکاشوچې دابنځې څنګه ژرخطاکیږی.اودې په ماڅومره اعتباردرلود،داخوارکی نوڅه خبره ده چې....

مدیره نوپه چورت کې ورکه وه،دایې له ځان سره ویل،چې عجیب وخت دی،هیڅوک داعتبار کولوندي پاته.په چاڅوک باوروکړي؟په چاڅوک اعتبارولري؟نه انصاف شته،نه عدالت شته، نه دچا خاطرڅوک کوي،ټول کارونه اوټول کاروبارله پیسوسره شو.داپیسې څنګه دهرچاخوښي شوي اوڅنګه هرڅوک ورسره مینه کوي.دپیسوپه مقابل کې،نه خپل شته،نه دوست شته،نه رورشته،ټول ورته پردي پردي وي.دانوپه دغه فکر کې وه چې پاڼې داداري په دروازه کې ولاړه ده اودې ته وایي چې مدیرې صاب!زه دننه راتللای شم.

خودمدیرې هیڅ ورته پام نشواوپه خپل خیال کې غرقه ده بیاپاڼې ورباندي بږغ کړل،مدیرې صاحبې! ایازه دننه راتللای شم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیاهم دمدیرې نه شوورته پام.ترڅوپاڼې داداري دروازه په نوک وټکوله اووروسته ترهغې مدیره په سدراغله اوورته پام یې شو.کله چې یې پاڼې ته وکتل ډیره وارخطاشوه،په قهرجن اندازسره یې پاڼې ته وویل:

څه کوي؟چې په دروازه کې ولاړه یې؟څه راته وایې؟ولي بې اجازې راغلې یې؟

پاڼه غریبه هم وارخطاشوه،چې مدیرې په داسي تونده لهجه ورته وویل.په ډیرعجزسره یې مدیرې ته وویل:

مدیرې صاحبې! زه په ترقی تعلیم اوحاضری پسي راغلې یم،هغه موتراوسه ندي وړي.که ستااجازه وی چې زه یې خپل صنف ته راسره یوسم.

مدیرې پدې خاطرپاڼې ته خواشنې شوه،چې داسي نه وي زمااودامیرجینایی خبرې یې اوریدلې وي،خوچې پاڼې دترقی تعلیم اوحاضری غوښتنه ځنې وکړه،بیرته یې له پاڼې معذورت وغوښتې اوورته وویل:

ډیره بخښنه غواړم زمافکربل ځای و.هوستاسوترقي تعلیم اوحاضري دلته ده درسره یوسې سه.

پاڼې دخپل صنف ترقی تعلیم اوحاضری پیداکړل او ځني راویې خیستل.په لاره کې یې دافکرله ځان سره وهې،چې مدیره خوماهیڅکله دومره خواشنې نه ولیدلې،زماسره یې هم چنداني رویه ونکړه،کیدای شي چې یومشکل ورته پیښ شوي وي.نوپه دغه فکراوحیرانې کې صنف ته راغله.

کله چې پاڼه له اداري څخه راووتل نومدیره خوشحاله شوه،چې څه زموږخبرې یې ندې اوریدلې.داپه دي بیریده چې که په مجرم خبره شي چې زمامجرم پیداشوي اوپیژندل شوي دی،نوکه نورڅه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وس نه وپوره،ښوونځی خو پرېږدي اوخپله دهغه په محکومیدوپسي پایځې راټولوي،خوبیابه یې هم څوک بېغ وانه وري،دابه له خپل مظلومیت څه زیربېي اوتپیږي به.که نورڅه یې نشوای کولاي نوداخوکولاي شي چې ښوونځی پرېږدي،که یې ښوونځی پریښودي نوبیابه یوازي وي اوله ژونده به ناامیده وي.نفس تنګه به شي،کله چې له ژونده نفس تنګې شوه،بیاخوهرڅه کولاي شي، یابه ځان وژنه کوي اویابه هم له ډیروچورتواوفکرونوڅه لیونی شي.په همدي دلیل مدیرې نه غوښتل چې پاڼه لدې رازه خبره کړي اویادي هم خبره شي ترهغه پوري ترڅویې مجرم ته سزانه وي ورکړي.وروسته که بیاخبره هم شي پروانه کوي.زړه خوبه یې باندي خوشحاله شي.اوخپل بوج کوم چې یې پرزړه پروت دي هغه خوبه یې یوڅهورباندي سپک شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی

پاڼې چې کله دښوونکی اصف لیک په کتابچه کې والیدي نو دکتابوپه بسته کې یې واچوي اویوه لحظه یې هم بسته له ځانه نه جلاکوله،پدي بیریدله چې داسي نه وي دبل چالاس ته ورسیږي اوددوي له رازه خبرشي.درخصتۍ وخت یې شواوټول زده کوونکي خپلوکوروته ولاړل.پاڼه هم کورته راغله. دابه چې کله کورته راتله نوموربه یې ورته په ترموزکې چاي مخکې له مخکې برابري کړي وې چې کیدای شي په ښوونځی کې ستړې شوې وې،اوچاي ستړیااوذیله توب ورکوي.

دې به ترڅه مخکې چاي څیښلې اووروسته به یې ډوډۍ خوړله بیا به دیوساعت لپاره بیده شوه.نن چې کله راغله ترهرڅه له مخه یې دښوونکی اصف لیک له بستې راوایستی اوپه ویلویې شروع وکړه.

کله چې یې لیک ترپایه ولوستي حیرانه پاته شوه اوهیڅ یې دازړه ته نه لویدل چې ښوونکی اصف دې له دې سره مینه لري.په ښوونکی اصف یې ډیره خوابده شوه چې څنګه یې دادومره وخت ماته نشوای ویلاي.بل به دې ځاي ته حیرانه پاته وه،چې زه وګوره اوښوونکی اصف.زماعمراودښوونکی اصف عمر.اودی څنګه لماسره اوس دهرڅه سربیر ه مینه کوی.زماخوداګمان وچې زماسره به هیڅوک هم واده نه کوي،ځکه چې زماعزت له خاورو سره خاورې شو،ټول عالم راباندي خبردی.پرماخوتورداغ لیګیدلې دي.چې زه ژوندې یم دټولوبه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادیم اوزماله کیسې به خبروي.دلږساعت لپاره دفکرپه دنیاکې ورکه شوه.حیرانه حیرانه وه چې داڅنګه نابلده خبره اونادیره کیسه سره مخ شوم.داپه خپلوفکروکې ورکه وه چې خوب دنیاورباندي غلبه کړي وه.کله چې راکښېنسته موریې سرته ولاړه وه اودډوډۍ دخوړلولپاره یې راکښېنول.داهم ډوډۍ ته راکینستله لاسونه یې پریمنځل اوپرډوډۍ یې شروع وکړه.ډوډۍ هم چندانی خوندنه ورکاوي،یوقسم ته چورتی واوداهم دې ته حیرانه وچې ولي نن داسي چورتي یم؟اوولي داسي شوم؟خوبیرته به یې داویل چې کیدای شي دادښوونکی اصف په لیک کې داتاثیرات وي،بیابه ورته په فکرکې ډیرسوالونه پیداشول اوپه خپله به یې ځوابول.

بیایې په زړه کې داارمان ورته ودریدی چې کاشکی خوله ماسره ظلم نه وای شوي.خپل دپیغلتوب امانت به می ترهغه پوري پاک ساتلي وای ترڅو مي واده وای.اوپرهغوانجونوبه یې زرافرینونه ویل،کومو چې په امانت کې خیانت نه وي کړي.اوخپل لاسونه یې خدای (ج)ته پورته کړل چې نوري انجوني زماپه رقم مه کوي.ته دټولوانجونوارمانونه مه نیمګړي کوي .

ټولي انجوني دپلارله کوره په عزت اوشرافت ترخاوندتر کوره ورسوي.اوله هغه ظالمانوسره کوم چې لماسره یې داوحشی عمل کړي دي،دهغوي له خویندوسره دي دغسي وکړي.ترڅو هغوي زمادرداحساس کړي،زماغم اواندیښنه احساس کړي،اوزماغوندي یوازیتوب احساس کړي،له ژونده دبیزاره کیدلواودمرګ د غوښتلو هره ورځ اوهره شپه لکه زه چې یې غواړم دوي یې هم وغواړي.خوبیرته به ورته دا نامناسبه ښکاره شوه چې ماله خدایه (ج) څه وغوښتل،اوڅه بدراڅه وویل شول،خویندي یې نو څه ګناه کړي ده،پدې کې یې خویندي څه ملامتې دي.بیابه یې بیرته ویل چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خویندوسره یې څه مکوی خدایه(ج)،دوي ظالمانوته سخته سزاورکړی.بیابه یې ځان ته پام شوچې زه په څه اخته یم اوداڅنگه نن راته بیاهرڅه له سره یادشول.بیابه یې دښوونکی اصف لیک ته ورپام شول چې داهرڅه دښوونکی اصف لیک راته یادکړل،اودده د لیک له وجې دغه حالت ته ورسیدم.بیرته به یې خپل زړه ته ډاډورکړچې نورنودچورت وهلو اوفکر کولووخت ندي،اونه په ښه راته خوړل کیږی،راشه اصلی موضوع ته چې دښوونکی اصف راغلی لیک ته څنگه ځواب ورکړم.دډیرچورت وهلووروسته یې په کتابچه کې ښوونکی اصف ته داسي واليکل.

مهربان اودقدروړښوونکی صاحب!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

ډیرپوهان وايي چې مهمه وظیفه چې دانسانانولپاره اجراکیږي اواجراکوي یې هغه یوډاکټر اجراکولاي شي.ځکه دخلکوژوندلومړی خدای(ج) اوبیادغه ډاکټردی چې له مرگه یې راگرځوي. هرچاته دښه صحت اوخوشحاله ژونددتیرولوتوصیه کوي.خوزمابیادایقین،باوراونظردی چې دانسان لپاره چې مهمه وظیفه اجراکوي هغه بل څوک نه بلکی یوښوونکی دی.ځکه ډاکټر جسماني کارونه اجراکوي اوښوونکی معنوي کارونه.ستاله هرڅه کولوڅخه قربان.

تاخوله ماسره پرته دیوښوونکی په ځیرڅه دیوښه دوست په حیث چلندراسره کړي دی. زه ستااحسانمنده یم ترهغه وخته پوري ترڅومی په بدن کې ساه چلیږي.ستاله دومره انتظارایستلوڅه قربان چې تازماپه مینه کې دومره وخت یوازي تیرکړي اوماته دي په خپل زړه کې تراوسه پوري ځاي ساتلي دي.زه خودمینې په نوم هم نه پوهیږم چې څنگه یې ترجمه کړم اوڅنگه کیږی، خودومره مي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



داستانوکې،کیسوکې، له موراوپلاره اوله خپلوهمصنفیانو څخه دا اوریدلي دي چې مینه اسانه نده ،نه یې هرڅوک کولای شي.یوه لحظه یې ترکال اوږده وي پرهغوکوم چې رښتني مئینان وي.تاماته صحی لارراښودلې ده،ماله تاڅه هرڅه زده کړي دي. تابه چې ماته کوم وخت یوڅه رازده کول پرته ددرس ویلوڅه،لکه خبرې،ښه رویه له چاسره کول،ښه کول له همسایګانوسره، دموراوپلارعزت کول اودهرچادعااخیستل.داځکه چې دعادجنت هواده،دهغه چالپاره چې دزړه له صدقه ورته کیږي.مابه داهرڅه په خپل ذهین کې ساتل اوتراوسه مې ندي هیرکړي اونه دهیریدودي.

ځکه ستاهره خبره ماته دسروزروڅخه هم ډیراهمیت درلود.تاچې څه ویلي دي هغسي هم شوي دي.تابه چې ماته کوم ورځ یوښه خبره راوښوده مابه هغه ماښام له خپل موراوپلاره سره شریکول چې مانن له ښوونکی صاحب څه داخبره زده کړي ده،هغوي به ډیرخوشحاله شول چې مابه ورته داستاخبرې کولاي اوستاڅخه به هم ډیرخوشحاله شول. که څه هم زماموراوپلار دواړه بیسواده دي خودښه فکرخاوندان دي،اوزماپه باب کې یې له هیڅ شي څخه ځان ندي سپمولي.

ماته یې داولادپوره حق راکړي دی،خدای(ج) دی زماپه حق دوي نه نیسي،خوزه به یې هیڅ کله هم ددوي حق پرځاي نکړم.په هغه ورځ کوم چې زه په روغتون کې وم زه په خپل غم اخته وم اوله خدایه (ج) مې هره لحظه مرګ غوښتی، خوزماموراوپلاردواړوچې زه یې په زړه پوهیدم بیاهم دوي زماله وجې څه نه ویل اوزه یې غم اوژړاته نه پریښودم .تسلی به یې راکول چې هرڅه به سم شي مجرمین به سزاوویني،خومابه په هغه وخت کې هم له دوي سره ګستاخی کوله چې زه یې نواوس سزاڅه کوم،زماایندده یې راخیرابه کړه زه یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیاکې بدنامه کړم،پرمایې تورداغ ولګوي.ایادهغوي دسزاپه ورکولو سره به زماابنده بیرته سمه شي اوزمابدنامي به دړولوهیره شي؟ایازماڅه به داتورداغ کوم چې په ماواوس لیګدلي دی دالیري شي؟وبخښه ښوونکی صاحب! که څه هم چې داخبرې دلیکلونه دي خومادرته ځکه نوشته کړي چې زه دهغوي یواځنی ارمان،ارزو،هیله اوقوت یم.زه پردوي ډیره ګرانه یم،ستاهم دوعاګویه دي،پدې خاطرچې ته له ماسره همیشه ښه کوي،اوهغوي تاته همیشه دښه ژوندغوښتونکي دي.خوهغوي اوس لدې رازه نه خبروم اونه زه اوس دستي واده درسره کوم. ماخوداسي ګڼله چې زماپه نصیب کې به نور هیڅکله واده کول نه وي،خودهغه سربیره چې ته په ماخبرهم وې،تا راته دواده کولوپشنهاد وکړ.زه پدغه لا هم ډیردرڅخه خوشحاله شوم اوماته دې نوی ژوندراوبخښې چې زه خپل نفس ته داوویل شم چې داسي څوک شته چې زماسره واده کوي.داته یې چې زه دي دخپل ژوندهمسفره وګڼلم،

اوزه دي ددې لپاره انتخاب کړم ترڅوستادژوندیوه برخه شم.ترتابه زه بل داسي وفاداره،دلوړفکرخاوند،دښه استعدادخاوند، اوغم شریکه چېري پیداکړم.الله (ج) خوله ازله هرڅه پوره درکړي دي،اودهیڅ شي کمی درکې نشته. ستاپه رقم خلک خوپردې دنیاډیرلږاوهغه هم یوڅوک څوک وي،چې دهغوو کموله جملې څخه یوته یې.خبرې راڅه اوږدیږې اصلی موضوع ته به راشم.

محترم ښوونکی صاحب!

ماخوداتصمیم تراوسه پوري ندی نیولی چې زه به دستی واده کوم. ماداپریکړه له ځان سره کړي ده،ترڅومی ښوونځی‌نه وي خلاص کړي واده نه کوم.اوخپله اینده دالله (ج) په توکل اوملګرتیاسره په خپله سموم.زه غواړم چې ځان تریوځایه ورسوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله ځانه يومسلکې جوړه کړم، ترڅووکولاي شم دې ټولنې ته خدمت وکړم.هره رشته مي خوښه ده که هرې رشتې ته کاميابه شوم انشاءالله سرته به يې ورسوم.خوزماچې ډيره خوښه ده هغه ډاکټرې ده اوکه خدای(ج) ورته کاميابه کړم خوبه شه يې.دارښته مي ځکه خوښيږي چې عموماًکوم څوک چې پدغه رښته کې کارکوي،هغه ټوله دصبرخاوندان اوپه زړه کې ترحم لري.

پرمريض مهربانه وي اودمريض لپاره لکه نوکرچې يې وي، ترهغه يې خدمت کوي ترڅوچې دښه صحت خاوندشي.دمريضانوپه مقابل کې له ښه رويه څخه ډيره استفاده کوي.تل پدې هيڅه کې وي چې دمريض زړه ځان ته راجذب کړي،هرڅه دمريض په ژبه اودمريض په خوښې سره کوي.نوزماهم ځکه دارښته خوښه ده.زه خوډيرکوښښ کوم ترڅوددې رښتې ارمان پوره کړم.کچيري مي داهيله پوره نشوه بياهم نه نااميده کيږم،بياکه هررښته وه هغه پسي تعقيبوم اوسرته يې رسوم.زه دومره ژر دواده کولونيت نلرم،اوتاته هم داوعده نشم درکولاي ترهغه پوري څوچې زه خپل مقصدته نه يم رسيدلې .خودومره ويلاي شم چې ستاپه شان بختورخاوندبه ديوې بختورې ښځې په نصيب وي.ته رښتياچې دانسان په بڼه ملايکه يې.

په تافخرکيږی،اوته دفخرکولولايق يې. ته چې زماخاوندشي زه به نورڅه وغواړم. زه درسره واده کوم اوستاسره په واده کولوراضی يم.خوهغه وخت چې زه خپل تحصيل بشپړکړم.ته به دازمايوه خبره منی.چې داکاربه زمااوستاپه منځ کې وي بل به هيڅوک نه باندي خبروي.دابه يورازوي زمااوستاپه منځ کې.يوازي اويوازي به زه اوته ځني خبريو.ترهغه وخته پوري چې زمااوستاواده کيږي.نوردي وخت نه نيسم هميشه خوشحاله ،صحت مند،سرلوړي اوډژوندپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولوچاروکې کامیابه واوسی.اوددې بیت په لیکلوسره دي په خدای(ج) سپارم.

عزت الله(ج) درکړي قدردان یې ترهرچا _ جنتی اوسې معلمه مهربان یې پرهرچا

تشکرستادعاګویه اوستازده کوونکې پاڼه.

بیایې لیک په یوپاکټ کې واچوی په کتابچه کې یې وساتی.کله چې یې لیک په کتابچه کې واچوي نودافکرورته پیداشو،چې ځومره ډیرې خبرې مي کې والیکلې،دومره اوږدتفصیل ته خوحجت نه و،کاشکې یوکوچنی لیک بیرته ورته والیکم.خوبیرته یې ارادې ته تغیرورکړچې ځه اوږدتفصیل سحي دي،ځکه چې یوخوبه دي له انتظارایستلوخلاص شي اوهم به له هرڅه خبرشي.اوبل زه به خپل درسونه ښه په بیغمې سره سرته ورسوم.خو بیرته یې لیک پرخپل حال پریښودي.کله چې سهارشواوښوونځی ته راغله،نوښوونکی اصف ته یې لیک په داسي حال کې ورکړچې هغه یې کورنۍ کارامضاء کوی.هغه هم دپاڼې لیک له زده کوونکوڅخه پټ کړاوله ځان سره یې وساتی.

دپاڼې لیک ته ډیرپه تشویش و،چې څه به یې راته لیکلي وی.داچورت به وروالویدی چې ایاداسي خوبه یې نه وي راته لیکلي چې ته می دپلارپه ځای وې،ماداګمان نه کاوې چې ته به ماته په داسي بدنظروګورې؟

ته خوزموږښوونکی یې اوښوونکی نه بایدداسي څه په خپل ذهین کې ولري؟ ته خوزموږ لارښودوې،اوتابایدماته په داسي نظرنه وای کتلې.اونه بایدتاماته داسي څه ویلي وای؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نورنه وای تاخوبه زماعمرله خپل عمرسره پرتله کړي وای؟په یوه ساعت کې ورته زررقمه چورتونه ورلویدل.اودی غریب به یې یوې اوبلي خواته دوري دوري کوی.

بیایې له ځان سره دافکروکړ چې پاڼه نن خوابدې معلومیده.حتماً یې دغسي راته لیکلي دي. کچېري دغسي یې راته لیکلي و،بیابه زه هم ددې دمینې اوددې ښوونځی‌سره خدای په اماني دتل لپاره وکړم.داښوونځی‌دي وي اوپاڼه.ماته نور داښوونځی‌دوزخ ده.زه به بیادپاڼې مخ په ټول ژوندونه وینم.ترهغوپوري مایوسه وترڅوچې کورته راغی.

کله چې کورته راغی له څانگه سره یې ستړې مسې لا نه وه کړي چې له جیبه یې لیک راوایستی اودلیک په ویلوبوخت شو.دپخواپه رقم بیادلیک په ویلوسره په لرزه شواوریږدیدی لکه دعمروسپن ږیری چې وی، یالکه چاچې خپله حوصله له لاسه ورکړي وي اوډیرخواشنی وي.

هیڅ یې ځان نشوای قابوکولای.خولیک یې په ویلوویلوترپایه ورسوی.کله چې یې لیک ترپایه خلاص کړ،نونیږدي وچې له ډیرې خوشحالی څخه یې زړه دریدلای وای.دایې له ځان سره ویل چې ماڅه گمان کوي اوپیښ څه شول. څومره ښایسته الفاظ یې راته لیکي دي.رښتیاهم چې دیومین لپاره له ملغلرو اوسروزروڅخه دخپلې معشوقې لیک باارزښته وي.

له پاڼې څخه ډیرخوشحاله شو،چې دده دومره صفت یې کړي و،چې په لیک کې یې دا ورته لیکي وچې ترتابه بل بختورچیري وي.اوته به دیوې بختورې ښځې په نصیب کیږي.داپه دي ماناچې واده راسره کوي اوزه یې خوښ کړي اوقبول کړي یم.خوهغه وخت چې داخپل درسونه سرته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه ساعت ښوونکی اصف نه ویوپاچاواوپاچاهی یې کول.په ځمکه نه ځایدی له ډیرې خوشحالۍ څخه.

له ځان سره داوویل چې زه خوترمرگه پوري انتظارورته کولاي شم.بس ماهم لدې څخه دغه توقع درلوده.دغه ماته کفایت کوي چې زه فقط ددې خوښ شوي یم نورفرق نه کوي که ډیره موده ووته کې.

غوښتل یې چې یوبل لیک ورته والیکي خوبیایې خوښه نه شوه، چې ځه اوس خوخبره ټوله سره خلاصه شوه نورنولیکونوته ضرورت نشته.

داکیسه یې څانگې ته وکړه چې پاڼې خوزماسره په واده کولوراضی ده.

څانگې خومخامخ ورباندي خوشحاله شوه،په زړه کې یې ډیره خوابده وه.ځکه دیوې ښځې هم بن (بله میرمن) نه خوښیږي. مړه یې کړه څه نه وایې خوچې دبل واده دکولوورته ووایې ځان وژنی.خوڅانگه ځکه ددوي په واده کولوخوشحاله وه چې دې اولادنه درلود،اودښوونکی اصف اوپاڼې په واده کولوخوشحاله اوراضی وه.

هلته یې له ځان سره داتصمیم ونیوی چې له واده وروسته به له پاڼې سره دیوې ښې ملگرې په حیث ژوند تیروی.جنگونه،چنجالونه،دعوې اوبیځایه غالمغال به نه ورسره کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم څپرکی

دپانې له ښوونځۍ خخه دفراغت وروستی کال و،دامتحانووخت يې ورځ په ورځ رانيږدې کيدی.دې اوددې ټولوهمصنفيانودکانکورلپاره ښه اماده ګی نيوله وه.اوهرې يوې به يوبل ته داويل چې که خدای (ج) راسره مل واونمرې مي پوره وي زه طب انتخابوم.بلې به ويل چې زماانجينرې خوښه ده بلې به ويل زماحقوق خوښ دی،بلې به ويل چې زماډيرې پيسې خوښې دي غواړم اقتصادووايم.ډول ډول مسلکونه هرې يوې دځان لپاره مخکې ترکانکوره خوښ کړي و. خوبعضوانجونوبه داويل چې زمالپاره دغومره درسونه کافي دي،چې له مکتبه فارغه شم دستي واده کوم،داځکه چې يوخوله درسونوڅخه  ستړې يواوبل دکورنۍ له خوادلوړوزده کړولپاره اجازه  نشته راته.خوپاڼې څه نه ويل چې زمادغه رښته خوښه ده،ترڅونازوپوښتنه ځني وکړه چې ته ولي څه نه وايي ستاکوم مسلک ته زړه دي؟

پاڼې ورته وويل:

زه خومخکې له مخکې پيشګويې نشم کولای.څومسلکه انتخابوم هره يوه ته چې کاميابه شم هغه وايم.دافرق نه راکوي چې حتماًدې انجينرې ياطب وي. هرې رشتې ته چې مي نمرې پوره وي هغه رشته وايم.

نازوورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې داسي ده زه به هم ستاپه خير ځوانتخابه وکړم.

_ هوداسي نه وي چې يوانتخاب وکړي،اوهغه ته دي نمرې کمې وي.ډېر مسلکونه انتخاب کړه،يونه يوبه سره ورسيږي.

_ ښه شوچې راته ودي ويل.کنې ماځويومسلک انتخابوی.

دازموينې وخت راغي اوټولوشاګردانو ازموينه ورکړه.کله چې داطلاع ناموخت شو،نودپخواپه شان پاڼه اول نمره اونازودوهم نمره شوه.دوي دواړې پدي ډېرې خوشحالي وې چې اول نمره اودوهم نمره ددولسم صنف ډېرامتيازيات لري اوډېرامتيازونه ورته ورکول کيږي په خارجی بورسونوکې.

کله چې يې دوي ته پارچې ورکولي،دوي پريږده ټول ښوونکي،مديرې اوسرمعلمې دوي ته مبارکی اوپه يوپاکټ کې څه نقده پيسې ورکړي ترڅونورزده کوونکي ښه تشويق اوپه خپلودرسونوکې کوښښ وکړي ترڅوښه نمرې يوسي.

پاڼې چې کله خپله پارچه کورته راوړه،هلته يې موراوپلارډېرخوشحاله شول.پلارېې مخکې لاوعده ورکړي وه،چې که په دوولسم صنف کې هم اول نمره شوه،نوخپلې نازولې لورته به يوه دسروزروانګوشترۍ اخلې.پاڼې هم دستي پرخپل پلارذيری وکړچې زه خوپه دوولسم صنف کې اول نمره شوم. تاچې کومه وعده راسره کړي وه په يادبه دي وی پلاره؟

_ هولورې!په وعده خوزه ولاړيم اوهغه وعده پرځاي کوم.

_ رښتياپلاره!دسروزروانګوشترۍ راته راوړئ؟

_ هولورې!همدانن اوهمداوس يې درته راوړم.پلارېې له ځايه راولاړشواوله بازاره يې يوه دانه دسروزروانګوشترۍ چې په مابين کې يې يوښايسته پيروزېې غمی وپه څلورزره افغانۍ خپلې نازولې لورته واخيسته اوورته رايې وړله اوورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ده لورې!داستاداول نمره گی انعام.

پاڼې هم له پلاره انګوشترۍ واخیسته اوډېرخوشحالی احساس یې کاوه،مننه یې ځنی وکړه.

په دغه ماښام ښوونکی اصف هم ددوي کره راغی، یوغټ ګل چې دمبارکی پیغام هم باندی لیکل شوی و،پاڼې ته یې ورکړ،اوپه خوله یې هم مبارکی ورکړه،اوددي سربیره یې دکانکورپه امتحانوکې هم برياوي وغوښتي.

پاڼې هم ګل ځني واخیستی اومننه یې ځني وکړه.

وروسته یې دکانکورپه باره کې معلومات ورکړل،چې ته بايدله لسم صنف څه تردوولسم صنفه پوري ټول کتابونه مطالع کړي،داځکه چې دکانکورپه امتحان کې ددغه دروصنفوډېرسوالونه راځي،داهم په يادولره چې په کانکورکې ځورشتې انتخاب کړي،کیدای شي یوې ته نه یوې ته کامیابه شي.کچېري تایوه رشته انتخاب کړه،اودهغې رشتې لپاره دي پوره نمرې نه یووړی،نوبیابله رشته نشي ویلاي کوم چې تانه وي انتخاب کړي،انتخاب بايدډېروشماروو کړي.پاڼې هم ورسره خوښه کړه چې حتماًبه دغسي کوم.بس هر څنګه چې ته راته وایي هغسي کوم.

_ته په ژوندکې هرڅه کولاي شي.اوته ددرس ویلوارمان لري،ته به حتماًخپل مقصدته رسیږي.ته ډېره لايقه،هوښیاره اودښه فکرخاونده یې.اوبل زه هم هره همکاری درسره کوم.دپیسوغم چې ونکړي.اوما ستادپیسوبندوبست کړي دي.له کوره اوله خپل پلاراومورڅخه هم بیغمه اوسه،ځکه زه یم اوددوي ډېرخیال ساتم.

دښوونکی اصف خبرو پاڼه دې ته وهڅول چې رښتیا په ژوندکې بایدهرانسان خپل ځان یوځای ته ورسوی،خپله اینده پخپله روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي.دښوونکی اصف هره خبره يې منله،اودادډ يقين وچې زمالپاره هرڅه کولاي شي.

ځکه هغه له پخواڅخه ورته يو منل شوي شخصيت و.بل پدي بيابيخې باورې شوه چې ښوونکی اصف يې کيدای شي دراتلونکی ژوندیوخوږملګری جوړشی،اوهغه خپله غواړي چې په مالوړتحصلات وکړي نورنوزه څه غواړم.زه بايدخاص اوخاص توجوخپلودرسونوته وکړم.

ښوونکی اصف به موراوپلارته هم ويل ،چې پرخپلې لورټينګاروکړي چې خپل عالی تحصلاتوته زياته متوجې شې.هغوي به هم دښوونکی اصف خبره پرځمکه نه غورځول.داځکه چې هغوي په دې پوهيدل چې يوازی ښوونکی اصف دی،چې له پاڼې سره همکاری کولای شي.اودهغې دښه ژوند غوښتونکی دی.اودی پدې هم پوهيږی چې پاڼه يوځای ته ځان رسولاي شي. نوبه يې ځکه پاڼې ته ډيرډيرويل چې تاته چې ښوونکی اصف هرڅه وايې هغه منه.

پاڼې به تسلی ورکوله چې زه هم هغه کوم،چې ښوونکی اصف راته وايې. اودده هرې خبرې ته ډيرارزښت ورکوم.له هغه پرته تراوسه چاراسره دومره مرسته نده کړی. په اوس وخت کې دمرستې کولوڅوک پاته دي،چې له چاسره مرسته يافقط يوه نيکه مشهوره ورکړي،داسي هيڅوک نشته.تاسي بيغمه اوسي زه هم هغه څه کوم چې دښوونکی اصف راته خوښه وي.

له نيکه مرغه چې يوه مياشت لانه وه تيره شوي،چې رياست معارف ته له استراليا څخه دپنځوزده کوونکولپاره بورسونه راغلي و،دري دهلکانولپاره اودوه دانجونولپاره.مختلفي رشتې پکښې وې،لکه انجينری،طب،اقتصاد، اداره،کمپيوټرساينس اوحقوق.اوددغو بورسو انتخاب خپله دشاګردانوپه خوښه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ښوونکی اصف لدې بورسونو خبرشو،ډېرخوشحاله شواوبل یې دپاڼې اونازولپاره دایوطلایی چانس وګڼې.اوددوي ددواړودغه رشتې خوښې وې.دستي دپاڼې کورته راغی له هغې سره یې مشهوره وکړه چې په دابورس کې ولاړه شي،ځکه داخوتر کانکورلاښه چانس دي.زمادرته دابورس خوښ دی.

پاڼه خودښوونکی اصف په هرې خبرې باوردرلود،ورته وویل:

څومره لیري ځای دی؟اوڅومره ډېروخت؟ایازه به ددومره لیري مسافری طاقت ولرم؟

_ ولي یې نه لري.ته خوپېرته له هغه هم مسافره کیدې،څه نیږدي مسافره اوڅه لیري.

_ زماخودهغه ځای ژبه نده زده.

_ ژبه خواسانه ده،دستی دي زده کیږي.ته خوپه انګریزی لږلږپوهیږی. اوانګریزی خوبین المللی ژبه ده،هرچېری کولاي شي چې خپل مشکل په رفع کړې.څوک چې په یوه هیواد کې اوسیږی،هغه ډېرژردهغه ځای ژبه زده کولاي شي.په شپږمیاشتې کې دي ټول مشکلات حل کیږي.

_ زه څه نشم کې ویلای.چې ته وایي نوبیاخوسحي ده.مخ یې موراوپلارته وراړوي،چې ستاسوڅنګه راسره خوښه ده چې زه ولاړه شم؟

موراوپلاریې دواړوورته وویل:

مونږبه څه ووایو.اوتاته خومعلوم دي،چې که ښوونکی اصف هرڅه درته وایي هغسې کوه.مونږپدې کې هیڅ نشوویلاي.زموږاختیارټول دښوونکی اصف په لاس دي.هغه پوهیږی او کاریې.

بیاښوونکی اصف پاڼې ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دایوطلائی چانس دی،اوتاغوندی لایقوزده کوونکولپاره دی،که ته نه ولاړې بیاستاپرځای بله یوه استوې.داسي چانسونه ډیرلږپیداکیږي.

پاڼې ورته وویل:

چې دموراوپلاراوستا راسره خوښه وي،بیاخوزه څه نه وایم.ځمه توکل پرخدای(ج).

_ وارمه خطاکوه.ډیرژربه دهغه ځای قدردرته معلوم شي.زه به نواوس نازوته ورشم اودهغې کورنۍ به لدې راغلی بورس څخه خبره کړم.

دنازوکره راغی اودنازوله کورنۍ سره یې داخبره شریکه کړه،چې داسي یوطلائی چانس راغلی دی،کچیري تاسونازوته اجازه ددې چانس لپاره ورکړي چې خپل لوړتحصلات په خارج کې وکړئ؟

هغوي هم لومړی وارخطاوه چې دادومره لیري ځای،دومره اوږده مسافری.دااختیارې نازوته پریښودی چې نازوپوه شه اوکارېې.کچیري ددومره لیرې مسافرې توان لري.موږڅه نشوکې ویلاي.

نازوورته وویل:

زه څه نه شم ویلای،داخوښوونکی اصف ته معلومیږي.ځکه هغه دډیروخت ښوونکی دی،اوډیرزده کوونکي یې روزلي دي.نوداکه طلائی چانس نه وای بیاخودی په ماپسي نه راتلې.چې دده راسره خوښه ده بیانوځم زماهم توکل پرخدای(ج).

دنازوکورنۍ پرښوونکی اصف ډیراعتباردرلود،دهغه اعتباراودنازودخوښي په خاطرېې اجازه ورته ورکړه.

ښوونکی اصف پدې ډیرخوشحاله شو،چې پاڼې اونازودواړوداچانس له لاسه ورنکړ،ځکه ډیرزده کوونکي دلیري ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسافري نشي کولای،بل دوي چې سره يوځاي وي په غره کې به لاخوشحاله وي.له هغه ځايه دستي راغی دمعارف رياست ته .اوهغووته يې پاڼه اونازوورمعرفی کړه.رياست معارف هم فورمې ورکړي چې دابه خانه پوري کوي،هم به خپل شپږدانې عکسونه او دتذکرې فوتوکاپياني له دغه ډکوفورموسره راوړي.

ښوونکی اصف درياست معارف دقانون پراساس،ددوي ټولي فورمې ورډکې کړي،اوهم يې ددوي دتذکروفوتوکاپياني راوړي .هلته يې ددوي ټول کارخلاص کړ،اوددوي ترخبره پوري معاطله شو.کله چې دمعارف له خواورته خبرورکړل شو،چې صبابه ټول زده کوونکي مرکزته ځي اوهلته ددريومياشتو لپاره کورسونه ورته ويل کيږي.کچېري کوم زده کوونکی هلته ناکامه شو، بياهغه نشي کولای چې پدې بورس کې کوم چې ورته انتخاب شوي برخه واخلي.

دپاڼې اونازو اخيره شپه وه په خپل کورکې.سهارېې نوحرکت کوي.

دپاڼې مور ډيره وارخطاپدې وه چې لوربه يې په هغه پردي ملک کې څنګه ګذاره وکړي.داپه دې هم بيريده چې هسي نه وي لوريې هلته ورکه شي اوبيايې په ټول عمرديدورسره ونشي.

خوپاڼه پدې پوهيده اوخپلې مورته يې ډيره دلاسايی ورکوله چې زه نه ورکيږم.زه خويوازی نه يم نازوراسره ده .اودري نورهلکان دي.

اوته خوپرښوونکی اصف پوره باورلري.اياهغه ماداسي ځای ته ليږی چې زه هلته ورکه شم؟خوهيڅ وخت داسي نشي راسره کولای.دهغه سره زماغم دی.

اوهغه زمادراتلونکی دلاښه کيدوپه خاطرداهرڅه کوي.زمازړه هم نه غواړی چې ولاړه شمه اولتاسوڅخه ليره په پردي ملک کې ژوندوکړم.هلته خودرسونه وايم.ښه دي چې خدمت وکړم.که نورنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي ددې وطن حق چې دیومورحق لري.لږترلږه هغه پرځای کړم.ته وارمه خطاکوه،چې ښوونکی اصف راته وایې نوبیازه هم دهغه خبره پرځمکه نشم غورځولای.هغه ماته دا قناعت راکړي،چې هلته به ډیره خوشحاله یې، دهغه ځای ډیرښه خلک دي، حکومت یې حکومت دي،دهیچاحقوق ترپښونه لاندي کیږي،په هغوځایوکې دنارینه اوښځې حقوق سره برابروي.په زرهاووښځې شته چې هلته یوازي ژوندکوي.هیڅوک یې مختته نشي دریدلاي.مورې ته ولي دافکرکوي؟هلته خوحکومت شته،عدالت شته،داسي ځای خوندي هغه چې نه پوښتنه شته اونه به دچاپروالري،نه به دچاخواورباندي بدیږي.

مورې! هلته پوښتنه شته،انصاف اوعدالت شته،بیانوپه ماڅه کیږي.ته هیڅ مه خفه کیږي.

مورکې!ته هم دعاوي کوه چې خدای(ج)مووطن راجوړ کړي.لکه نن چې زه له خپل ګران هیواده ځم پردي ملک ته په تحصیل پسي،دغسي دي خدای(ج) هغه ورځ راولي چې دنوروملکونوڅخه زده کوونکي دتحصیل لپاره دلته راشي.

لکه دانورملکونه چې په پښوولاړدي زموږوطن هم پر خپلوپښوودریږي.

اودهرچاحق کې معلوم وي،اوله هیچاسره ظلم اوستم ونشي.دهغې ورځې په ارمان یم،زمامورجانې!ته بیغمه اوسه،داسي بیغمه اوسه لکه ستاپه ښنګ کې چې یم.ته فقط دعاوي راته کوه.ستادعا خدای(ج)قبلوی،اوزه به خپل مقصدته ورسیږم،ترڅوخپل مظلوم اوبیچاره ولس ته په صادقانه توګه خدمت وکړم.

پاڼې اومورېې ترسهار داشپه په ویښه تیره کړه.مورغریبې یې فقط ددې سترګوته کتل چې بیابه یې ووینم که یا. کله چې ساعت اته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بجې شوي نو ښوونکی اصف يې کورته راغی. وروسته له هغه څخه يې پاڼه اونازودواړې رياست معارف ته راوستلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهم څپرکی

ښوونکی اصف پاڼه اونازوچې کله ریاست معارف ته راغلل ،هلته نوورته هغه دري ښوونکي هلکان کوم چې ددغه بورس لپار انتخاب شوي ول،په انتظارورته ناست ول فقط دوي ته معطل ول،کله چې ټول سره یوځاي شول اوټولوخدای په امانی سره وکړ،مخ دمرکزپه خواورروان شول.

په لاره کې لومړي هلکانوخپل ځانونه ورته معرفي کړل،هریوه خپل نوم ورته وښودی. یونظروبل محمدجان اودریم ثناءالله نومیدی.پاڼې اونازوهم خپل نومونه اوځانونه ورته معرفي کړل.

کله چې مرکزته راورسیدل،هلته بیاټول زده کوونکي چې دافغانستان داتوولایتونوڅخه راغونډشوي و،یوځاي شول.ټول جمله زده کوونکي څلویښت نفره شول،دیرش هلکان اولس انجوني وې.هلته ټولو زده کوونکوته په مرکزکې داوویل شول چې موږتاسوته دري میاشتي درسونه وایو،هغه پدي خاطرچې تاسي دهغه ځاي له ژبې اودرسونوسره بلدشي.

وروسته له دریومیاشتوله تاسوڅخه ازموینه اخیستل کیږي.کوم څوک که په ازموینه کې ناکامه شو،هغه به ددې چانسه څخه محروم کیږي،اونشي کولاي چې ولاړشي.داپدې خاطراوس لاتاسي خبرووچې تاسي دلته ډیرزیات کوښښ وکړي ترڅوښه نمرې یوسي اوکامیابه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کوونکو ورسره ومنل ،یوبل سره ویل کچیري ناکامه شوییاخونشوتللاي .دابڼه وشوچې مخکې ترمخکې خبرشوو.اوس بایدډیره توجودرسونوته وکړي. همداوجه وه چې ټولوسهاراوماښام دومره کوښښ کوي چې حدیې نه و.

کله چې دري میاشتې پوره شوي،ددوي ټولوازموینه شروع شوه.کله چې یې نتیجه معلومه شوه یوشاګردهم نه و ناکامه شوي.هرشاګردخپله فیصدی پوره کړي وه.

پاڼه اونازودواړو طب متوسط ته پوره نمرې وړي وې.ثناءالله انجینری ته ،محمدجان اونظرجان اقتصادته کامیاب شول.

پاته هغه نورزده کوونکي مختلفورشتوته لکه،انجینری،کمپیوټرساینس، اقتصاد،اداره(منیجمنټ)اوطب متوسطه ته کامیابه شوي ول.ټولو خدای(ج) ته شکرونه ایستل چې یوهم ناکامه نه شو.

دغوڅلویښتوزده کوونکویوه هفته لابله په مرکزکې تیره کړه.ددوي لپاره یې پاسپورټونه اوویزې اخیستلي.

کله چې یې ټول کارونه هلته په مرکزکې خلاص شول،نوله هوایې میدان څخه یې حرکت وکړ.لومړې دوبۍ ته راغلل بیاله دوبۍ څخه په بل جهاز (طیاره) کې سپاره شول اواسترالیاته ولاړل.

ټول زده کوونکو یې داسترالیاپه مرکزسیډنی کې چې جنوبی سیډنی پوهنتون په نامه نومیدی،اوددوي لپاره خاص ځایونه چې په پوهنتون کې ورته پریښودل شوي وي دوي ته وروښودل او ټول یې ځای پرځاي کړل.

کله چې شپږمیاشتې دټولوزده کوونکوپه سیډنی پوهنتون کې تیري شوي.پرته ددرس ویلوڅخه داسترالیادخلکواوزده کوونکوپه خوي اوخواص وپوهیدل.وروسته ترشپږومیاشتوڅخه هیڅ مشکل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دژبې له خواورته ونه ددرس ویلو.افغاني استعدادخوټولي دنیاته معلوم دی.په شپږومیاشتوکې یې له ټولوزده کوونکوڅخه په درسونوکې مخته شول.

اودهغه ځای شاګردانوڅه دنورومملکتوڅخه چې کوم شاګردان راغلي و هغوي هم لدوي سره پدي خاطرتضاددرلود،چې دوي وګوره اوددوي دومره استعداد.نورخویې کوم تاوان نشوای ورسولای فقط دابه یې ورته ویل چې خپل هیواد خویې خراب کړي،اوس غواړي چې زمونږهیواد خراب کړي.

داافغاني زده کوونکو هیڅ نه ورته ویل خپل درسونه به یې تعقیبول اودچادخبروپرواېې نه درلوده.ټولو توجو درسونوته کړي وه دابه یې له ځان سره ویل چې ځواب به یې په ازموینه کې ورکوو.

په هرصنف کې به چې افغانی زده کوونکی و،په هغه صنف کې نه چاهیري نمرې وړلای شوي اونه اول نمره ګی،اونه داسي زده کوونکی پیداشوچې دوي یې شاته کړي وای.

ورځې اوشپې دي چې افغاني زده کوونکي یې د استرالیاپه ایالت کې صباکوي.پوره دوه نیم کاله یې ددرس ویلوتیرشول.ددې پوهنتون ټولوزده کوونکوته له دووکلووروسته ددریومیاشتولپاره رخصتی وه.هرزده کوونکی کولاي شول چې ددریومیاشتولپاره رخصتی وکړي.

دټولومملکتوزده کوونکواوهم افغاني زده کوونکودتګ تیاری ونیوي چې خپلوکورته وروسته تر دووکلنوولاړشي.خویوازي پاته غریبه وه چې دخپلې غریبۍ اودکم اقتصادله وجې ونه توانیده چې خپل خوارہ هیواداوکورته ستنه شي. دایې دځان لپاره بهتروګڼل چې هلته پاته شي اونور کورسونه چې درخصتۍ وروسته ویل کیدل ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نازوچې کله پاڼه والیده چې دانه ځې نودې هم نه غوښتل چې ولاړه شي اوهلته له پاڼې سره پاته شي.خوپاڼې دې ته مجبوره کړه چې زه خوددې لپاره نه ځم چې دلته نور کورسونه وایم.که یوارولاړم بیاخوته پوهیږي چې زړه مي له هغه ځایه نه راځي.اوس لادلته اموخته شوې یم،څوک مي ډیرنه یادیږي.ته پوهیږي درسونه دي هرڅه یې راڅخه هیرکړي دي.کورخوپه میاشت کې له ټولوسره خبرې کوم.هلته کرارې ده ټول روغ اوجوړدي.ښه ده چې دلته خپل دوه نیم ماشتنې کورسونه ووایم.هغه ډیره ګټه راته کوي .ته ولاړه شه ستاخوټوله کورنۍ یادیږي.

ښه نوچې داسي ده بیازه څه وکړم.

پاڼې ورته وویل:

بس زماله خواڅخه که هرچامي پوښتنه کول،سلامونه مي باندي وایه.بل زه درته یولیک لیکم دابه یوازي اویوازي ښوونکی اصف ته ورکوي هغه یې بیازماموراوپلارته رسوي.دایې نازوته ځکه وویل چې هسي نه وي نازوهم ددوي له رازه اوس دلته خبره شي.دابه داګمان کوي چې دالیک یې دخپل موراوپلارلپاره لیکلې دي.اوبل زموږکره که ولاړې نوزماموراوپلارته زماله خواډیرسلامونه وایه.هغوي به زماپه خاطرپه لاسونومچوي دابه ورته وایې چې دپاڼې هلته ډیرسات تیردی اوډیره خوشحاله ده.پدې خاطرچې درسونه ورباندي ډیرو،نه یې شوای کولاي چې راشي.ګوره چې داډیرورته ووایه چې زمادلته ډیرسات تیردی.بس دغه کارمي دي چې سرته یې راته ورسوي.

نازو ورته وویل:

داخوډیراسانه کاردي.داخوحتماًکوم.اولیک به دي ښوونکی اصف ته په خپله ورکړم.ماته به ډیري دعاووکوي چې په خیرتر کوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسیږم.دواړوپه غیږکې سره ټینګې کړي اوخدای په امانی یې سره وکړل.

پاڼې نوپه دادریو میاشتو کې نور کورسونه اودکمپیوټرپروګرامونه چې دې بیاکولاي شول چې خپل هرمشکل باندي رفع کړي وویل.اوداکورسونه اودکمپیوټرزده کړي یې بیاپه خپلوشخصی پیسوباندي ویل.

کله چې دري میاشتې تیري شوي.دټولوځایوڅخه زده کوونکي بیرته پوهنتون ته راغلل اوافغاني زده کوونکي کوم چې تللي وبیرته ټول راورسیدل.

ددوي په راتګ سره پاڼه ډیره خوشحاله اوهغه ورځ خوبیخي پردې داخترورځي وي چې خپله ټینګه ملګرې نازویې والیدل.دومره خوشحاله وه چې اندازه یې نه کیده.

له هغې سره یې سترې مسې وکړه اودخپل ګران هیواد،موراوپلارراوښوونکی اصف،اوهرڅوک چې به یې ذهین ته ورتلل دهغوي پوښتنه یې ځني وکړل. خوددې چې ډیره یادیده موریې وه.ځکه مورخوډیره مهربانه اودهراولادهمرازه وی.پوښتنه یې ځني وکړه چې تامي موروالیده.

نازوورته وویل:

ټول مي والیدل.اوټول جوړاوروغ ول.ټولوستاپاره سوغاتونه راکړي دي.ټولوتاته ستادکامیابی دعاګانې کولي.ټولوویل چې مونږستادکامیابۍ په هیله یو.اودټولودایقین وچې ته به دلته هم اول نمره کیږي . ستاموراوپلارمي دواړه ولیدل اویوه غرمه مي ورسره تیره کړه.

بل ستالیک مي خپله ښوونکی اصف ته ورکړ .

پاڼې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نوستابه ډیرسات تیرشوي وي.خپل ټول خپلوان،دوستان، موراوپلار، خپله کورنۍ به دي لیدلې وې؟

_ ټوله مي ولیدل،ټول مي په لیدوسره ډیرخوشحاله شول.

_ څوک ډیردرته خوشحاله شول چې اول یې ولیدلې؟

_ ټوله کورنۍ راباندي ډیره خوشحاله وه.خوچې ربښتیادرته ووایم مورمی ډیره راباندي خوشحاله شوه بیخی یې زړه ته نه لویدل چې زه دې ورغلې یم.بی حاله وه له ډیرې خوشحالۍ څخه.ددې خبروپه اوریدوسره دپاڼې له ستر ګوڅخه اوښکې راتوي شوي اودایې سوکه ورته وویل چې مورخونموروي.اه ښه اوس داراته وویه کله چې دي زمامورواليده؟ هغې څه عکس العمل وښودستاپه لیدلوسره؟

_ اف وی پاڼې!داته څه کوي.که ژاړې بیایوه خبره نه درته کوم.تاراته اوښکې اوژړاساتلي وي؟ زه بیخي یوه کیسه هم نه درته کوم ژاړه څومره چې دي په وس پوره وي.

_سمه ده نوره نه ژاړم.ښه اوس نوراته ووایه.دسترګوڅخه یې اوښکې پاکې کړې اوبیانازوته غوږشول.

_کله چې می ستامورواليده هغه زماپه لیدوډیره خوشحاله شوه،هغې دافکروکړچې ته هم راسره راغلې یې.ستاپوښتنه یې راڅخه وکړه چې هغه څه شوه اوچیره ده؟ چې یوارخویې پرداسرمچ کړم.څومره به یم یادیده.

خومایې خبرې ورنیمي کړي اوورته ومي ویل:

ستادرسونه نه وخلاص شوي،هغې نشوای کولای چې راشي.وروسته تردې خبرې ماداګمان کوي چې ستاحال اواحوال پوښتنه به راڅخه وکړي چې هلته خوشحاله ده نده .خوهغې خپل پوړنۍ مخ ته ونیوی اودومره یې وژړل چې زه یې هم په ژړاراوستم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوماهم ورسره ډیر وژړل.په خپل ورتګ یې پښیمانه کړم چې ولې ورته راتلمه.ماغوښتل چې دلاسایي ورکړم نومې ورته وویل:

مورکې پاڼه پدې خاطرنشواې راتللې چې دهغې ډیر درسونه پاته و.هغې غوښتل چې اول نمره شي.اوهغې ماته ویلي وچې زه ډیر کوښښ پدې خاطرکوم چې ماته مې موراوپلارویلي دي،چې ته بایدهلته هم اول نمره شي.اودهغه ځاي اول نمرګۍ خویوځه نه ډیرکوښښ غواړي.هغه ډیره خوشحاله ده داسي ده اوداسي....

خوزماخبروهیڅ تاثیروربالدي ونکړاوماته یې وویل چې لورې!مابه نه خطاکوې،زه خپله لورښه پیژنم چې دڅه له خاطرنده راغلې.زه پوهیږم چې هغه ولې نه راتله.ستادموردې خبرې ډیرزورراکړاوترڅمکه یې وایستم.بله بانه مې نشواې ورته کولای چې دهغې اوښکې وربالدي ودروم.

ستامورراته هرڅه وویل اوماغوږورته نیولې و.ماهم ورته ددې ځای ټولې کیسې وکړي.ماته یې په هغه ورځ داوویل چې کله بیابیرته تللې مابه حتماًخبروې.ماهم وعده ورکړه چې هروخت که تلمه نوتا دوي ورځي مخته خبروم.کله چې مې رخصتۍ پوره شوه نودوي ورځي مخکې ورغلمه اوهغې ستالپاره تحفې تیارې کړي وې هغه یې راته راکړي اوماهم درته راوړي دي.

پاڼه دمورپه حالت ډیروژړل اودیوساعت لپاره یې ځان نشواې قابوکولاي.

وروسته تریوه ساعته یې بیادنازوڅخه پوښتنه وکړه چې په هیوادکې څه حال و. ترقي شوي وه پرمختګ شوي و،حتماًبه ډیره ترقي کې شوي وي دادي څه کم دري کاله تیرشول.

نازوورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسره ځومره دوطن غم دی،چاکه وطن ته خدمت کوي نوهغه به یوازی ته یې.ترهرچایې لتاسره دترقۍ غم دی.څنګه چې پخواوهغسي اوس هم دی.ځوک یې پروالري،ځوک یې جوړکړي،دچاسره دوطن غم شته ،چیري دي دوطن مینان.ته لیونۍ شوې یې چې دوطن دابادیدوغم درسره دی،

چې نوریې نه ابادوی ته یې څه کوی.

_ ولي یې څه کوم.ته وګوره دلته ورځ په ورځ په هره برخه کې پرمختګ کیږي.ټول ولس یې دوطن په ابادیدوکې ونډه اخلې.ترڅوبه زموږخلک بیده وي.ترڅوبه دخلکوسره دترقي اوپرمختګ غم نه وي،اوترڅوبه دبل وپرمختګ اوترقۍ ته حیران تللی یو.اخیردوي هم انسانان دي.ترڅوبه دنوروله وسایلوڅخه ګټه اخلو،اوخپله نوبیا یوه ستن نشوجوړولای. افسوس اوافسوس ....

اې نازو!زه دهغې ورځي په ارمان یم چې زموږپه هیوادکې دهیڅ شي کمی نه وي.ټول دضرورت وړتوکي موپه خپل هیوادکې دخپل هیوادتولیدات وي.اوله هیوادومونوروهیوادوته تولیدات صادرشي.موږهرڅه لرواوهرڅه کولاي شو.خودکاراومسولیت ځوک ولي نه پیداکیږي.اخیرترڅوبه دغسي بې وزله اوبې وسه یو.ترڅوبه مونوروته دخیرات لاسونه اوږده کړي وي.

_ اف پاڼې!زماپرسردي دردکړل.ته اوس دادافسوس اوارمان خبرې مه کوه ماته.راشه چې خپل راوړي سوغاتونه درتسلیم کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم څپرکی

په ښارکې یوه نوې واقعه شوې وه.پریوې دوولس کلنه انجلۍ تیرې شوې و.په ټول ښارکې غوغاوه،شکایتونه وه،نارې وې ټولوپرحکومت نیوکه کوله،چې حکومت خودټولنې خدمتګاروي خوزموږحکومت پرملت ځان ساتي اوخپله ملت ته هیڅ نشي کولای.ټولنې ته یې هیڅ ګټه نده رسیدلې. مجرمین ورځ په ورځ زیاتیږي اویوه هم په سزانه رسیږي.

کاراهل کارته نه سپارل کیږي.خپله وظیفه سرته نشي رسولاي.معاش اخیستلوته تیاروي اوکارکولوته نه.چې کارنشي کولاي بیاخومعاش هم مه اخلي.دامعاش هم مجرمینوته ورکوي اوهغووته داوایاست چې موږهم درسره شریک یو. نورمونږپه کراره نشوکېښنستلی.مونږله مجرمینوڅخه په تنګ راغلي یو،مونږمجرمینوته سزاغواړو،له حکومته کارغواړو،حکومت بایدزموږله مشکلاتوڅخه ځان خبرکړي،مونږد ظالمانوله ظلم اوستم اودهغوي له پنجې څخه وساتي.بایددهغوي مخنیوي وکړي. که حکومت داکارنشي کولاي بیادي له حکومت کولوڅخه لاس واخلي چې موږیې خپله وکړو.

دادخلکوغوغااولاریونونودومره زوروکړچې هره ورځ به مظایرې وې اودښارټولي لارې به بندي وې.لاریون کوونکوبه دولایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه،دقومندانی مخه،اودملی امنیت مخه نیولي وه پردوي به يې داسي تورونه لګول اودډېرو بارانوبه يې باندي جوړ کړل.

ټول اورګانونه دحکومت دومره ورسره په تکليف شول چې له اندازې يې خبره ووته.ددوي مخه يې هم نشواى نيولاي.ځکه دعوام زوربې له خدايه (ج) بل هيڅ سترقدرت نلري. ځکه احساسات يې راپاريدلي وي.دځان اوژوندپروانه لري. اودخپل حق غوښتونکي وي.

دحکومت ټول اورګانو ورته داوعده ورکړه،چې داځل تاسي موږپريږدي. موږله دي وروسته ستاسوپه غوښتونوعمل کوو.له تاسوسره داوعده کوو،چې وروسته لدې څخه به هيڅ چيري يوکوچنی جرم لاونه شي.کچيري وشوهم موږبه حتماًمجرم ټينګوواودقانون منګولوته به يې سپارو.

موږلدې وروسته دجرم په مقابل کې سخت اقدام کوو.تاسي به هم راسره همکاره کوي.ځکه حکومت خوپررايت جوړاواباددی.کچيري تاسوله موږسره ملګرتياوکړي،نوپه يوه ځای کې به نه جرم کيږي اونه به له چاسره بې انصافي.

تاسوته داوعده درکوو،چې که موږپه خپل کارکې پاته راغلو،له خپلووظيفوتيريږو،اوتاسوته داچاري پريږدو. تاسي پوه شي اوحکومت داري مو.

لاريون کوونکوبه ورته ويل:

چې که دغسي تاسووکړل مونږستاسوسره هررقم همکاری ته تياريو.مونږهرې قربانی ته تياريو.خوچې تاسوله مجرم سره هغه څه وکړي چې په قانون کې ورته ټاکل شوي وي.داسي ونشي چې مجرم ونيول شي اوبيرته دپيسوپه مقابل کې خلاص شي.مجرم ګنهکاره وی اوګنهکاره بايدسزاووينې.موږداځل ستاسوپه راکړي وعدوباورکوو.کچيري دغسي ونشول بياموږپه کراره نه کښينو.موږنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړوچې خپل پنځه زره کلن تاریخ ترپښولاندي کړو.په موږ.کې دغومره دم شته چې حکومتي چاري پرمخ یوسو.

ددولت پدې وعده ورکولوسره لاریونکونکوله غوغااوشورځخه لاس واخیستي،اوحکومت یې پریښودي خپل کارته.

دولت هم خپل ټول اورګانونه سره یوځاي شول اوسره کښینستل په خپلوکې یې دافیصله وکړه چې نوربه په کراره نه کښیني.دجرم،دفساداورشوت، دامنیت په مقابل کې جدي هڅې کوو.

دجرم مخنیوي به کیږي.مجرمینوته به سزاورکول کیږي.مجرم که هرڅوک وبایدخپله سزاووینې.

که ددولت کوم چارواکی له مجرمینوسره پټې اړیکې درلودې،له هغه سره بایدترټولوسخت چلند،ترټولوسخته سزااوترټولوسخت مجازات شي. ترهرڅه له مخه زموږاوستاسولومړی داکاردی چې هغه مجرم ونیسوکوم چې پرهغې کوچنۍ انجلۍ یې دري ورځې مخکې جنسي تیري کړي و.

داځکه چې په دي سره به بیرته دخلکواوولس په زړوکې ځاي پیداکړو. زموږپه ورکړووعدوباندي به باوروکړي.خویوه خبره داده چې موږبه څنګه دامجرم پیداکوو؟

ددوي له منځ څخه امیرصاحب جینایې چې فضل محمدنومیدی اونوی مقررشوي و،دوي ټولوته یې داسي وویل:

داکار زه کوم په مااړه لري.تاسي ټول بیغمه اوسي .زه همیشه لومړي په هرځای کې له داسي پیښې سره مخامخ کیږم.تاسي په ماباوروکړي چې زه هیڅکله په خپل کارکې نه یم ناکامه شوی. زه تاسوته پوره ډاډدرکوم چې زه به مجرم ستاسوحضورته لاس تړلی ودروم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې امیرجینایی داخبره وکړه ټول ورته راولاړشول ،ورته وویل:

داکارستاپرته بل هیڅوک کولاي هم نشي.هررقم چې کیږي داکارژرترژره وکړه.موږټول لدې عذابه خلاص کړه.موږته به هم یوه داوړوپېزه شي.

امیرجینایی هم دستي ددوي له مجلسه راولاړشواوراغی روغتون ته په هغه انجلۍ پسی په کومې چې تیري شوي و.

په روغتون کې ورسره څلورنفره ساتونکی و.هغه یې داطاق دباندي ودرول اوخپله دهغې مظلومې انجلۍ اطاق ته ننوتی.

هلته یې له انجلۍ سره دهغې پلار،ورور،اومورناسته وه.ټولوته یې سلام وکړاوخپل ځان یې ورته معرفی کړ.وروسته له هغه څخه دانجلۍ پلارته یې وویل چې زه غواړم ستادلوره څخه تحقق وکړم.کوم چاچې پردې ظلم کړي دی.هغه به انشاء الله دخدای (ج) په زورپیداکوم اودقانون منګولوته یې سپارم.

دانجلۍ پلارورته وویل:

تراوسه له کوم مظلوم سره مرسته شوي ده چې ته یې زموږسره کوي. موږمظلومان یواوزموږ ږغ هیڅوک نه اوري.موږپه درواغومه غولوه.ستاهمدردی موږته هیڅ ګټه نکړي.ورځه په مخه دی ښه شه. موږنه غواړوچې مجرم ته سزاورکړو،مونږمجرم بخښلی دی.

امیرجینایی ته چې یې کله داسي وویل نونیږدي وچې له ډیري خواشني څه یې وهلی وای،ورته وویل:

زه دهغوو له جملې څخه نه یم چې دمظلومانوږغ نه اوري.ماپه خپل ژوندکې څوک ندي غولولی.نه تاسوته په درواغووعدې درکوم.زه ترهغه پوري کرارنه کښینم ترڅومي ستادلورمجرم ته سزانه وي ورکړی.پوه شوي که یا؟ته څنګه پلاريې چې هغه مجرم ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سزانه ورکوي.ته نه غواړي چې ستادلورسره خويې ظلم کړې دی،خوکه صباهغه بيا پرنوروانجونوتيري وکړيبيا؟.که ته دنورو انجونو پروا نه لري. مجرم اوغل دواړه يوخاصيت لري،چې يوارامو ختته شوبيا راګرځول يې ترهغه وخته پوري مشکل وي ترڅوسزايې نه وي ليدلي. اخيرته دي دالورته وګوره. اياستاپرنوروپلرونو زړه کيږي؟ اياتاخپل دردندی احساس کړی؟اياستاپه زړه يې داغ ندی درجوړکړی؟اياته نه غواړي چې داسي ظالمان ورک کړي؟ايا ته نه غواړي چې هغووته سزاورکړي؟زه داسي يوشخص يم.اوس که زماپه خبرودي باورکيږي،نوماپريږده چې دلورڅخه دي تحقق وکړم.زماهم ستالورلکه خپله لورچې مي وي.که زماپه لورهم چاداظلم کړی وای.نودغومره به باندي خوابدی اوغمګين وم،لکه نن چې يې ته غمګين کړی يې..

دانجلۍ پلارچې داميرجينايی څخه داخبرې واوريدي،نوزړه ته يې ولويدل چې داددرواغواودوکې سړی ندی،ورته وويل:

اميرصاحب!داچې ته دومره په خپل وطن مين سړی يې،نودرته دااجازه درکوم چې زماله لورڅخه تحقيق وکړي.که ستاماسيوابل هرڅوک راغلی وای،مابه دااطاق ته نه وای راپرايښی.داځکه چې دمظلوم پرواواوس هيڅوک نه لري. په هرځای کې مظلوم،غريب اوبې وسه زورول کيږي.حقوق يې له پښولاندي کيږي.په سپکه ورته کتل کيږي.په حق کې يې خيانت کيږي.په تاځکه باورکوم چې تادرداحساس کړی دی.اوته ددرده خبريې،ته دددردپه معناپوهيږي. موږله اطاقه وزو.ته پوه شه زمالوراوتحقق.داخبرې يې اميرجينايی ته وکړه اوله اطاقه څخه ټول راووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اميرجينايي له انجلۍ څخه پوښتنه وکړه.چې وارخطاکيږه مه.زه درسره مرسته کوم.ستاسره چې هرڅه شوي دی هغه ماته ګوته په ګوته ووايه.زه به پوښتنه درڅخه کوم،ته ځوابونه راکوه.

مظلومې انجلۍ هم دسرپه ښورولواميرجينايي ته دښه ځواب ورکړ.

لومړی پوښتنه يې ځنې وکړه.چې ستانوم څه شي دی؟

مظلومې انجلۍ په داسي حال کې خپل نوم وروښودی چې په سترګوکې يې ډنډې اوښکې ولاړې وې،اوپه کښته اوازسره ورته وويل،چې فوزيه.

_ ستاهمکاری ته زه ډيرضرورت لرم.ځکه زه بياپه ډيره اسانې سره هغه مجرم ته لاره پيداکولای شم.ښه ته غواړی چې هغوومجرمينوکوم چې لتاسره داظلم کړي دي،زه هغوي په سخته سزاورسوم.

_ هوغواړم يې.زه غواړم چې هغه ژوندی په ځمکه ښخ کړي.اوپه دې ويلوسره يې دومره په زوراودومره په ارمان وژړل چې که دډبرې زړه دچاوای هم به باندي ژړلي وای.

بله پوښتنه يې ځنی وکړه چې داواقعه څه وخت اوڅنګه پيښه شوه؟

فوزيې ورته وويل:

تقريباًپاؤکم دری بجې به وې.کله چې زه له ښوونځۍ څخه دکورپرلورروانه وم.

_ دوي څونفره و؟

_ درې نفره و.دوونفرو يورقم ته خولي پرمخ اغوستي وې،چې يوازي سترګې يې معلوميدي.اودادريم نفرچې و،هغه بياپه يودسمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مول يې ورباندي وهلی اومخ يې کې پټ کړی و. مايې له مخه څخه دسمال ليری کړ.اوومي پيژندی.

اميرجينايی چې کله دفوزيې څخه داخبره واوريده.ډيرخوشحاله شو.صبريې دفوزيې خبروته نشوای کولاي.دستي يې پوښتنه ځني وکړه.څوک وچې تاهغه وپيژندی؟دکم ځای دی؟

_ کوريې زموږپه کلی کې دی.شيرجان نوميږی ،زموږدکلی دخان زوی دی.

_ هغه نوردوه نفره دي و پيژندل؟

_ ياهغوي مي ونه پيژندل.

_ ته شيرجان پيژندلې؟

_ څه ووايم.خوزه يې پيژنم.

_ له شيرجان سره خوبه موکمه مدعانه درلوده؟

_ ياهيڅ مدعامونه ورسره درلوده.

_ څوک درباندي خبرشول.چې له تاسره داسي شوي و؟

-زه هلته بهوښه پرته وم.کله چې په هوښ راغلمه.نومي ډيرې ژړاوي اوناري وکړي.چې يولاروی مي ږغ اوريدلی و،هغه ترخپله کوره په شاه راوستم.له کوره څخه بياپلارااورورمي دلته روغتون ته راوستلې وم.

- ته نوره بيغمه اوسه.زه به هم ددوي خوښ شم.داسي سزابه ورکړم چې په عمر يې نه وی ليدلی.ته به يې له حاله خبره شې.ټول به ورڅخه عبرت واخلي.هيڅوک به بياداسي له چاسره نه کوي.لکه دوي چې له تاسره وکړل.

_ امرصاحب!که دي سزاورکوله.نوژوندي يې په ځمکه ښخ کړه چې ټوله دنيايې ووينې.اونورددوي په لاره روان نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



_بس زماګرانې!داوعده درسره کوم.چې ستادهرې اوښکې،ستادهرفریادبدل به ځني اخلم.ترهغوخوېې په والاکه پرېږدم ترڅوستااوستادکورنۍ زړه نه وي باندي يخ شوي.دغسي يې چيري پرېږدم.او!بله خبره تاخوبه دشيرجان په اړه چاته څه نه وي ويلي؟

_ يوازي پلاراوورورمي په خبردي.هغوي ماته ويل چې ګوره هيچاته دهغه نوم وانخلې.زه خوېې دهغه دنوم ښودلوڅخه منعه کړې يم.خومايوازي تاته وويل.

_شاباس.چې بل چاته دي ويلي ندي.تاته خوبه شيرجان اونورملګرو يې څه نه وي درته ويلي؟

_ راته وويل.چې که پدې اړه دي چاته څه ويلي و،يادي څوک راباندي خبرکړي و،تااوستاټوله کورنۍ به مړه کړو.هغه څه به درسره وکړوچې تراوسه له چاسره نه وی شوي.خوماهلته ورته وويل:

همداوس مي مړه کړې.زه نورژوندنه غواړم.نو به څوک درباندي خبريږي هم نه. خودوي ظالمانوزماخبره ونه منله په مايې خندل اوراڅخه ولاړل په خپله مخه.

اميرجينايي دفوزيې پرسرلاس راکښې کړ اوورته وويل:

ته دهغوي په خبروپسي سرمه ګرځوه.هيڅوک به تااوستاکورنۍ ته يوه زره تاوان ونه رسوي.چې زه يم،هيڅوک په بدنظرنشي درته کتلای.زه اوس درڅخه ځم.ددې خبروپه ويلوسره له اطاقه ځني راووتی.

دشيرجان په لټه کې شو.پوښتنه پوښتنه ترڅوشيرجان يې په خپل کورکې پيداکړاولاس تړلی يې قومنداني ته راوستی.شيرجان چې هرڅه زارې اوعجز ورته وکړچې ماڅه کړي دي؟په څه ګناه موزه دلته راوستلی يم؟څه شوي دي؟

اميرصاحب فضل محمد ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ددې ټول ښارامیرجینایی یم.ته پوهیږې چې دجینایی کوم کارونه له غاړې وې؟

شیرجان ورته وویل:

پوهیږم چې جینایی کارونه دي له غاړې دي.نوبیاپه ماڅه کوي.زه خویوتجار یم اوخپل تجارت کوم.له ماڅه غواړي چې دلته موراوستلی یم.زمایې له جینایی کاروسره څه.

_ ښه ته یوتجاریې اوته له جینائی کاروسره هیڅ ټراونلري.ډیرهوښیاریې.ته پوهیږي مابه ستاپه رقم څومره هوښیاریانوته دخپل جرم سزاورکړي وي. په لومړی سرکې ځان یوې اوبلې خواته کوي.دانه منې چې مادي یوحادی جرم کړي وي.خوزمامنګولوته څوک راغلی دي بیایې حادی څه غټ جرمونه یې قبول کړي دي.اوس به درته ووایم.ته یوډیرغټ مجرم یې.اوتاډیرداسي کارونه کړي دي چې دکولونه دي.مادې ته مه مجبوروه چې له زورزیاتی ځخه کارواخلم.خپله خپل جرم قبول کړه.

_ دڅه شي جرم قبول کړم.څه جرم مي کړی دی.زه په هیڅ جرم نه یم خبر.زه وګوره اوجرم کول.کیدای شي چې دابه ستایوه سهوه وي.جرم به بل چاکړی وي ،سزایې ماته راکوی.

_ ګوره مامخکې هم درته وویل چې مادې ته مه مجبوره وه چې زه له زورزیاتي ځخه کارواخلم،وروسته به خپله راته ووایي،چې داجرم ماکړي دی؟

_ نوزه ځنګه ووایم چې جرم مي نه وي کړي اووایم چې هوزه مجرم یم اوهرجرم چې شوی دی هغه ماکړی .زه ځنګه دبل چاجرم په ځان قبول کړم.چې مجرم نه یم بیاڅنګه ووایم،چې زه مجرم یم.هیڅکله به داجرم پرځان قبول نکړم. ته چې هرڅه راسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي،وکړه.زماخولاسونه درته تړلي دي هيڅ نشم درسره کولای.اوته مي ولي دبل په جرم نيسي.

_ ښه نوچې داسي ده.بياخوزه په خپل کارترتاډيرپوهيږم.چې ځان مجرم نه ګڼې .خپله به راته ووايي.جرم وکړي اوځان ناګمانه کړي چې څه څوک رابانديي خبريږي.ټول ښاربه دربانديي خبرشي.که تاداسي ګمان نه کاوي چې حکومت دي وي دولت دي وي.څوک به زماڅخه پوښتنه کوي.څوک شته دپوښتني کولو.

_ ماته خوجرم راوښئ چې دچاپه جرم موراوستلی يم.

_ته تراوسه په خپل جرم نه يې خبر،خيرزه بدی ورباندي خبرکړم.تاپريوې معصومې انجلۍ چې فوزيه نوميده اوستاسودکلی دعبدالغفارغريب لورده. تااوستادوملګروپرهغه غريبې هغه څه کړي و،چې نه په اسلام کې شته،نه په کفرکې.بيخي دانسانيت له چوکاټه وتلی کاروچې تاسوکړي و.

کله چې يې دامير جينايی څخه دفوزيې نوم واوريدی نوپوه شوچې رازيې افشاشوي دی.رنګ يې تک سورشوخو!دهغه سربيره يې ځان ناګمان واچوی چې زه نه پوهيږم چې له هغې سره څه شوي دی.هغه څوک ده.چاڅه ورسره کړي دي.

_ ښه نولاتراوسه دي عقل سرته ندی راغلی.دفوزيې له پيژندلوڅخه انکارکوي؟

_ فوزيه څوک ده.زه بيخي دفوزيې په نامه څوک پيژنم لانه.

_زه به يې درپه يادکړم.له نن څه دري ورځي مخکې ته اوستانوردوه نفره ملګري،پريوه مظلومې،بې وسې اوبيچاره انجلۍ چې فوزيه نوميده.هغه دښوونځی څخه کورته روانه وه.تاسوپه لاره کې هغه په زورموټرته پورته کړه اواختطاف موکړه.وروسته موبياهغه څه ورسره وکړل کوم چې ستاسودوحشي نفس خواهش و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایادهغې مظلومې اینده مو په نظرکې نه و؟ایادهغې معصومیت اومظلومیت موپه نظرکې نه ونیولي؟ ایاانسانیت اوشرافت موپه نظرکې نه ونیولي.

تو !لعنت دي درباندي وي په داسي کارکولوکوم چې تاسوکړي و.

نورنوپوه شه،ځان ناګمانه مه اچوه اومه زماعصاب راخرابوه.خپل جرم قبول کړه اوهم خپل دوه نورملګري کوم چې درسره و هغوي هم راوښیه.

_ ته چې هرڅه راباندي وکړي خو زه بیاهم وایم چې داکارماندی کړی.اونه به زماله خولې څخه اقرارواورې.ته پوه شه اوکاردي هرڅه راباندي کولای شي.

_ ښه نوپه سمه خونه وایې.اخیردی مجبوره کړم چې له زوره کارواخلم.هم به اقراروکړی هم به سزاوزغمې.خپلوڅلوروعسکروته یې قومنده ورکړه چې نظارت خانې ته یې بوزي چې درڅه یوه ثانیه بیده نشي اوخوراک اوڅیښاک هم درڅخه ونکړي ترهغوپوري څواقراریې نه وي درته کړي.

اوتاسي به ورته دوه دوه نفره په فیره ولاړیاست.دغه موکاردی بل به هیڅ کارنکوي له هره کاره خلاص یاست.

عسکروهم دغسی ورسره وکړل.په نظارت خانه کې یې واچوی.په لاسونو اوپښو کې یې ځنځرونه ورته واچول.یوعسکردننه په نظارت خانه کې لده سره و،اوبل دنظارت خانې په دروازه کې ورته ولاړولاړو.

پوره اته څلویشت ساعته تیرشول چې شیرجان خپله حوصله له لاسه نه وه ورکړی اوخپل مقاومت یې وکړ.خووروسته تراته څلویشت ساعته یې هره شیبه دزغملوتوان له لاسه ورکوی.عسکروهم نه خوب ته پریښودی اونه یې دده بیځایوخبروته غوږنیوي.دابه ورته ویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته بغیرله اقرارکولوڅخه بل هیڅ وایه.اقرارو کړه موږبه هم لدې مشکله خلاص شوته به هم.

شیرجان فکروکړچې دوي رښتیاوایي،زه به ترڅوداسزازغمه.نوریې زغمل دتوانه ووتل اوله ځان سره داویل چې پریږدي خومي ترهغونه ،څومي اقرارنه وي ورته کړی.نویې عسکروته وویل:

نورمي پریږدي زه خپل اقراردرته وکړم.ماخپل جرم قبول کړ.

عسکرو ورته وویل:

ستاهغه نوردوه ملګري څوک دي.هغوي هم راته وښیه.نوبدی پریږدو.

خوشیرجان دهغوي له ښودلوڅخه ډډه کوله.چې تاسي هرڅه لماسره وکړي.هغوي په دې کارکې لماپرته نورهیڅوک هم نه ول.دادرواغ دي چې زماسره نوردوه ملګري و.زه یوازی وم اومایوازی داکارکړی و.

عسکرو ورته وویل:

موږپه هرڅه خبر یو.ته چې خپل ځان ته سزاورکوي اوهغوي ته نجات ورکوي داخوبیاله ځان سره ناانصافی کوي.چې ته سزاووینی هغوي کراراو خوشحاله وګرځي.ته وګوره چې نن ستادریمه ورځ ده چې ته دلته یې.هغوي خودي پوښتنه ته لانه راغلل.هغوي خوداسي ملګرتیادرسره وکړه اودادوي ملګري وه چې له تاسره یې کوي.ته لاهغوي ته نجات ورکوي اولاملګرتیا ورسره ساتی.ته وګوره ستاهغه نورملګري.ته یې څومره پروالري اویوهغوي دي چې هیڅ پروادي نلري.موږبه هم ستااقرارامیرصاحب ته ورسوو،اودابه ورته ووایوچې هغه خپل جرم پرځان قبول اودخپلوملګرودښودلوڅخه یې ډډه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيرجان ته چې يې داخبرې وکړي.نوله لرځندوروسته يې دافکروکړچې رښتيازماسره مي ملګروهيڅ ملګرتياونکړه.که نورڅه نه ويوه پوښتنه خوبه يې راباندي کړي واى.اه نوزه بياولي هغوي وژغورم، ولي ورسره ملګرتيا وکړم.زه بايدهغوي هم په لاس ورکړم،که نورنه وي يوازي خوبه نه يم،دوي به هم راسره وي.دستي يې عسکروته وويل:

ماته اميرصاحب راولئ.زه اقرارورته کوم.

عسکروورته وويل:

يوازي خپل اقرارورته کوى اوکه هغه نورملګري دي هم ورښيئ؟

_هغه هم ورښيم.تاسي فقط اميرصاحب ماته راولئ.

عسکروهم اميرصاحب ته خبرورکړچې شيرتاته اقرارکوي.هغه هم بې له ځنده ورته راغى،ورته وويل:

چې عقل دي اوس سرته راغى.مادرته ويلي وچې ځان ته سزامه ورکوه.ښه اوس نوراته ووايه چې څنګه موداکاروکړاوهغه دوه ملګري دي څوک دي؟

_ موږدري نفره ملګري يو.يوخوزه خپله يم،دوهم دوکيل صاحب زوى مرجان ،دريم نفرمحمدزى.مونږپه دريوسره داکاروکړ.کله چې موداکاروکړنوماته مرجان هغه وخت هم داوويل چې راځي داانجلۍ مړه کړو.خومادديې کارمخنيوي وکړ،خوهغه بيابياغوښتل چې مړه يې کړې اودابه يې ماته ويل چې ته پدي نه پوهيږي،دابيامونږته دردسرجوړيږي. مامخکې هم له دوونورو انجونوسره چې يوه پاڼه اوبله نازونوميده،له هغوو سره موداسي وکړل اوژوندى موپريښودې،بياهغوي دردسرراته جوړې شوې،اونيږدي وچې سزاراته راکړل شي،خودرشوت په ورکولوسره وژغورل شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خومايې هلته په خبروباورونکړاوفوزيه موږوندی پرېښوده.زه څه خبروم چې دانجلۍ به تاسي خبروي.

_ اياته په نوروجرمونوکې هم ورسره ملګری وې؟

_ ياماتراوسه په بل جرم کې برخه نده اخيستی.خوهغه به ماته ډيرويل اومابه ورسره ملګرتيانه کول.نه پوهيږم چې دچاازاروهلم.خواصلی مجرم مرجان دی هغه په ډيروجرموکې لاس لري.

اميرجينايی چې دشيرجان څخه داخبره واوريدل.حيران پاته شواودستی يې په مرجان اومحمدزی پسي خپل عسکروالېږل.

دواړه يې لاس تړلي داميرصاحب اوشيرجان مخ ته ودرول.

دواړوچې شيرجان واليدی ډيروارخطاشول.ځکه پدي وپوهيدل چې ددوي رازافشاشوی دی.خومرجان له ځان سره وخندل چې ځه داکارخوماته اسانه دی. پلارمي شته هغه مي له هرمشکل څخه خلاصوي.ډيري پيسې به ورکړم. خوښنګه چې يې فکرکړی وهغسي ورسره ونشول.نه يې دپلارمرستې کم ځای ورته ونيوی اونه ورته ډيروپيسو.

ددريوسره دوسيه چې دوي اعتراف باندي کړي وله جينايی څخه څارنوالۍ ته واستول شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوولسم څپرکی

یوه ورځ دسهاراته بجې وې چې ښوونکی اصف دکورڅخه دښوونځي پر لورروان و. په لاره کې دووانجونوچې یوه یې تقریباًګلس کلنه اوبله یې نهه کلنه و ه ،چې لده څخه یې دخیرات غوښتلوغوښتنه وکړه اوورته وویل:

کاکامورغریبان یو.له مورسره یوڅه مرسته وکړه مورډادوي ورځي کیږي په وچه ډوډۍ شکه نده کړي.

ښوونکی اصف چې له دوي څه داواوریدل دستی یې له جیبه ورته شل افغانۍ راوایستې یوې ته یې هم لس افغانۍ ورکړي اوبلې ته هم.دپیسوله ورکولووروسته یې ورته وویل:

ګورې نن خومواداکاروکړخوچې بیایې ونکړي.زه درباندي پوهیږم چې تاسوهرچاته داسي درواغ وایاست اوپه درواغوپیسې ځني اخلي.

ځې نورموپه مخه ښه.تاسي خوهوښیارې انجوني یاست داکاربیامه کوي.

انجونوچې له ښوونکی اصف څخه پیسې واخیستې په خپله مخه ځنې ولاړلې نه یې دهوځواب ورکړي نه یې دیا.

ښوونکی اصف له ځانه سره افسوس وکړ چې داخوددې انجونو ګناه نده،اونه دوي په دې پوهیږي. اصلاًدایې دکورنۍ ګناه ده چې کوچنې انجوني په خیرات ټولولوپسي لیږي. دوي خوبې عقلاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکوچنیاني دي يوڅوک نه يوڅوک به ورته خيرات ورکړي،خوکله چې بياپيغلي شي خيرات ټولول يې عدت گرځي.اويوحديث شريف دی چې عدت نه پريښودل کيږي.يوڅوک به پيداشي چې دوي ته هغه وخت هم خيرات ورکړي خويوبياداسي څوک هم پيداکيږي چې دخپل نفس دخواهشاتودپوره کولولپاره دوي ته دومره پيسې ومني چې دوي دهغه پيسوپه مقابل کې چاته ځواب نشي ورکولاي.دخپل اينده ژوندپرواد پيسوپه مقابل کې نلري.ځکه چې له دوي څخه شرم اوحياپه کوچنيوالی تللاي وي.دوي خوپه پيسواموخته وي،اوله هرشي څه ورته پيسې ارزښت لري.

په دغه چورت کې ورک وترڅو ښوونځی ته راورسيدی.اوپه کوم صنف کې به يې چې درس ورکوي،نودا خبره به يې ورته يادول،چې که گاونډيان مووي ياموخپلوان وي ياموشناخته وي،که لويان وي که کوچنيان وي له سوال کولو،خيرات ټولولو يې راگرځوي.که دوي نه راگرځيدل نوتاسي به داورته واياست چې که نورنه وي په کوچنيانوخوېې مه ټولوي.لويان کې يې ټول کړي بياهم خير.که يې درسره ومنله خوښه تربښه که يې نه منل ستاسوخوبه غاړې نه وي باندي بندي.ويل يې پرمونږ عمل يې پردوي.

زده کوونکوهم ژمنه ورسره وکړه چې مونږبه حتماًداکارکوو.مونږډيرداسي هلکان اوانجوني ليدلي دي چې په بازارونوکې خيرات ټولوي. بل هيڅ کارنه کوي اونه بل کارلري هميشه خيرات ټولوي.

رښتياهم چې دادټولنې بدنامي ده،اودادهرچاايماني اووجداني وظيفه ده چې ددي کارمخنيوي وکړي.هيڅوک دي يوفقرخيرات ټولولوته پري نږدي .بايدمخکې له مخکې هغه کسان چې ددولت اوشتمنۍ خاوندان دي هغوي دي له بې وزلواوغريبانوسره مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي.پردوي دي پوښتنه وکړي،له دوي سره چې يې هررقم همکاری په وس وي ورسره وي کړي،ترڅودوي له خيرات ټولولوڅخه راوګرځي.هم به موټولنه له بدنامۍ څخه راوګرځي هم به دشتمنوخلکومال حلال شي هم به ورته داخيرت لپاره دغه مال کوم چې يې په غريبانو،بې وزلو،محتاجانوويشلی دي ورته توښه وي.دغه به په اخيرت کې دوي ته سرمايه وي.

داسلام سترپيغمبرحضرت محمد(ص) فرمايلی دي چې که هرشتمن،دولتمن پر بې وزلورحم اوترحم وکړي،ياله خپل فرض شوي مال يعني ذکات څخه خپله حيثه پرغريبانوتقسيم کړي،په ټوله دنياکې به يوغريب وږی اومسکين نه شي پاته.يوبل حديث شريف هم دي چې وايي ته دځمکی پرمخ کوم خلک چې دي لورينه وکړه اوهغه چې په اسمانونوکې دي هغه به پرتالورينه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ددولسم څپرکی

ښوونکی اصف ته چې کله دپاڼې لیک ورسیدی،ډیروربانديخوشحاله ودستي يې له پاکټه راوایستی اوپه ویلویې شروع وکړه چې پاڼې په لیک کې ورته لیکلی و.

دقدراوعزت وړمحترم ښوونکی صاحب!

خپل دمینې اومحبت څخه ډک سلامونه ستاسپیڅلي حضورته وړاندی کوم.سلامتی دي له لایزاله خدای (ج) څخه همیشه غواړم .وروسته له سلامه څه.زه پوهیږم چې له ماسره ډیره زیاته مینه لري،دومره مینه خوراسره لري چې زه خویې هیڅ تصورنه شم کولای.یوازینی کس ته وي چې زماژوندديله تاریکوڅخه وژغوري اوماته دي درښاګانواوخوشحالیو څخه ډک ژوندستاپه برکت سره راپه برخه کړ.زه ستاڅخه ډیره مننه کوم،ستاښه به زه هیڅکله په هیڅ رقم سره ادانکړم. داستابرکت دی چې زه نن دې ځای ته رسیدلې یم.که رښتیادرته ووایم دومره ډیرمي یادیږی چې ستایادیدل مي د لیونتوب ترحده ورسوي.خوداښه مي بیاکړي دي چې کله راتلم ستاعکس مي له ځان سره راوړی و،هغه په زړه پوري تینګ ونیسم ورته وژاړم وژاړم ترخولږمي زړه په کرارشي.نه پوهیږم چې داڅه تاثیردی.ته باورپه خدای(ج) بیایې په ماوکړه چې که ورځ وي که شپه وی له یاده مي نه وزی ،په یادیاد مي یې..دابه درواغ درته معلوم شي چې ترخپل پلاراومورمي ته ډیریادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خيرکه ژوندوحتماًبه سره ووينو.ستاقدرماته دلته معلوم شوي دی،تاچې لماسره څومره ښه کړي دي هغه هيڅ دهيريدولواوحتاهيڅوک يې دبل چالپاره کولاي نشي.زه پدې پوره يقينې يم چې ته به مي هميشه همداسي خوشحاله وساتې.ستاسره مي واعده کړي وه چې زه به نه ژاړم اونه به خفگان کوم.خوډيره مجبوره شم ځکه يوخوله وطنه ليري يم بل له موراوپلاره جلايم اودلته ورځي شپې تيروم.ماپرته له دوي څخه يوځای هم يوه شپه نده تيري کړي.هغوي دواړه مي ډيريادېږي،خوداچې بياته ورسره يې نوبيغمه شم اوځان ته تسلي ورکړم چې ته به يې کله هم دوي خفگان اوپريشاني ته نه پرېږدي.خيردځان په اړه مي ډيردرته وويل دغه کفايت کوي اوس به ددي ځاي په اړه درته يوڅه معلومات درکړم.استراليا له شپږواياتونوڅخه جوړه ده.په دنياکې دپراخوالي له کبله شپږم هيواددی.۹۹فيصده خلک يې سوادداره دي. ددې ځاي تقريباً له دووسووڅخه زياتي ژبې دي چې عام اوزياته چې کارېږی هغه انګلسي ده.پيسې يې ډالردي خواسترالياپی ډالر.استراليايوداسي ښايسته اوله هرنعمته ډکه ده.دلته دهيڅ شي کمي نشته .هرڅه يې دتعليم په برکت سره تردې ځايه رسولي دي.ټول وګړي يې دخپل وطن په جوړولوپسي پايڅې راټولي کړي دي.هريوچې ويني لومړی دوطن غم کوي بيادځان.که غټ وي که کوچنی دخپل وطن په غم کې دي.تکنالوجی خويې اوج ته رسيدلي ده.داسي شيان يې جوړکړي دي چې عقل کارنه ورته کوي.اوډيرداسي شيان شته چې زه خوبيخي نه په پوهيږم.ډيرښايسته هيواددی اوډيربی انتهاښايسته سړکونه، پارکونه،هوټلونه ،رستورانتونه،دلوبوميدانونه،روغتونونه،هوايې ډګرونه،دانټرنيټ سهولتونه،کورونه،منارونه،بلندمنزلونه دهرډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلولپاره ځانګړي ځایونه لري.اوحتادابه درواغ درته معلوم شي چې په دي ځاي کې غرونه لا دومره ښایسته دي چې وبه نه وایي چې دادی غروي.

دکوچنیانولپاره ځانته،دښځولپاره ځانته،دنارینولپاره ځانته ځانته دهرشي سهولت په کافی اندازه سره موجوددی.ددي ځای ټول وګړي تعلیم یافته دي یودبل په کارکارنلري فقط اوفقط خپل تعلیم کوي،هریوپه دي لټه کې دي چې ثنګه یونوی اختراع وکړي اوثنګه دنوبل یانړیواله جایزه وګټي اوپه نړیوال کتاب کې ځان راجسترکړي.دهریوه سره دغه چورت اوفکروي چې ثنګه یونوی کاروکړي.که ځوانان دی که سپن بږیری دی، که کوچنیان دي که لویان دي، ټولوتوجودخپل هیواددلاجوړیدولپاره کړي کوي.

پشرفت یې اوج ته رسیدلی دی عقل کارنه ورته کوي. زه چې کله ددي ځای خلکواوپشرفته وسایلوته وګورم پرخپل هیواد اوخلکوژړاراشي .ځکه اوس لاهم مونږد خپل وطن دپشرفت په غم کې نه یو.تریوې پیړۍ لاډیروخت تیرشو چې په هیوادکې موجنګونه اوبدبختي دي.په یوه نامه په بل نامه سره جنګیږو په یوه نامه په بل نامه موپردي سره جنګوي. اخیرترڅوبه دپردولپاره جنګیږو،اوپردي به موسیل کوي،په مابین کې خپله اوهیواداوخپل پنځه زره کلن تاریخ تباه کوو،له خپل تاریخ سره جفاکوو.زموږ ثنګه تاریخ دي نورورباندي ویاړي. که په جنګونوموهیواد جوړیدای نوپه دایوه پیړۍ کې به اوس ګل اوګلزار وای.دلته که څوک یوله بله سره ټکر شي،نوپه ډیره مینه اومحبت سره ځني معذورت غواړي خوافسوس....

ډیرښایسته اوپرمختللی هیواددي اوډیره اسانه ژبه یې ده،مونږټولوپه شپږمیاشتوکې زده کړه،کمپوټراوانټرنیت کوم چې اوس په هرځاي کي له دغووسایلوڅه ګټه اخیستل کیږي،مونږهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره زده کړي دي چې خپل مشکل په هرځاي اوهروخت کې ورباندي حل کولای شو.

انټرنیت یوداسي په زړه پوري اودلچسپه تخنیکی وسیله ده چې دهغه په ذریعه ټول پرمختللي تکنالوجی په ډیره اسانې سره سمبالیږی.ددي سرببره په یوځای کې چې کومه خبره یاکومه نوی موضوع وي هرڅوک کولای شي ځان ورځنی خبر کړي.هرچاچې یوه کیسه یاشعریاکوم بله مهمه موضوع یانوي اختراع کړي وي،لومړي یې انټرنیټ ته استوی اونورهم ددې لارې ورباندي خبریږي.ټول کارونه اوس په انټرنیت سره سرته رسیږي.که دفتری دي که بانکی دي که تخنیکي دي که معلوماتي دي ټول د انټرنیټ څخه کاراخلې. دهري ژبې لپاره په زرهاوو سایټونه ( دانټرنیټ پرمخ جوړه شوي پاڼه،ځاي یاموقعیت )جوړشوي دي.اوحتااوس خو په پښتوکې لاپه زرهاوو سایټونه(ځاي ،موقعیت ) جوړشوي دي،زه هم دافغانستانه دحالاتوڅخه ددغوسایټونوله لارې ځان خبروم.هره کیسه چې هلته پیښه شوي وي.

اوس به زه تاله یوې کیسې خبر کړم.کیسه داسي وه چې ماپه انترنیټ کې والیدل اوډیره ځني متاثره شوم.ډیره په زړه پوري اوډیره له ارمانه څخه ډکه کیسه ده.

یوه ورځ دیکشنبې ورځ وه،پوهنتون مو رخصت و.ټول زده کوونکي پارکونو اومیلوته تللي ول.خوزماپیاپه هغه ورځ زړه هیڅ ځای ته نه کیدی په خپل اطاق کې پاته وم.کمپیوټرمي چالان کړاوپه انترنیټ کې مي کارکوې. چې یوعنوان مي والیدی ورته لیکلی یې و.دشهیدې برتانوې په ویرلړلي داستان. داچې مي کې والیدی حیرانه پاته شوم چې دابیاڅنګه خبره ده . برتانویان خوانګریزان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوانگریزان خوکافران دي،بیاولي انگریزانوته شهیدان وویل شي.شهیدان خویوازي مسلمانانوته ویل کیږي نه کافرانوته.
نومي دغه عنوان ترپایه پوري تعقیب کړ.چې داپوره داستان وهغه هم په داسي ډول سره.
یوه برتانوې ښځه چې په یوه روغتون کې دیوې ساتونکی په حیث وظیفه اجراکول،بلینډه ګارډینل نومیده.پنځه ځلویښت کلنه وه،له یومسلمان سره چې یحیی خان نومیده اوله پاکستان څخه لندن ته دغریبۍ لپاره تللی و.هلته په یوناروغۍ اخته شوي و،دخپلې تداوي لپاره هغه روغتون ته تللی وپه کوم روغتون کې چې بلینډه ګارډینل کارکوی.دغه ساتونکی هلته له یحیی خان سره معرفی کیږي اودایحیی خان ته دواده کولوپشنهادکوی.
خویحیی خان دهغې پشنهادردوي،اوهغې ته وایي چې ماته په خپل دین کې دااجازه نشته چې له تا سره واده وکړم.
داځکه چې دیومسلمان نکاح له کافرې سره نه کیږي. خوبلینډه ګاردینل پدي پوهیده چې یومسلمان هیڅکله هم له یوانګریزې سره واده نشي کولاي. نویحیی خان له خپل پټ رازه خبروی اوورته وایې،چې زه پدي پوهیږم چې ته نه غواړي زماسره پدي خاطرچې زه یوه انګریزه کافره یم واده وکړی. خوپه اصل کې زه کافره نه بلکی مسلمانه یم.ماستاسوله دینه مخکی ځان خبر کړې دی، زه ستاسوپه دین ښه پوهیږم.اوس ستاسودین یوازي ستاسونه بلکی زمادین هم دی.ستاسولاره زمالاره ده.ستاسوهدف زماهدف دی.هیڅوک دادعوه نشي کولاي چې اسلام یوازي دیوچادین دي بلکی دادټولودین دي.بیشکه چې داترټولودینوڅخه بهتره اوحقیقتی دین دی.
که څوک دکامیابی لاره غواړي چې دځان لپاره یې پیداکړي ،همدغه داسلام لاره ده .ماخپل نوم هم بدل کړي پرځان مي دامنې نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایښې دی.ماداسلام مقدس دین دوه کاله وړاندی قبول کړي و،خوداظهارکولوجرئت مي نشوای کولاي،که مي کړي هم وای نوزه به حتماًله مرګ سره مخامخ شوې وم. نومې داپریکړه له ځان سره وکړه چې ترڅومي له یومسلمان سره واده نه وی کړي زه به دمسلمانیدواعلان ونکړم.وروسته ترواده کولومي که څوک راباندي خبرهم شي بیاڅوک تاوان نشي راته رسولای .

که ته اوس زماپه خبرویقین نه کوي نوبیاصحی ده،زه به دبل مسلمان په انتظارشم اوالله (ج) خومهربانه دی.

یحی خان چې کله د امنې (بلینډه ګارډینل) له خولې داخبرې واوریدې دومره خوشحاله شوچې اندازه یې نه وه.دی به تل په دې لټه کې وچې څنګه خپل دین ته خدمت وکړی.کله چې امنې (بلینډه ګارډینل) دواده پشنهادورته وکړ،نودایې دهغې اودخپل دین دخدمت کولولپاره مناسب کاراوخدمت وګڼی. دواده غوښتنه یې دامنې(بلینډه ګارډینل) له خبرو وروسته ومنل.

دواړودا پریکړه وکړه چې واده به په پاکستان کې کوي اوترهغوبه څوک لدې رازه نه خبروي.خپل ژوندبه نورهلته دژوندترپایه تیروي.

له امنې(بلینډه ګارډینل) څخه یې دهغې دتیلیفون لمبراودهغې دایمیل ادرس راوخیستي اوخپله پاکستان ته راغی.هلته یې دامنې(بلینډه ګارډینل)لپاره شناخته کارډاوپاسپورت جوړکړل،بیایې له لندنه څخه پاکستان ته راوغوښته.

هغه هم پاکستان ته راغله په اسلام ابادکې چې دپاکستان پایتخت و،دواړه په شریعې نکاح واده سره وکړ.

یوکال یې دواده تیرشوي وچې یحی خان امنه ته دخپل اصلی ټاټوبي په اړه چې دسوات په مینګوره کې دي معلومات ورکړل.بی بی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امنه يې دليدلولپاره ليواله كيږي اوله يحؘى خان څخه دهغه ځاي دليدلوتقاضاكوي.يحؘى خان ژمنه ورسره كوي ترڅو داهغه ځاي ته بوزې.

دواړه له اسلام ابادڅخه دسوات په لورروانيږي.سوات ته چې راورسيدل،په سوات كې دمينګورې په اډه كې په يوكوچ موټركې كښيني،دموټراته نفره مسافرين لاكم وي.دوي ټوله داتونفرومسافروپه انتظاروي چې پيداشي نوبه حركت وكړي.په موټركې دلسودقيقوانتظاروروسته ديحؘى خان سترګې په خپل يونيږدى ملګرى چې وروسته له پنځوكلنويې وينى پرهغه موښلى.له خپل موټره ورته راشوه كيږي اوله هغه سره روغبړ كوي.ملګرى يې چې امين خان نوميدى په ليدويې ډيرخوشحاله كيږي.اودوي دواړه له كوچ موټره راشوه كوي په خپل موټركې يې سپروي.بياوروسته ټول دمينګورې په لورروانيږي. په لاره كې خپل پخواني يادونه تازه كوي.يحؘى خان پدې ندى خبرچې امين خان اوس يوملكى نه بلكى يودولتى كاركوونكى دى اودسوات دمرستيال ناظم دى.

په لاره بيغمه بيغمه ،خوشحاله كيسه په كيسه سره روان دي چې نابېره څلورونفره ددوي په موټر بريدوكړ.

بريدكوونكو كوښښ كاوي چې يوازى امين خان له منځه يوسي. خومتاسفانه چې دامين خان سره يحؘى خان هم په حق ورسيداوبى بى امنه سخته ټپې شوه.خلكودوي ټول بيرته دسوات روغتون ته راوړل.هلته په روغتون كې يې امين خان اويحؘى خان ته تابوتونه جوړكړل اوپاته امنه شوه چې ډيره سخته زخمې شوي وه،ډاكټرانوعمليات ورته وكړ اوهغه ژوندې پاته شوه.

له عملياته څه دوي ورځې تيريږي،چې بى بى امنه خپل كشرليورته چې سيداحمد خان نوميدى تيلفون وكړ اوهغه ديحؘى

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان په مرگ خبروی.هغه هم دستي دسوات روغتون ته ځان رارسوي.

له خپلې وریندارې امنه خان سره وینی.امنه خان هم خپل لیورته ټوله کیسه کوي.سیداحمدخان دیحؒی خان تابوت اوخپله ورینداره له سواته څخه مینگوره ته راوستل. هلته په مینگوره کې یې دخپل وروړجنازه خاوروته وسپارل. ورینداره یې ورځ په ورځ مخ په ښه کیدووه.

کله چې ښه جوړه شوه نوهلته به یې خپل لیورسیداحمدخان اودده کورنۍ ته دځان اویحؒی خان کیسې کولای.چې څنگه دوي واده سره وکړ څنگه سره شناخته شول.

تقریباً پنځه میاشتې امنه خان له دوي سره پاته شول وروسته له هغه څخه یې یوه ورځ خپل کشرلیورسیداحمدخان ته دواده کولوغوښتنه وکړه.پدې خاطرچې یوخوبه دیحؒی خان یادونه ورسره تل پاته شي،بل داچې دې له اسلام سره زیاته مینه درلوده،غوښتل یې چې له یومسلمان خاوندسره دژوندترپایه واوسې.

سیداحمدخان هم دخپلې کورنۍ په خوښه سره دامنه خان سره واده وکړ.

دواړوښه دخوښحالۍ څخه ډک ژونددرلود اوښه سره خوشحاله و.پنځه میاشتې یې له واده تیري شوي وي چې یوه ورځ سیداحمدخان خپلې میرمنې امنه خان ته دسیل تللوبلنه ورکوه.امنه خان دسیداحمدخان بلنه منې اودواړه په سیل باندې ځي.

سهاریې له خپل کورمینگورې څخه حرکت وکړمخ پرمرغزار.چې ډیرښایسته اوپه زړه پوري قسم قسم طبعي منظرې لري.هلته رسیږي،دواړه په پښو هلته سره گرځي.سیداحمدخان له امنه خان څخه پوښتنه وکړه چې ایاتراوسه دي داسي ځای لیدلی و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



امنه خان ورته وويل:

هیڅکله می داسي له خونده ډکې،دلچسپه اونه هیردونکی منظرې لیدلي وې.خونن مي دادي ستاپه برکت سره داسي خوندورځایونه والیدل.لدې وروسته به په هفته کې یوواریوواروروته راځو.

سیداحمدخان هم وعده ورکوي چې په هفته کې به خامخایوه ورځ خپله میرمن امنه خان راولې.

ترماذدیگره پوري یې ښه دخوشحالۍ اوخونده ډک سیل سره وکړ.وروسته ترهغه دکورپرخواراروانیږي.

په مرغزارکې یې یوموټرترکوره دربست کړاوله هغه ځایه دنشاط چوک چې پرلاره و،وربانديي ودریدل.هلته په نشاط چوک باندي ډیره گڼه گوڼه وه اولاره له څلوروخواووڅخه بنده وه.دوي هم په داگڼه گوڼه کې دلارې ترخلاصیدو پوري معطله شول. په موټرکې دواړه ناست دي په مجلس سره اخته دي.چې یودم یوه درنه چاودنه وشول.ډیروموټرانو اورواخیست اوله نیمې څخه لاډیرتخریب شوي و.ددوي موټرهم دچاودنې له ځایه دیرش متره لیري ولاړو.دموټرهینداري یې ټولې ماتې شوې.کله چې چاودنه وشول نودامنه خان له خولې څخه اوازخیږې اوکراردسیداحمدخان په لورورچپه کیږي.

سیداحمدخان کوښښ کاوی چې خپله میرمن له موټره راشوه کړي.دروازه یې دموټرلانه وه خلاصه کړي چې پرموټریې اوربل شو.

موټروان ،امنه خان اوپرده خپله داورلمبې گرځیدي.خوبیایې هم امنه خان په هغه لمبوکې له موټره راشوه کړه.له ځانه اوله امنه خان څخه یې اورمړکړ. خوبدبختانه چې میرمن یې ساه ورکړې وه.ترمیرمنې پوري یې خپل سوځیدل هیرشول.په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلهاووانسانانوخپل ژوندله لاسه ورکړي و.ټول مړي،زخميان اوټپيان تررروغتونه ورسيدل.سيداحمدخان اوامنه خان يې هم روغتون ته راوستل.په روغتون کې يې دسيداحمدخان زخمونه ورپريمنځل اوورو تړل.

دامنه خان لپاره يې تابوت جوړ کړ.هغه شپه يې په روغتون کې تيره کړه سهاروختي خپل کلی ته راورسيدل.

جنازه يې په ښومراسموسره سرته ورسيدل.په زرهاووانسانانوګډون کې کړي و.سپين ږيري،ځوانان،کوچنيان اوحتاانجونوهم پکښې وې.هرچابه له ځان سره ددې شهيدې لپاره بيرغونه،دسمالونه اوددې دقبرلکښې(لرګي) چې ښه په زرينوبخملوسره پوښل شوي وې،اوډيرووړته تازه ګلان راوړي واوپردې يې اچول.

دخپل لومړی خاونديح‌ی خان له څنګه سره يې قبرورته تيارکړهلته يې خاوروته وروسپارل. انالله واناالي راجعون.

الله (ج) دې دواړوته جنت فردوس ورپه نصيب کړي.

محترم ښوونکی صاحب! داودشيهدې برتانوۍ امنه خان کيسه.هرچابه بياتردغه عنوان لاندي خپل دخواخوږي پيغام ليکي. ماهم ورته يودارمانه ډک پيغام اوداالله(ج) څخه دجنت فردوس غوښتنه ورته وکړه.

داکيسه مي پدې خاطردرته واليکل چې انټرنيت يوډيرپرمختللی وسيله ده ماتردې ځايه زده کړي دی،خپل مشکل کې حل کولای شم.داکه انټرنيت نه وای نوله دې کيسه به څنګه خبريدم.

بخښنه غواړم ليک مي بې اندازې اوله حده واوښتي،خوڅه وکړم په زړه کې مي کتابونه کتابونه خبرې دي.اوس به دخپل پوهنتون په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه معلومات درکړم.ترڅوبیاداسوال درته پیدانشي چې ولي یې دخپل پوهنتون په اړه څه ندي راته ویلي.

زموږپوهنتون په جنوبی استرالیاکې دسیډنی په ښارکې موقعیت لري.دجنوبی سیډنی پوهنتون په نامه یادیږی.شپږپوهنتونونورپدي ښارکې شته اوددي ځاي ټول پوهنتونونه نړیوال شهرت لري.

هرکال پکښی ځانکړي توپیرونه راځي.ددنیادګوټ ګوټ څخه ماهره استادان راولي ترڅوزده کوونکوته په لوړه کچه درس ورکړي.له ۶۰ بیلابیلوهیوادونو څخه زده کوونکي دلته دغوپوهنتونونوته راځي.په هرپوهنتون کې مختلف بخشونه وي.بل ددغوپوهنتونونو ځانګړني داهم دي چې که هره رشته دچا خوښه وي نودپوهنتون استادان خپله زده کوونکی ته خوښه ورکوي،کولاي شي چې سرته یې ورسوي.دلته زده کوونکي تردوولسمه صنفه درس نه وایې اونه هم دکانکورامتحانونه شته،فقط تراوومه صنفه درس وایې اووروسته له هغه څخه رسماًځي پوهنتونو ته.په پوهنتون کې که یې هرې رشته خوښه وه نو هغه وایلاي شي.

ددې اووه پوهنتونواطلاع نامه چې هرچاته ورکړل شي،نوهغه که ددنیاپه هرځای کې وي کولاي شي چې ګټه ځني واخلي اوښه معاش ترلاسه کړي.ځکه چې ددې ځای پوهنتونونه نړیوال شهرت لري. په دغواووه پوهنتونوکې دغه زمونږپوهنتون ترټولوډیرمنل شوي،پرمخ تللي اواثري درسونه یې دي،ځکه څوواري ددې پوهنتون استادانوته نړیواله جایزه ورکړل شوي ده په کال ۲۰۰۶ میلادی کې دنجاری په برخه کې یې استادانوته نړیواله جایزه ورکړه.اواوس په ۲۰۰۸میلادی کال کې ددې ځاي شاګردان ورته انتخاب شوي دي.

ترنوروپوهنتونونویې سهولیتونه هم ډیردي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول زده کوونکي په ډېره مینه خپل درسونه وایې اوله دي سربیره په ازافه وخت کې بیاهرزده کوونکی کولاي شي چې نور کورسونه ورسره تعقیب کړي.

هغه بیاپه شخصي پیسوویل کیږي.زموږدپوهنتون اته ساعته درسونه دي.سهارپراووه بجو شروع کیږي بیاتردریوبجوپوري.زه بیادماښام له خوا کورسونه وایم.

که رښتیادرته ووایم اتلس ساعته په درس ویلوباندي تیروم،اوپاته شپږساعته می دخوب لپاره ځانګړي کړي دي.له خوب سره نه کیږي کنې دخوب وخت مي هم درس ته ورکوي اوڅلرویشت ساعته مي درس ویل.داځکه چې دخپلووطنوالوماته سترګې دي.اودوي له ماغواړي چې خدمت ورته وکړم. زه چې بیالټې وکړم بیاخونه خواري مي عبث شوي.اووخت مي ضایع کړ.نوځکه ډیر درس وایم.

ته به حیران یې چې دانوبیاپه شخصوپیسوڅنګه کورسونه وایې،اودابه پیسې له کومه کوي.

دلته هره دیکشنبې ورځ رخصتی وي اویومارکیټ دي چې زموږدپوهنتون

څخه یوسلوپنځوس متره لیري دي.دهغه مارکیټ نوم(Sunday Market) دي یعني دیکشنبې مارکیټ اودایوازي دیکشنبې په ورځوکې خلاص وي.

په دغه مارکیټ کې چې هرشي وغواړي که لاسي دي که ماشني دي که تخنکي دي که برقي دي پیداکیږي.زه هم هغه مارکیټ ته هره یکشنبه ورځم کوم شیان چې مي جوړکړي وي هغه هلته وروړم اوپه ښه پیسو راته خرڅیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته مي مورپه کوچنیوالی دمریوځخه غاړګۍ،کلي بندونه،قلمونه،هینداري ،ګلاسان،سیګریټ داني جوړول رازده کړي و.زه دغه شیان دلته جوړوم اوپه هغه بازارکې يې پردوکاندارانوخرڅوم.پیسې يې زمادکورسونوپه کافي اندازه بس وي.

نورډیر پروګرامونه شته چې هغه بیا خاص دښځو لپاره وي.مثال لکه داچې ښځه څنګه سلوک بایدپه کورکې ولري.تجارت اوکاروبار.دموررویه له ماشوم سره.اوبعضی دښځوداګاهي لپاره پروګرامونه دي چې په دوه نیمومیاشتوکې ورته ویل کیږي.زه بیاداپروګرامونه په رخصتۍ کې وایم.تجارت اوکاروبارنه زده کوم خودانورپاته چې دي داټوله انشاءالله وایم اوپه نیت کې مي دي.

دغه ټولوپروګرامونوته دوي (Gigi girls)وایي.

داپروګرامونه بیاخاص دانجونواوښځولپاره وي چې عمرونه يې له اتلس کلونوڅخه پورته اوترڅلوښتوکلونوکښته وي.داځکه چې په دغه عمرکې ښځوته ډیري ستونزې پیښیږي،ترڅووکولاي شي مخکې له مخکې له هرمشکل سره چې ددوي په اینده ژوندپوري اړه لري اشناکړي.کچیري له کوم مشکل سره لاس اوګریوان هم شي نودحل لپاره يې مختلفي لارې وجودلري.

دښځودندې اومسولیتونه ورته زده کوي چې څنګه بایدښځه له خپلې کورنۍ اویاله خپل خاوندیاماشوم سره چلندوکړي اوله هغوي سره په ډیره مینه اوصداقت ژوندتیرکړي اودوي ټول له ځانه خوشحاله اوراضی وساتي.

یوه بله خبره چې هغه راڅخه هیره وه اواخیري خبره به هم وي هغه داچې،

دلته دمایوبینولپاره هم خاص پروګرامونه اوهغوته په لوړه کچه دژوندهررقم اسانتیاوي اوددوي لپاره دکارکولوزمینه برابره ده.چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتاخاص پوهنتون يې دوي ته جوړکړي دي،هيڅ مايوب هلته دمايوبۍ احساس نه کوي.دحادی خلکوپه رقم خپل مسوليت ورله غاړې دي.اودخپل هيواد لپاره خدمت کوي اوکوم مسوليت چې ورسپارل شوي دي په ډيره ښه توګه يې سرته رسوي.

بياهم بخښنه درڅخه غواړم چې پوره داستان مي درته واليکي.ډيري خبرې مي لاپاته وې خونوردي وخت نه نيسم، ستادلاکاميابی په هيله ستامسافره پاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیارلسم څپرکی

وکیل صاحب چې دزوی په نیولوبیاخبرشوچې بندی کړی یې دي،ډیرپه خواشنۍ سره راغی امیرجینایی ته،داسي یې ورته وویل:
تاولي زمازوی بندی کړی دی؟ ته پوهیږی چې هغه دچازوی دی؟تابه یوارماته خبرراکړي وای چې زه دي زوی بندی کوم اوهغه په دي جرم باندي؟ اخیرولي دي زماله زوی سره داسي وکړل؟څه تاوان یې درر سولی و؟
امرجینایې ورته خواشنۍ شو،ورته وې ویل:
وکیل صاحب!ستاقربان شم!زه تااوستازوی ډیرښه پیژنم،ته ددې ښاردخلکونماینده یې.تاخوپه رښتیاددي خلکوډیره ښه نمایندګی وکړه، تاخوداسي کارونه وکړل چې واقعاً دافتخاروړدي.زه له هیچاسره کومه مدعانلرم.زه هغه څه کوم چې ماته راسپارل شوي وي.بله خبره خولاداچې زماسره دومره وخت نه وي چې زه مجرم پیداکړم اوبیایې له پلاریا وروروسره مشهوره وکړم،چې ستازوی یاوروروداجرم کړی دی.بیاکه چیري دپلاریاورور یې خوښه وه نودنیولوامربه راته راکوي.زه خاین نه یم،نه به لدې خاوري سره خیانت وکړم.
ستازوی جرم کړي،مجرم دی ،مجرم خوبه خامخاسزادخپل جرم وینی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماهغه څه وکړل چې قانون راته اجازه راکړې ده،اوهغه څه مې ورسره وکړل چې دقانون مطابق دي.

بل ستازوی به ولې نه مجرم کیږي داسې پلارلري لکه ته چې یې.

ولې به جرمونه نه کوي.هغه خوپوهیږي چې پلارمې شته صبامې له هرچنجاله خلاصوی.هرزوی چې ستاغوندی پلارولري هغه به حتماًهغه څه کوي چې په وس یې کیږي.

له مامخکې بایدتاهغه ته خپله سزاورکړې وای.

بایدتاذلیله کړی وای،خوته یې لاپسې نورتشویقوي.ته بایدډیرخجالته شوي وې چې زمازوی داسې کارونه کوي،هغه نشم اصلاح کولای نونور به چیرې اصلاح کړم.

ځه ورځه اوس یې غم وخوره لماسره یې کارخلاص شوی په ښارنوالی کې یې پوښتنه کوه.هلته دې دخپل زوی له جرمونه ځان خبرکړه چې څه یې ندي کړي ،وروسته بیاوربانديې افتخارکوه چې ښومره صالح زوی مې دی اوښومره ښه تربیه مې ورکړې ده.

وکیل صاحب ته چې امیرجینایی داسې سپینې خبرې وکړې ډیرورته خواشنی شواوورته وې ویل:

امیرصاحب!زه بدې هم خوښ شم.زمازوربه درته معلوم شي.خیربیابه پوه شي.دابیاوروسته سره وینو.

_ زه پوهیږم چې هرڅه راسره کولای شي.ستاپه رقم انسانان شته چې داهیواد یې تردې ځایه رارسولی.دترقی پرځای په نړیدویې خوشحاله وي.

ورځه زه دې له اختاره نه بیریږم.چې بیریدمه هغه وخت به مې داسې ستاله زوی سره نه کول.هرڅه زورچې دې راباندې رسیږي هغه راسره وکړه.هغه متل به دې نه وي اوریدلې چې وايي غل نه یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچامه بیریږه.زه پرخپل کار افتخارکوم چې ستازوی مي ځارنوالی ته معرفي کړ.

_ ښه کاردی کړي دي شاباس دی پرتاوی.اوس خوزه هم څه نشم درسره کولای.یواردزوی له جنجاله ځان خلاص کړم بیابه درسره ګورم.

داخبرې یې ورته وکړي اوځیني راغی ځارنوالی ته.

امیرجینایی حیران پاته شو چې کله یې دوکیل صاحب څخه داخبرې واوریدې.له ځان سره یې وویل چې کاشکی دزوی پرځای یې پلارته سزاورکړل شوي وای.ځکه هغه خوملامت ندی،داهرڅه پلاروربادي کړي.په ډیروپیسویې اموخته کړي،خپل سرته یې پراېښې و.هرڅه چې یې کول پلاربه یې وربادي خوشحاله و.

عجیب پلاردی ددې پرځای چې ځان ملامت کړی چې زه خوداولاد په روزنه کې پاته راغلم،ماخپل اولادته ښه تربیه ورنکړه،ګناه زمادزوی نه بلکی زماده. افسوس افسوس پرداسي پلاروباندي.

وکیل صاحب چې کله ځارنوالی ته راغی هلته یې له ځارنوال سره خبرې کولاي چې زماله زوی سره به اوس څه کیږي.هغه خوتیارلیونی دی اوډیره موده کیږي چې عصبی تکلیف لري.امیرجینایی په ډیروهلواوشکنجه کولوپه زوراقراروربادي کړي دی.په خپل خیراوشرنه پوهیږي چې څه به راسره کیږي.محترم ځارنوال صاحب!

زه ستاسوشخصیت ته احترام لرم.موږپه تاافتخارکوو.شایدته به زمادزوی له لیونتوبه خبریې.دادري کاله کیږي چې رنځور دی.ته خود عصبی رنځورانو په رنځ پوهیږي چې پرخپل حال نه وی.کچیري زماپه خبرویقین اوباورنه لري دروغتون له ډاکټرانوڅخه نظر وغواړه.

ځارنوال ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوسیه کې خویې خپله ا قرارکړی دی.په ډیروجرمونوکې لاس لري.

داځنگه لیونی دی چې په جرم کولوپوهیږي اوهغه هم داسي جرم چې پرسدیې نشي کولاي اونه یې ورته پام وي.کچیري لیونی وای نویوه ورځ به یې ځان اورته اچولي وای.یا خوبه له لوړمنزله یې ځان راغورځولای وای.

زماخوهیڅ زړه ته نه لویږی چې ستازوی به یالیونی وی یارنځور.

_ څارنوال صیب محترمه! مامخکې هم یادونه درته وکړه،چې که تاسوزماپه خبروباورنه راځې نوله روغتونه څخه یواستعلام دده درنځوري په هکله وکړه له هغوي څخه نظروغواړه.که هغوي وویل چې داعصبی تکلیف نلري بیاخو خبره خلاصه ده ته پوه شه اوکاردی.هره سزاچې قانون ورکوله ورته وریې کړه.

_ داخوکم مشکل کارندی.داکاربه زه ستادخاطره وکړم.هرڅه به دواړوته معلوم شي.که لیونی وهم به په اثبات ورسیږي که جوړوهم به په اثبات ورسیږي.په دې کارکولوسره چې زه یې وکړم بیاخوشحاله یې؟

_بلی هوڅارنوال صیب!که مودغه کاروکړ.زه به ستاهمیشه احسانمندیم.

څارنوال صاحب هم دستي پرروغتون باندي استعلام والیکی.چې موږ دري نفره مجرمین هریومرجان.شیرجان اومحمدزی نامی ستاسومحترم مقام ته درمعرفي شول.ستاسوله محترم مقام څخه داهیله اوارزولرو چې ددوي دصحت په اړوندمکمل معلومات راکړي.استعلام یې ورته امضااوتاپه کړ وروسته یې دمحبس قومندان ته یولیک والیکی ترڅودري سره مجرمین ترروغتونه پوري ورسوي اوددوي استعلام ته ځواب ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمحبس قومندان هم دري سره له زندانه راوايستل اوداستعلام سره يې روغتون ته راوستل.

کله چې څارنوال دوکيل خبره ومنه نووکيل صاحب پدې يقيني شوچې له روغتونه څخه دډاکټرانونظرغواړي دستي له څارنوالی څخه روغتون ته راغلل.هلته يې دروغتون له رئيس سره لاره برابره کړي وه چې همدااوس له څارنوالی څخه دري نفره تاسوته معرفي کوي په هغووکې يوزمازوی دی مرجان نوميږي.که نوردوه هررقم ستاسونظروي هغسي ورسره وکړي خوچې زمازوی ورته ليونی اوياپه عصبی تکليف اخته معرفی کړي.هرڅه چې ته وايي اوهرڅومره پيسې چې ستاخوښه وي زه يې درکوم.

دروغتون رئيس ژمنه ورسره وکړه چې داکارخوډيراسانه دي حتماًبه يې کوو . زه به اوس يوډاکټرورته پوه کړم چې ستادزوی په موضوع خبروی.

وکيل صاحب هم پدي باوري شوچې دروغتون رئيس هره همکاري راسره کولاي شي نوله روغتونه څخه په بيغمه زړه راووتی اوبيرته څارنوالی ته راغی.

هلته له څارنوال سره کښينستی اوداستعلام پوښتنه يې له څارنواله څخه وکړه چې تاروغتون ته استعلام واليږي؟

څارنوال ورته وويل:

استعلام مي ورليږلي دي تراوسه يې ځواب ندی راغلی.کله چې راغی خپله به ورباندي خبرشي.ته اوس ولاړشه داکارنن نه کيږي صباته راشه.

وکيل صاحب دڅارنوال خبره ومنل اودڅارنوالی څخه راووتی.

دڅارنوالي استعلام دروغتون ترريېسه پوري ورسيدی،هغه خومخکې له موضوع څخه خبرو.دوي دري سره يې يوعقلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوعصبی ډاکټرته چې طاهرتنهانومیدی ورمعرفي کړل چې ددوي دصحت په اړه مکمل معلومات څارنوالی غوښتئ دي.ته دوي دري سره معاینه کړه اوخپل نظردي پراستعلام والیکه،دروغتون رئیس ډاکټرتنهاته ویلي وچې دوکیل زوی په لیونی یا رنځورورمعرفی کړه.

ډاکټرطاهرتنها نودومره ماهره اوباتجربه ډاکټروچې کله به ورته یورنځور دخپلې رنځوري شکایت وکړنودی به مخکې له مخکې درنځور په رنځ باندي وپوهیدی چې په څه رنځ اخته دی.

کله چې یې دري سره معاینه کړل نوداستعلام پرځنګ پراحکام یې داسي والیکل

که څه چې ده درئیس خبرې په یادوي خوده یې خبره ونه منله اوپراستعلام یې داسي ولیکل،مونږته چې ستاسوله لوري څخه دري نفره معرفي شوي ول، سرترپایه ماینه شول.

دشیرجان اومحمدزی روغتیایې حالت ښه دی په کومه ناورغۍ ندي اخته.اومرجان په یوقسم روحي ناروغۍ اخته دی،چې داناروغۍ په ډیروکموانسانانوکې پیداکیږي.ددې ناروغۍ نوم په طبی ژبه (Sexual Sadism) یاورته جنسي خفګان وایي.

واقعاً دایوه ډیره خطرناکه ناروغۍ ده.

کوم افرادچې په دغه ناروغۍ یابی سورۍ باندي اخته وي دایوډیرظالمانه جنسی لذت درلودونکی وي.چې دوجودټول روحی اوجسمي فعالیتونه یې په کاراچول کیږي اوپدي واداره کیږي چې په جانب مقابل باندي دوژنی هڅه وکړی.ددې ناروغۍ ناروغان دوحشی حیوان په څیروی.وحشی حیوان چې کله وږی شي،سترګې یې په ښکارکې وي ترڅوچې یې ښکارنه وی پیداکړي یوځای یې کرارنه کیږي اوپه دې لټه کې وي چې ژرښکارپیداکړي اودی خپلهورباندي حمله وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دځان پرواهم نه لري نه دځان پرواورسره شته.خپل هدف ته درسیدوخاطر هرڅه کولای ته تیاروی.

خودغه تکلیف په ډیروکموفعالیتونوکې لږڅه توپیرلري،دمثال په ډول باندي سختي جنسی رابطې چه په ځني حالاتوکې لږاوپه ځنې حالاتوکې ډیر قهر ورسره ملګری وي.په شدیدوحالاتوکې دغه بی سوری ناورغۍ ددې باعث کیږي چه غیرقانونی جنسی تیری _ ظلم زوراوحتٰی دجانب مقابل قتل هم رامنځ ته کړي،چې دجانب مقابل له قتل څخه دغه ناروغان ډیرخونداخلي.

کله چې پرناروغ باندي داناورغۍ حمله کوي،ناروغ خپل عقل له لاسه ورکوي اوعقل يې دیوکوچنی ماشوم په شان شي.

جنسي تیری ( تجاوز ) دډیرودغه ناروغانولپاره هدف نه وي،خوتنهادوي له خپلې دې ناروغۍ څخه شکایت کوي( چې یوروانی او جسمی ناروغۍ ده)

ددې ناروغۍ ناروغان په خپلوقربانیانوباندي برلاسه (زورور)وي،دغه افراد(ناروغان) سخت روانی تداوی ته ضرورت لري،اویاهم ددې فعالیتونودمخنیوي په خاطرباندي بایددااافراد ډیره موده بندیان یاهم اعدام شي.

دیادونی وړ ده چې داقسم ناروغۍ زیاتره له ناخوالوجنسی اړیکوڅخه منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څوارلسم څپرکی

څارنوال صاحب خپله صورت دعوی داسي ابلاغ کړل،چې شیراجان اومحمدجان دي په لس کاله قیداوپه یومیلیون افغانیوجریمه شي.اومرجان دي په اشدمجازات محکوم یعنې اعدام شي.ځکه دی په یوه ډیره خطرناکه ناروغۍ اخته دی، چې له ټولوارخونوڅخه ددې ټولنې په زیان دی.

څارنوالي چې کله ټوله دوسیه سره برابره کړه بیایې نوارونډی محکمې دجزادیوان ته واستول.

کله چې دمحکمې قاضی صاحب دوسیه دډاکټرانونظرونه اودڅارنوالي صورت دعوې والیدل،ښه سریې ورباندي خلاص شوچې څنګه موضوع ده.

خودلته په محکمه کې وکیل صاحب بیاهم مخکې له مخکې له قاضی صاحب سره خبره خلاصه کړې وه.چې هرڅومره پیسې اوهرشي ته چې ضرورت لری زې درکوم خوداسي بیانه وي لکه دروغتون رئیس چې دوکه راکړه.

قاضی نوله خدایه(ج) داسي یوڅوک غوښتی،چې اختیارخپله قاضی ته ورکړی.وکیل صاحب ته یې وویل:

زه خو بې له کوم چل او فریب څخه داکاردرته کوم.تاته خوهرڅه معلوم شوي دي خوزه بیاهغسي نه درسره کوم لکه نوروچې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسره وکړل.اوتاڅومره کوښښ وکړخوکومه ګټه یې ونکړل.زه درته وعده درکوم چې زوی به دی له هرخطره وژغورم.مالدي څخه ډیري سختي دوسیې خلاصي کړي دي.ته له هرشي څخه بیغمه اوسه ،هغسي به وکړم چې ستازړه یې غواړي.

_ یاره قاضی صیب! ستاقربان شم.ته فقط زمازوی ته یوه لاره برابره کړه چې له مرګه راوګرځی.زه به درته دومره پیسې درکړم چې ستازړه یې وغواړي.

هرڅومره پیسې چې غواړي زه یې درکوم،ګوره چې دپیسوغم ونکړئ.بل قاضی صیب زه خودې ځاي ته فکروړی یم،چې ته خوبه یوه لاره ورته جوړه کړي اوزوی به می له اعدام څخه راوګرځوی خوله تاڅخه وروسته بیادوسیه دوهمی یعنۍ مرافعې محکمې ته ځي،له هغه قاضی صیب سره خوزه شناخت نلرم.که ته له هغه خبرې وکړي اوزمازوی ته یوه لاره دخلاصیدوبرابره کړي نوزه به هغه ته هم ډیري پیسې ورکړم.اودابه دي په مالوی احسان وی که دي دغه کارهم سرته ورسوی؟

_ هغه کاردی هم په ماورسیدی.هغه بیازماډیرنږدې ملګری اواشنادی ډیره سره نیږدي یو.یودبل مراعت سره ساتو.ته یوارزماکارراوکړه هغه خوبیاوروسته کاردی.دواړه خوپه یوه وارنه کیږي.

_ ستاکارخوهمدااوس کوم.ووایه څوپیسې غواړي چې زه یې اوس درته راوړم؟

_ څه ووایم وکیل صیب! پرتامي هم زړه نه کیږي،خوکه په دي کارکې بدنامه شم بیاخوتاته معلومه ده چې څومره بدنامی لري. اقلاًدومره پیسې خووي چې په هغه بدنامی وارزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ زه دی بدنامی څه کوم هرڅه په تاړه لري ماته یوازي دپیسوووایه چې څومره پیسې غواړی؟
_ ښه نوچې داسي ده نوپنځلس لکه افغانۍ چې راکړي بیخی کافي دي. که باندي بدنامه هم شم پروانه کوي.
_ هیڅ خبره نه کې کوم. زه یې همدااوس درته راوړم.
_ یایاپام کوه .ډیراحتیاط کوه چې دلته یې رانه وړي. زه یوڅوک په بازارکې در ښیم ته یې هغه ته ورتسلیم کړه هغه یې بیاماته راکوي.
_ بیخی صحی ده دهغه پته راکړه چې زه ورشم اوستاامانت ورته تسلیم کړم.
_ په بازارکې یوصراف دی غلام علی نومیږی. کله چې دي هغه پیداکړنوپیسې ورته تسلیم کړه.
هورښتیاښه شوچې راپه یادشول. په دې دوسیه کې خو دوه نفره نورهم شامل دي، کوم چې ورباندي لس کاله قیداوپه لس لکه افغانیوجرمه شوي دي. دهغوي پلرونه ولي دخپلوزامنوددوسیې غم نه خوري؟
_ څه درته ووایم قاضی صیب! دهغوودواړوپلرونوته ماخپله په څوڅوواري وویل. اوڅوواري ورته خپله ورغلم کورته یې چې راځي په ټولوسره خپل زامن له دي مشکله خلاص کړو، یوکارنه یوکارورته وکړواوس خویوه غلطی ځني شوي ده. خوهغوي ماته وویل چې نورهغه زموږزامن نه دي نه یې مونږپه کارلرو. دې زامنوخوزمونږعزت وپلوري، له خاوروسره یې خاوري کړو. ټول کلی اوښارته یې بدنامه اوخړمخي کړو. ددې هرڅه په کولولاورسره مرسته هم وکړو. نه هیڅکله نه. ته که هرڅه له خپل زوی سره کوي کوه یې. نورزموږ لپاره هغوي په مړوکې حساب دي. هغوي دواړوراته ځواب راکړ. یوازی زه بدبخت یم چې دزوی غم راسره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ ښه نوهغوي اوس دخپلوزامنوڅخه بيزاره دي.څنگه پلرونه دي چې دزامنو پرواورسره نشته.پلار خوډير مهربانه وی پر خپلواولادنو.

_ هغوي په خپله لاره پسي ايله کوه.قاضی صيب!زمادزوی يوه چاره کوه چې له اعداملوراوگرځی.زه دادی اوس ځم اوستاصراف پيداکوم اوپيسې ورته ورکوم.ته دي خپل کارپردوسيه شروع کړه.

_ سمه ده،زه له اوسه ستادزوی پردوسيه کارشروع کوم ته بيغمه اوسه،ورشه دغلام علی صراف پوښتنه وکړه هرڅوک يې پيژنی ډيرغټ صراف دی اوزماامانت هغه ته ورتسليم کړه.

رښتياچې پيسې پرډېره کيښېږدي ډېره اوبه کوي.وررله وروروگلوی څخه بيزاره کوي.دوست له دوستی څخه تيريږی.اوس وګوره چې يوکاربې له پيسوڅخه څوک نکوي.دغه پيسې دي چې له هرڅاڅخه يې قبر هيرکړی دی.اخيرت يې هيرکړي اوحتٰی خپل ايمانونه يې ورباندي خرڅ کړي دي.خپل مسوليت ته يې هيڅ پام نه وي چې خدای(ج) يوقاضی ته څومره مسوليت ورله غاړې کړی دی،چې حتٰاکولای شي چې دچادژونداومرګ فيصله وکړي، اوهيڅوک يې بيا په کارکې مداخله نشي کولاي خو....

هغه ديعقوب(ع) دڅوپيړيومخکې کيسه اوس په اثبات باندي رسيږي،کوم چې يوليوه ورته دخدای(ج) په امرګوياشواوخپله بې ګناهی يې ورته ښودل اوداسي ورته وايې چې که ماستازوی خوړلی وی نوزه دی داخيري زمانې په قاضيانوکې شمارشم.چې يوحيوان لاپدي پوهيږی چې داخيري زمانې قاضيان عدل اوانصاف نه لري اونه يې کوي نونوربه يې څنگه ولري اووکړي.

يووخت دحضرت موسٰی عليه السلام څخه بني اسرايېلوپوښتنه وکړه،چې موږبه څنګه وپوهيږوچې زموږ رب العزت(ج)به له مونږڅخه راضي اوياناراضه وی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت موسیٰ علیه السلام ته وحي وشوي. کله چې باران په خپل موسم ووریږي اوستاسودچارووااګې دنیکانو په لاس کې شي،چې هغه دعدل اوانصاف پریکړې کوي،مال اودولت وسخیانوته ورکړم،نوهغه وخت زه له خپلوبندګانوڅخه راضی یم.اوکله چې می باران په خپل موسم ونه اوراوي.ستاسودچارووااګې مي بی انصافو،ځان غوښتونکوته په لاس ورکړي،اومال اودولت می بخیلانوته ورکړ،نوتاسي پوه شي چې زه له تاسوڅخه ناراضه یم.

وکیل صاحب له قاضی څخه راولاړشودغلام علی په لټه کې شو.کله چې یې پیداکړ نودقاضی صاحب خپلې پیسې کوم چې ده په تنهاکولاسوګټلې وې ورکړې.

غلام علی چې کله وکیل صاحب ولیدی نووارخطاشوچې دایې لکه چې یوپلان راته جوړکړي دی،اوغواړي چې مااوقاضی صاحب ته یوه دوسیه جوړه کړي.نودپیسواخیستلواودقاضی له پیژندلو یې نټه وکړه چې زه خوله هغه سره کوم شناخت نلرم اونه یې پیژنم.

وکیل صاحب وربانديي پوه شوچې زماڅخه وبریدی.نوورته وې ویل:

زه پوهیږم چې ته له ماڅخه بیریږی؟ماته خپله قاضی صاحب ستاپته راکړه.ته ورسره خبرې وکړه.

غلام علی هم دستي تیلفون له جیبه راوایستی اوقاضی صاحب ته یې زنګ ووهي،اوپه تیلیفون کې یې ورته وویل:

ماته وکیل صاحب پنځلس لکه افغانۍ راکوي داتاسوامانت دي چې زه یې ځني تسلیم کړم؟

_بلی هوځني تسلیم یې کړه ماورته ویلی دي. اعتباری دی شایدته یې هم پیژنی.ددې ښاردخلکووکیل صاحب دی. بیغمه اوسه کوم مشکل نه پیښوي ټولي پیسې پوره ځني واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې يې داورته وويل نووروسته له هغه يې دوکيل صاحب
ښخه پيسې واخيستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځلسم څپرکی

دجمعې مبارکه ورځ وه دمسجدیوامام صاحب پرممبرباندي دزناپه اړه خبرې کولي چې زنادومره ګناه لري اوداسي سزابه يې وي لکه چې الله(ج) فرمائی:

ژباړه:زناته مه نږدي کيږي،بې شکه چې داستره بې حيايې ده.(بنی اسرايیل : ۳۲)

بله الهي لارښوونه:جهنم دوزخ اووه دروازې لري،لدي دروازوڅخه به ترټولوغموونکي، دردناکه،بدبويه اوګرمه دروازه به دزناکارانوپرمخ خلاصه وي.

اوحديث شريف دی:چې کله يومسلمان زناکوي نوالله(ج) دهغه ايمان له بدنه داسي باسي لکه څوک چې کالي له ځانه وباسي.

بل حديث دی:

الله(ج) دقيامت په ورځ له دريوکسانوسره په نرمي خبرې نه کوي اونه هم ورباندي مهربانه کيږي.لومړي زناکاره،دوهم درواغجن،دريم کيبرجن فقير.

بل حديث دی:

اې مسلمانانوله زناکولوڅخه ځان وساتي،ځکه په دې کې شپږډوله مصيبتونه شته،چې دري په دنياکې اودري په اخيرت کې پر تاسوراځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددنيادري مصيبتونه .

١ - دمخ ځلابه يې ختمه شي.

٢ - عمربه يې لنډشي.

٣ - په تل پاته فقراومسكينت كې به مبتلاشي.

اوداخيرت دري مصيبتونه يې.

١ -دالله (ج) غوسه وربانديي.

٢ حساب به په سختي ورسره كيږي.

٣ - اودجهنم دوزخ په سختوعذابو كې به ګرفتاره وي.

نواې مسلمانانوچې خداى (ج) اودهغه رسول (ص) وايي، چې زنامه كوي نومونږاوتاسي چې خداى (ج) منواوپرهغه ايمان او باورلرواوداخيرت په ورځ هم ايمان او باورلرو،بيانوولي ګناه وكړو.بايدله زناكولوڅخه ځانونه وساتو،ترڅودخداى(ج) له عذابونوڅخه وژغورل شو،اوپه دنيااواخيرت كې كاميابه اوسرلوړي ووسو.

زه به تاسوټولومسلمانووروڼوته دوي دپنده ډكې كيسې وكړم تاسي ورته ښه غوږ ونيسي.

يوه ورځ يوډيرغټ زناكاره دزناكولولپار ه ديوې معصومې اوپاك لمنې ښځې كورته چې هغه په كوركې يوازى وه،اوده ظالم په خپل سراوپه زوردهغې كورته ورغلى،هغې تې وويل:

زه غواړم چې زنادرسره وكړم.ددې پرځاى چې ته زماسره زورزياتي وكړي خوزه بدې دهغه سربيره پرنيږدم.ته داسي وكړه ددې سراى ټولي دروازې بندې كړه.

هغې معصومې ښځې بي له ويلوورولاړه شوه،دسراى اوخونوټولي دروازې وتړلې اوبيرته زناكارته راغله،ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخودسرای اوخونوټولي دروازې وتړلې مګریوه دروازه راڅه پاته شوه چې هغه دروازه زه څه،هیڅوک یې نشي تړلای.

زناکاره پوښتنه ځني وکړل،چې داکمه دروازه ده چې ته یې نشی تړلې زه به یې وتړم؟

دې معصومې اوزاهدې ښځې ورته وویل:

چې هغه هاغه دروازه ده کوم چې دالله(ج) له لورې ده.اوس مااوتاپرته له هغه الله (ج) څخه بل هیڅوک نه ویني.اوس چې دي وحشي هوس هرڅه غواړی ویې کړه.

کله چې دازناکارسړی لدې معصومې ښځې څخه داالفاظ واوریدل نوپرهغه ځاي خدای(ج) ته په سجده شواودټول عمر دزناکولوڅخه یې توبه وایسته.

بل وخت هم همداسي یوه پیښه وشوه.یوزناکار سړی یوعالم ته چې ابراهیم بن ادهم(رح) نومیدی راغی اوورته وویل:

چې اې!دزماني عالمه زه دومره ګنهکاره یم چې پردنیامي هیڅ ګناه نده پرایښي.ماته داسي یوه لار راوښیه چې نورهیڅ ګناه ونکړم اودتل لپاره دګناه کولوڅخه خلاص شم .

هغه عالم مبارک ورته وویل:

ولي نه،داخوډیره اسانه ده،ته که غواړي چې توبه وباسی اوبیاګناه ونکړی نودخدای (ج) رزق مه خوره.

ګنهکارورته وویل:

که مې دخدای (ج) رزق ونه خوړي نومړکیږم.څنګه دخدای(ج) له رزق څخه ځان محروم کړم داخوامکان نلري داخوډیره سخته ده،داکارنشم کولاي.

ابراهیم بن ادهم(رح)ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه چې په دی هم پوهیږي چې که دخدای (ج) رزق ونخورم نوله لوږې به مړشم. کله چې دي ګناه کوله نوولي دي دخدای(ج) رزق دهغه نمک ونه ګڼی.

ګنهکارورته وویل:

لدې وروسته که می ګناه کوله نودخدای (ج) رزق (نمک) به له سترګونه لیري کوم.بله لاره راوښیه کچېری ګناه راڅخه کیده نوبه هغه رایادوم؟

ابراهیم بن ادهم(رح)ورته وویل:

که دي چېري کوم وخت بیاکوښښ وکړچې ګناه وکړي،نووروسته له ګناه څخه داسي ځاي ته ولاړشه چې هغه دخدای(ج) ملک نه وي اوته هلته ژوندوکړي او پکښې کې پټ شي.

ګنهکارورته وویل:

که هرځای ته ولاړشم نوهغه ځای دخدای(ج) ملک دی. که ځمکه ده که اسمانونه دي اوکه دریابونه دي بل خوداسي ځای نشته چې دهغه ملک نه وي اوزه پکښې واوسم.

ابراهیم بن ادهم(رح)ورته وویل:

ښه تاچې ګناه کوله ولی لدې ځایه نه شرمیدی چې داخودخدای(ج) ملک دی اوزه څنګه دهغه پرملک اوچې هغه مي وینی ګناه وکړم.

الله (ج) پاک خپله وایې چې :

ددې ګنهکارانوراګرځیدل همدازماخواته دي.نوبیادهغوي سره حساب کول زماکاردی.

ګنهکاربیاورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیابه هم کچېری ګناه راځخه کیده نودابه په یادساتم چې داملک دخدای(ج) دي اوهغه می وینم هم.بله داسي طریقه راوښیه چې همیشه یې په یادساتم.

ابراهیم بن ادهم(رح) ورته وویل:

که دي چېرې دالله تعالی (ج) مخالفت وکړاوګناه دې کوله ،بیاداسي ځای پېټ شه چې هغه تاونه وینی اوستاله حاله ناخبره پاته شي.هغه وخت چې ستاژړه هرڅه غواړي کوه یې.

ګنهکارورته وویل:

اې عالمه! که شپه ده که ورځ ده،که په شپه کې وي که په ورځ کې په هروخت کې اوهرچیري خدای(ج) هرشي ویني.هغه په هروخت کې حاضراوناظروي. اوهرڅه چې بنده کوي هغه یې وینی اووربانديي پوهیږی.زه څنګه داسي ځاي پیداکړم چې په هغه کې ماخدای (ج)ونه ویني.داخوله امکانه لېري کاردي.

ابراهیم بن ادهم(رح) ورته وویل:

ښه نوتاچې کوم وخت ګناه کوله،دادي له ځان سره نه ویل که بل څوک نه وي،خدای(ج) خوشته هغه خومي وینی.نوچې هغه تاپه شپه اوورځ کې ویني بیاهم ته ګناه کوي.خدای(ج) پاک خپله وایې چې:

ګمان مه کوي چې حق تعالٰی غافل دی له هغه عمل کولوڅخه چې ظالمان یې کوي.

ګنهکارورته وویل:

دابه هم تل راسره یادساتم،که مي ګناه کوله نودابه ضرورپه یادلرم،

چې خدای(ج) خومي وینی بیانوولی ګناه وکړم.بله لاره راوښیه؟

ابراهیم بن ادهم(رح) ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې درته عزراییل (ع) (ملک الموت) ناڅاپه راشی اوستاڅخه روح قبض کوی نوته به ورته ووایې چې ماته یوڅه صبروکړه ترڅو زه دخپلوخپلوانو، اندیوالانو،دوستانو،همسایه ګانورضایت ترلاسه کړم اودوي ټول له ځانه خوشحاله کړم،ښه ښه کارونه ترسره کړم ترڅوداخیرت لپاره مي ښه توښه برابره شي نوبه بیاته راشي اوزماڅخه به روح قبض کړی.

ګنهکارله ځان سره وخندل اوورته وویل:

چې زه دعزراییل (ع) سره څنګه داسي کولای شم،اونه هغه ماته دومره مهلت راکوي.چې زه دي دخپلوخپلوانو،دوستانو،حقدارانورضایت ترلاسه کړم.هغه خوچاته دیوې ساه ایستلووخت نه ورکوي نوهغه به زماخبرې څنګه ومني.

ابراهیم بن ادهم (رح) ورته وویل:

نوچې په دي هم شه پوهیږي چې دومره بې واکه اودځان واک نلرم مرګ حق ګڼې اوله هغه څخه تیښته نشته.له عزراییل(ع) څخه هم بیریږی لا هم ګناه کوي؟اودې ځای ته دي پام ندی چې کله می روح قبض کیږي نوعزراییل (ع) به په څه ډول روح راڅخه قبض کړی.

ګنهکارورته وویل:

دابه هم وروسته لدې تل په یادساتم.کچیري مي ګناه کوله نوعزراییل(ع) به هم په یادلرم.بله لاره راوښیه؟

ابراهیم بن ادهم (رح) ورته وویل:

کله چې مړشوي اوبیرته راژوندی شوي،حساب کتاب هم درسره وشو،نوکله چې ددوزخ حکم درباندي راووتي اوملاییکې دي دوزخ ته کښوي،نوته له ملاییکوسره زوروکړه اوپه زورخپله جنت ته ولاړشه.

ګنهکارورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې عالمه ! ستاصدقه شم، پدی خوزه هم ښه پوهیږم چې مړشم بیاخوزه هیڅ نشم کولای،ټول کارونه به ملایېکې راسره کوي، زه بیادځان اختیارنلرم اونه زوروړسره وهلی شم،اوهلته خوبیاټول مخلوق دځان په غم کې وي،نه پلارچاته په دردخوړل کیږي نه موراونه هم اولاد،یوازې اویوازې خپل عمل.که چاښه کړي وي نوجنت ته به ځی اوکه چابدکړی وي دوزخ ته به ځی.اوهغه هم داکار بیاملائیکې ورسره کوي.

ابراهیم بن ادهم(رح) ورته وویل:

ای عقلمنه!ته عقل لري اودبندګۍ دعوه کوي دخدای (ج) رزق خوري،دهغه په ملک کې اوسیږی،اوهغه دي په هرځای کې په هرحال تاوینی،اوله ملک الموت (ع) سره څه نشی کولای،داخیرت په ورځ هم دومره بی وسه شي چې له ملایېکوسره هم څه نشي کولاي ،بیاهم ته ګناه کوي اودشیطان ملګر تیااولاره ځان ته اختیاروي.

ګنهکار چې کله له ابراهیم بن ادهم(رح) څخه داخبرې واوریدي،خدای(ج) ته په سجده شو،توبه یې وایستل اودټول عمرله ګناه کولوڅخه خلاص شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپاړسم څپرکی

دپانې اخیری کال په استرالیاکې و.پوره شپږ کاله یې هلته تیر کړل،داخیری سمستیرونوامتحانونه یې ورکړي ول اواطلاع ناموته معطل ول.کله چې اطلاع نامې یې ورکړي،په ټول پوهنتون بیاپانه اول نمره شوه.

ډیري جائزې اوتحفې ورته داسترالیادپوهنتون رییس،مدیر اوښوونکې ورته ورکړې.ددې لیاقت یې وستایه،اوپه خپل هیوادکې یې ورته دښه خدمت کولوارزودرلوده.

ټول افغاني زده کوونکي کوم چې هلته په سڼی پوهنتون کې اوسیدل یوهم نه وناکامه شوی.اوکوم زده کوونکي چې متوسطه طب ته کامیابه شوي وهغه زده کوونکي هلته یوازي پاته ول،اوپاته نورچې دانورورشتوته کامیابه شوي وهغه تردوي دوه کاله مخته راغلی و،ځکه دهغوي درشتووخت څلورکاله و.اوددوي شپږ کاله په درسونو تیرشول.ځکه چې دمتوسطه طب لپاره لږډیروخت اودرس ته ضرورت شته داځکه چې ترهرې رشتې دغه دطب رشته ډیره سخته اوپه ډیره موده کې ویل کیږي اوترټولورشتویې مسولیت هم زیات دی.ځکه دمتوسطه طب زده کوونکوله دانوروزده کوونکوڅخه ډیره موده په درس ویلوکې تیره کړه اویوکال یې دعملی کارکولولپاره ضروری وچې هغه عملی کاریې بیاپه خپل هیوادکې ترسره کولاي شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول زده کوونکي په ډېره خوشحاله سره خپل هیوادته راستانه شول.کله چې افغانستان ته راورسیدل نوپه ډیروښومراسموسره یې ددوي کامیابي ولمانځله.ښوونکی اصف هم په دغه مراسموکې ګډون کړي و.کله چې دواړوبعدله شپېږوکلنوانتظاروروسته یوبل سره والیدل، له ډېري خوشحالۍ څخه یې سره وژړل اود لومړی ځل لپاره یوبل په غیږکې سره ونیول.وروسته ترهغه یې یودبل اوښکې پاکولې اویوبل ته به یې ډاډسره ورکوي چې دادخوشحالۍ مراسم وګوره اوزمونږژړا.دواړه بیرته په خوشحالۍ کې سره ګډشول.

دڅلورووړځولپاره ورته ښه دخوشحالۍ اوددوي دتشویق لپاره مراسم نیول شوي و،وروسته له هغه ټول زده کوونکي خپلوکوروته ولاړل.

ښوونکی اصف اوپاڼه هم دکورپرخواراروان شول اودپاڼې کورته راغلل. موراوپلار یې دپاڼې په لیدودومره زیات خوشحاله شول چې اندازه یې نه کیده.ځکه ددوي شک له خپلې لورڅخه ختلی وچې بیابه ورسره ووینې.پاڼه به یوارپلارپه غیږکې ټینګه ونیوله بیابه یې مور،پرسراومخ به یې مچوله.پاڼې به دوي په لاسونه مچول اوپه غیږکې به یې نیول.

وروسته یې یوبل دڅوکلنوخبرې اوکیسې کولې.

بیایې                    موراوپلاردښوونکی                    اصف خدمتونه،خوارې،تکلیفونه،مصرفونه اوهرڅه چې یې له دوي سره کړي و ټول یویوخپلې لورته تشریح کول،چې که خپل زوی موهم وای ترده به یې ډیرڅه نوای راسره کړي.پاڼې به له ښوونکی اصف څخه مننه کوله چې ددې له موراوپلارسره یې دومره زحمتونه ایستلی اودوي ته یې دیوې موراویوه پلارمینه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکی اصف به پاڼې ته ویل چې ولي داسي راته وايې.ماخوله لتاسره واعده کړي وه مايوازي خپله وعده پرځاي کړي ده.زماپردوي کوم احسان نسته اونه دي دوي زماداحسان مني.

پاڼه به دښوونکی اصف په داسي خبروکولو نوره هم زياته ځنی خوشحاله شوه.مننه به يې ځنی وکړه چې زماپه وعده يې وفاوکړه اوپه ښه شان يې سرته رسولي.

پاڼې لس ورځې له خپل موراوپلاره سره په کورکې تيرې کړي.يوه ورځ يې دخپل ښوونځی‌دليدلوشوق وشو.له خپلې موراوپلارپه اجازه له ښوونکی اصف سره ښوونځی‌ته راغله.ترڅودزده کوونکوحال له نيږدی څخه ووينې اووګوري چې څه نوي تغيراته په داشپږوکلنوکې راغلي دي اودايې هم غوښتل چې خپل تيرشوي خاطرات ورپه زړه کړي.

کله چې ښوونځی‌ته راغله لومړی يې له مديرې سره واليدل خپله پخوانې مديره کوم چې ددې په وخت کې وه،هغه بل ښوونځی‌ته تبدله شوې وه اوپرځاي يې نوې مديره راغلې وه.له نوې مديره سره ښوونکی اصف معرفي کړه،چې دازموږ دښوونځی‌پخوانې زده کوونکې ده،په يوبورس کې استرالياته دشپږوکلنولپاره تللې وه اوطب متوسطه ته کاميابه شوې اواوس ځني فارغه ده.اوس څه وخت کيږي چې بيرته خپل هيوادته راغلې ده.نن يې زړه شوچې دښوونځی‌دزده کوونکوسره ووينې اويوڅودقيقې په تفريح کې له ټولوسره خبرې وکړي.نوې مديره يې په راتګ خوشحاله شوه اوخپله په هرصنف ورسره ګرځيدله .هرزده کوونکی ته به يې ورمعرفي کوله چې دايوه ډاکټره ده،داخبره به يې ورسره ياده کړه چې داغواړي په تفريح کې تاسوته خبرې وکړي.تاسي هم بايدددې خبروته ښه ځيرشي ځکه ددې هره خبره ډيرارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کوونکو دمدیرې خبره ومنل چې موږبه په تفریح کې ټول سره یوځاي کیږواودډاکټرې پاڼې خبروته به غوږنیسو.

کله چې تفریح شوه ټول زده کوونکي په قطاربرابرپرځایوودریدل،پاڼې له مدیرې اوښوونکی اصف سره ورته راغلل.مدیرې پاڼې ته اشاره وکړه ترڅوددریځ پرسربانديي ودریږي اوزده کوونکوته خپله نظریه وړاندی کړي.

پاڼه دریځ مخ ته راغله اوپه دریځ کې یې ټولوزده کوونکوته لومړی سلام وکړ.

زده کوونکو په یوه ږغ سره ددې سلام ته علیکم وویل.

وروسته بیاپاڼې پوښتنه ځني وکړه چې درسونه موڅنګه دي؟

ټولوپه یوه ږغ سره ورته وویل:

ډیرښه دي

_ تاسوددرس په قدرڅومره پوهیږي؟

ټولوپه یوه ږغ سره:

ډیرزیات پوهیږو.ځکه په درس ویلوسره پوهه منځ ته راځې اوپوهنه رڼااوروښنایې ده.

_ تاسي بایدپه خپلودرسونوکې ډیرزیات کوښښ وکړي،تاسي ډیرښه استعدادلري.تاسوته معلومه ده چې دافغانانواستعدادپه نړی کې څوک نلري.خیرکه نن خواراودربدره یو خدای(ج) خومهربانه دی یوه ورځ به لدې ټولوبلاوواودربدریوڅخه خلاص شواوروښانه اینده به ولرو.

اینده به مولومړی دخدای (ج)په توکل اومهربانې بیازموږاوستاسوپه خپل همت اوپه ډیرزیارسره روښانه کیږي. هیڅوک زموږپه غم کې نه دي.هیڅوک موخپل وطن ته خدمت نه کوي. ترڅویې خپله ورته ونکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کچېري موږاوتاسي په ټولوسره علم ترلاسه کړو،نوکولاي شوچې دهرې ستونزې په مقابل کې مقابله وکړو.ځکه علم خو روښنايې ده چې روښنايې پيداشوه نودهرې تاريکې ځواب کولاي شي،هرچاته خپله لاره که صحی وی که غلطه معلوميږي.

يوعالم هيڅکله دخپل ځان او وطن دخرابولولپاره هڅه نه کوي،تل کوښښ کوي چې خپل وطن ته خدمت وکړي اونوربې علمه کسان دعلم له برکته څخه خبرکړي.هرچاته خپل مسوليت چې ورله غاړې وې وروسپاري اوپه ښه اوصادقانه ډول يې سرته ورسوي اوخپل وطن له بدبختيو،بدبينيو څخه وساتي،داهرڅه چې کيږي دعلم په برکت سره کيږي.

زه به تاسوته لنډمثال درکړم هغه مثال پرخپل ځان تيروم.

زه لومړی يوناپوه اوبيسواده انجلۍ وم،ماخپله نه غوښتل چې درس ووايم اونه مي ورته په خيال کې لاو.

پلارمی دخلکومزدوري کول،تل به يې لاسونه اوپښې سپيرې،چاودې، زخمی زخمی اوله اغزيوڅخه ډکي وې.کله به چې غريب ماښام کورته راغی مابه يې له پښواولاسونوڅخه لومړی اغزې راوايستل،بيابه په واسليمو لاسونه اوپښې ورغوړي کړي،کله به چې بيده کيدی نوبه مي لاسونه اوپښې په پلاستک کې ورته وتړلې ترڅو هغه زخمی ځايونه يې جوړاويوڅه پاسته شي،ددې کارپه کولوسره به يې يودلاسودرداوډپښودردکرارشو.کله به چې سهارشونوبيابه دمزدورۍ په لټون ووتی.يوه ورځ نه پوهيږم څنګه دافکرورته پيداشو چې زه خوخير،ترڅوچې ژوندی يم دخلکو په غريبۍ کې به اخته يم خوکه زه مړشم نولوربه می بياڅه کوي،هغه خودچاغريبی هم نشی کولای.نويوه ورځ هغه غريب اومظلوم چې تمامه ورځ به ستړی اوهلاک دخلکوپه مزدوري کې و،له ځان سره داتصميم ونيوی ترڅو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماپه ښوونځۍ کې شامله کړې اوزه زده کړې وکړم. که څه هم چې مانه غوښتل چې زه درس ووایم ځکه زه دیوې جوړې نوې کالیوپه ارمان وم. کله به چې کوچنی یالوی اخترشوټولوانجونوبه نوي نوي جامې،بوټونه،پوړنې اغوستې و،خوزه به په زړو جاموکې وم بوټونه به مې لا نوې نه و.نونه دچاکورته تلم اونه له چاسره گرځیدم.مابه چې اختر ته نوی کالی نه درلودل نوبه ډیره مایوسه وم خوڅه په لاس نه راتلل ځکه دخپل پلاراومورله حاله خبره وم.دوي ته مې هم بږغ نشوای کولای چې زه حتماًکالي غواړم بوټونه غواړم.تاسې خوښه پوهیږي چې کوچنیان په اخترکې نوي جاموته څومره خوشحاله وي.خومادااارمان ترډیره وخته په اوږووگرځاوي. زه به دي ته څومره خوشحاله وم چې هغه به داسې اختر وي چې زه به نوي جامي نوي بوټونه نوي بنگړي اونوی پوړنی ولرم اوبیادگاونډیانوکره ولاړه شم اوهغوي راته داخترمبارکی اوزمادنوي شیانومبارکی راکړي.

خوهیڅکله می هم داارمان په کوچنیوالی کې پوره نشو.خیرپه ماپې په هغه غریبۍ اوغربت کې درس شروع کړ.مااوزماموربه ډیر دپلارمخنیوی کوي چې مادرس ویلوته پرنږدی،مابه داورته ویل چې درس ویل خودغریبانوکارندی ،دازموږله وسه تیرکاردی،مونږدماښام په ډوډۍ پسی حیران یو،ته وگوره تمامه ورځ دخلکوپه مزدوري پسي ورک یې دهغه سربیره لاته غواړې چې په مادرس ووائي؟موربه مي هم همداسي ورته ویل،چې داته څه کوی اوپه تاڅه شوی دی.که غواړي له خانانوسره ځان برابرکړي یاکه خان شوي یې؟ ته له خانانوسره نشې برابریدلاي ځکه درس خوخانان په خپلو کوچنیانوواېي اودادخانانوکاردي.

دازموږله وسه تیره خبره ده.ته دی حال ته وگوره څوک باید له خپلې کمبلې سره سمې پښې وغزوي.مونږبه چې هرڅه ورته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوپلاربه مي نه منل اودابه يې موړته ويل چې ترتاسوزه ښه پوهيږم.که هرڅه تکليف وی پرمابه تيريږی،زه ورته هرڅه برابروم.تاسوزماحال ته وګوري،په ماڅه جوړه ده،کاشکی ماسواددرلودای.مابه هم يوځای نه يوځای ډيرپه بيغمی سره کارکوی.له ستړياووشخه به خلاص وم.که کاروکوي به می خوکه نه وبياخوبه بيغمه اوهوساوم.اوس نوپه ماڅه جوړه ده که دچاپه کارکې ځان واچوم اوديوڅو دقيقولپاره ځان هوساکړم بياهرڅوک په کارکې راته دنامردپه سترګه ګوري چې دنامردپه سترګه يې راته وکتل بياخوپه اينده کې کارنه راکوي.

همیشه به زه يم اوکار.

مااوس داپريکړه کړي ده،هيڅوک به زماپريکړې ته تغيرورنکړي.زه نه غواړم چې لورمی بيسواده پاته شی.زه هرڅه دلورپه خاطره کوم اوهرڅه خپله ورته کوم.

زه يې مجبوره کړم اوپه دغه ښوونځی کې يې شامله کړم.تاسي وګوري نن دهغه غريب لورچې ديوې جوړې جاموپه ارمان و نن هغه ځاي ته ورسيده کوم چې دپلار ارمان اوارزويې وه.اونن هغه دغريب لورتاسي ددرس په مفهوم تاسوته ددرس ويلوتوصيه کوي ترڅوکوښښ وکړي چې يونړيوال شهرت پيداکړي، اودهرچاپه زړونوکې خاص ځاي ونيسي.اونه بايدداګمان وکړي لکه ماچې کاوي،چې درس ويل دغريبانوکارندی.درس بايدغريبان ووايې اوترهرچابايدډيرکوښښ وکړي.ځکه پرغريب خوهررقم حالات تيرشوي وي. ځومره غم چې دوطن دغريب سره شته دبل چاسره نشته.څومره کوښښ چې غريبان کوي خانان يې نشي کولاي.

نوغريب بايددرس ووايې ترڅودځان اودخپلې کورنۍ اوخپلې ټولنې ته خدمت وکړي.غريبي اوبدبختی له خپلې ټولنې څخه ورکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي.خپله اینده روښانه اواباده کړي.ټولووطنوالوته خدمت وکړي،ټولنه په پښوودروي اوداهرڅه چې کیږي د تعلیم په زیاراوکوښښ سره کیږي.په زیارسره علم ترلاسه کیږي اوپه علم سره روښنايې.په علم سره خدای(ج) پیژندل کیږي،اودخدای(ج)له قدرتونوسره اشناکیږي.هرستونزمن کارورته اسانه کیږي.دتاریکولپاره یې څراغ جوړیږي.خوکه څوک بې علمه وي هغه له هیڅ شي نه وي خبر،دړانده مثال لري چې نه خپله لاروینې نه بل ته لاره ښودلای شي.ترهرچاځان ته ډیرتاوان رسوي.

داخبرې مي ځکه تاسوته وکړي چې تاسوپه خپلودرسونوکې زیات کوښښ وکړي اوپه ژوندکې ښه لاسته راوړني راوړي.نورنوستاسوله توجوڅخه ډیره زیاته مننه،چې ماستاسووخت ضایع کړ اوستاسودنن ورځی دتفریح وخت مي ونیوی.ټولوڅخه یوځل بیاډیره بخښنه غواړم.ستاسودټولودکامیابي په هیله.

پاڼې چې کله خبرې خلاصي کړی ټولوزده کوونکوورباندی چکچکي کړي یودبله یې سره ویل چې رښتیاهم چې علم دتاریکولپاره څراغ دی.پردې خپله غریبي تیره شوي وه.اواوس دهغه غریب لوریوه بااستعداده ډاکټره شوه اوموږته یې په څومره جرئت سره ددریځ پرسرخبرې وکړي.

داهرڅه یې ددرس ویلوپه ذریع ترلاسه کړي دي.مونږهم بایددرسونه ووایو.اونه بایدخپل قیمتی وخت بیځایه ضایع کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوولسم څپرکی

کله چې دابتدائی محکمې قاضی پدې ډاډه شوچې له وکیل صاحب څخه يې ښه کافی رشوت ترلاسه کړ،نويې دده دزوی پردوسيه کارشروع کړاوداسي فيصله يې ورته ابلاغ کړل.چې شيرخان اومحمدزی دي په شپاړلس کاله قيداوهريودي په پنځه لکه افغانيوجريمه شي،داجريمه شوي پيسې دي دفوزيې کورنۍ ته ورکړي.اوپاته مرجان شو.هغه په يوروانی رنځ اخته دی چې جزاترهغوپوري نشي ورکول کيدای ترڅونه وي جوړشوي اوبل دقيدوركولوطاقت هم نه لري په قيدوركولوسره يې رنځ نورهم زياتيږي.نوپدي اساس اوپه قانونی لحاظ سره چې قانون هم ليوني اورنځورته جزااوسزانه ورکوي،که څه هم هغوي قتل کړي وي. په همدي خاطرمونږ.ده ته داسزاوركوو چې په دري لکه افغانيوباندي جريمه اودپنځوکلولپاره دخپل کوراوكلی څخه دباندي ژوندوكړي اوترسختته تداوي لاندي دي ونيول شي.

کله چې ددوي ددوسې کارپه ابتدايی محکمه کې خلاص شو،دستي يې له هغه ځايه واستول دمرافعې محکمې ته.

دمرافعې محکمې قاضی صاحب ته خومخکې ترمخکې دابتدائی محکمې قاضی ويلي واوپه لسو لکه افغانيويې کارورسره خلاص کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچې که نورودوومجرمینوته هررقم سزاورکوي هغه ستاکاردي خوچې مرجان ته کوم چې ماورته سزاورکړي ده ته يې تاييدکړه.
دمرافعې محکمې قاضی هم دابتدایی محکمې پریکړه تائیدکړه چې مرجان دي په دري لکه افغانیوجریمه اودپنځوکلنولپاره دي خپل ښارپریږدي بل ښارته دي ولاړشي اوخپله تداوي دي هلته وکړي .
په همدي ډول سره مرجان له اعدام اوله زندانه خلاص شو.
وکيل صاحب چې کله دقاضیانوپریکړه واوریده په کالوکې نه ځايدی اونیږدی وچې له خوشحالۍ څخه يې زړه دریدلای وای.
مرجان له زندانه راخلاص شواوپاته شیرجان اومحمدزی شول هغوي نوپه زندان کې شپې اوورځې صباکولي اوډیره پښیماني يې کوله چې داکارخوپه موږمرجان وکړ.اخیردی راڅخه ولاړی اوموږيې یوازي پریښودو.هرچاته به يې په زندان کې داسي خبرې کولاي چې هیڅوک نه بايدداسي کاروکړي چې له هغه څخه دي څوک نفرت وکړي حتادومره نفرت چې خپل پلاراوکورنۍ يې په خپلیدوپښیمانه شي،اوچې دوي ژوندي وي هرچاته يې سترګې ټيټې وې.
وکيل صاحب دمرجان دوسيه په محکمه کې په څارنوالی کې،په جینايې کې خلاصه اوخپل زوی يې بې ګناه په اثبات ورسوی.
څارنوالي اواميرجینایی خوڅه نشوای ورسره کولاي ځکه چې دقاضیانوحکم و.اودقاضیانوحکم خووالي څه رئیس جمهورهم نشي ماتولاي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتلسم څپرکی

پاڼه چې له مکتبه راغله کورته،موراوپلارته یې ټوله دښوونځی کیسه وکړه،چې داسی می ورته وویل چې درسونه به وایاست.ډیرزیات کوښښ به کوي.ټولوراسره وعده وکړه چې مونږستاخبرې حتماًمنو.مدیرې صاحبې هم ښه عزت راکړ،ټولوزده کوونکوته یې ورمعرفي کړم اوهرصنف ته یې جلاجلا پخپله وروستم.

پاڼې چې کله خپلې خبرې خلاصې کړي.موراوپلاریې ورته وویل:

چې لورې!اوس څه پلان لری دراتلونکی ژوند په هکله دې فکرکړی

دی.مونږپه ګډه داپریکړه کړي ده چې ستادکوزدې بندوبست وکړو.اوتاپه ژوندکې نوره هم خوشحاله ووینو.زموږدغه یوارمان لاستادواده په زړه کې پاته دی.ښوونځی خودي خلاص کړاواوس خوڅلورمیاشتس رخصتی هم لري.نوپه داڅلورومیاشتوکې به ستادکوزدې کاروکړو.موږتاته دیوې ښې کورنی هلک انتخاب کړي دي.ته په دې کې څه وایې؟

پاڼې ورته وویل:

چې دهلک په غم کې مه اوسي.ماله پخواڅخه دځان لپاره خپل دژوندملګری پیداکړي و.هغه وخت کوم چې زه لاپه ښوونځی کې وم.اوس خوله ماسره هرڅوک واده کوي هغه هم دیومقصدپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطر. کچیري ماخپلې زده کړي نه وای کړي بیابه هیچا واده نه وای راسره کړي.ددنیاټول خلک بې مقصدکار نه کوي.خوهغه چې ماانتخاب کړی دی له هغه سره زه هم ډېره زیاته مینه لرم. کلونه کلونه وشول چې یودبل په انتظارموتیر کړي دي.هغه یوه لنډۍ ده چې ماپه کوچنوالی کې ډیره اوریدلې وه چې وایې.

پخوادصدق یارانې وې یاربه دستر ګوته عمر تیرونه.

ماپدې هیڅ باورنه درلودچې په اوس زمانه کې دي داسي یوځوک پیداشي چې چاته پوره عمرانتظارشي.خوپرماخدای(ج)مهربانه شواوماته یې دغسي یوځوک پیداکړچې زمالپاره یې پوره عمرانتظارایستلی دی.

موراوپلاریې دواړه ورته حیران شول ،ورته وویل:

عجیبه ده مورږ.خوتراوسه پدې موضوع نه یوخبر.هغه بختورځوک دي چې له تاسره دومره زیاته مینه لري.مورږته یې هم راوښیه.مورږیې پیژنو؟

_ هوتاسي یې ښه پیژني.اوپرتاسو له یوه زوی ځخه زیات ګران دی.هغه بختورانسان بل ځوک نه بلکی ښوونکی اصف دی.

دواړوپه یوه پلاورته وویل:

داخودي ډیرغوره انتخاب کړي دي.داخوبیخی زمورږزړه ته نه لویدل.ښوونکی اصف خورښتیاچې ډیرزیات بختورشخص دی.دهغه په رقم خوهیځوک نشي کیدلاي.داخونورعلانوردی.ایاښوونکی اصف پدې خبردی؟

_هومااوهغه خبره سره خلاصه کړي ده.یودبل سره زیاته مینه لرو.

دواړوشکردخدای (ج)وایستي چې ښوونکی اصف یې له لورسره مینه اوواده کوي.پاڼې ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه چې داسی ده نومونړبه له ښوونکی اصف !سره خبرې وکړو.اوله هغه سره به مشهوره وکړو.چې هغه اوس واده کولوته اماده دی.

- نورتاسي پوهيږې اوکارمو.

کله چې پاڼې خپله خوښه موراوپلارته ورکړه.دوي هم په هغه ورځ راغلل دښوونکی اصف کورته.هلته ځانگې اوښوونکی اصف ښه عزت ورکړ. وروسته يې ښوونکی اصف ته وويل:

موږنن له عجیب واقعیت سره مخامخ شو.هغه داچې ستااودپاڼې په مابین کې کوم رازو له هغه څخه نن خبرشوو.موږهيڅ باورنه کوي چې تاسي دواړه به مینه کوي.اودومره زيات وخت يودبل په انتظارسره تيرکړ.

ښوونکی اصف ورته وويل:

رښتیاهم چې ډيره موده يوبل ته انتظارشوو.زماسره دپاڼې غم وچې خپلې لوڼې زده کړي وکړي بيابه واده وکړو.ماتاسوته نه ويل چې زه اوپاڼه له ډيرپخواڅخه يودبل سره مینه لرو.خپله مینه موتردې ورځې پوري ساتلي وه. که څه هم ماوس نه غوښتل چې تاسي لدي رازه خبرکړم.ځکه چې ددې لايو کال عملی کارپاته دی.

_ دازموږپريکړه وه چې پاڼه واده وکړي.موږدپاڼې لپاره يوهلک پيداکړي و.له هغې سره مومشهوره وکړه چې لورې! موږخوستادکوزدې بندوبست کوو.اوس خولاژوندي يوپه ژوندخوباورنشته،.داارمان مولاپه زړه کې پاته دي چې ستاواده لاپه خپلوستر گووگورو.وروسته که مړه هم شوبه ارمان به موپه زړه کې نه وې پاته.خوپاڼې راته کيسه وکړه.اوس خولاپاڼه څلورمياشتي رخصتي لري.څلورمياشتي خوډيرعمر دي ستاسوواده په

(c) ketabton.com: The Digital Library



داڅلورومیاشتوکې سره کیدای شي.څنګه دي خوښه ده چې واده وکړي؟

_ زمادرسره خوښه ده.چې پاڼه موراضی کړې وې زه خوهیڅ نه وایم.

_ ښه نوچې ستاله خواځخه مطمین شونواوس ته راته دواده کولونیټه راوښیه .څه وخت مناسب وخت دواده لپاره ګڼې.

_ زماله خواتاسي وکیلان یاست.هره نیټه چې ورته ټاکي زه څه نه وایم.

_ چې موږته اختیارراکوي موږخوستاسودواده په کارپسي کیږو،په دامیاشت کې به مواده وي.

_ بیخي مي درسره خوښه ده.په دایوه میاشت کې زموږمکتبونه هم خلاصیږي. موږهم دري څلورمیاشتي رخصتي لرو.

_ داخوبیابیخي ښه کارشو.بس نوله نن څخه یوه میاشت وروسته ستاسودواده ورځ ده که کمه واقعه نه وه پیښه له خیره.

_ الله (ج) مودي له هرې واقعې وساتي.زما درسره خوښه ده.

په اخیرکې دپاڼې موراوپلاررااولاړیدل چې ښوونکی اصف ورته وویل:

تاسي یوه شیبه انتظارشي زماسره یوڅه پیسې دي هغه له ځان سره واخلي. اوګوري اوس لاتاسوته وایم چې دپاڼې لپاره پرته دکالیوڅخه نورشیانوته اړتیانشته.ځکه چې زماپه کورکې هرڅه زیات شته اوله اندازې څخه ډیر.

یونیم لک افغانۍ یې ورته راوخیستي اودوي ته یې ورکړي.بیایې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بې ځایه مصرف به نه کوي.یوازي اویوازي دپاڼې لپاره کالي اوکه نورددې کم شیان خوښ وې ورته واخلي..بل به هیڅ شي نه وربانديږ اخلي.

دپاڼې موراوپلار ورته وویل:

دومره ډیري پیسې اوپه هغه هم یوازي دپاڼې لپاره دواده کالي؟

_یونیم لک افغانۍ نوڅه شي دي،څه شي په کیږي.اوس خوډیره قیمتی ده.یوه جوړه کالي په شل دیرش زره افغانۍ وي.زه به ځان بختوروګڼم چې تاسوزه له ولوره خلاص کړم.تاسي چې په یونیم لک افغانیوغاړه وباسي نوزه نورڅه غواړم.دابه زمانصیب وی،چې له ماڅخه تاسي ولورنه غواړي. کنې داد اوس ولورونه خوولورنه وی تیارتجارت وي.اووه لکه اته لکه اویالس لکه افغانۍ باندی دوستی کوی،که کمی وی بیخی دوستی نه ورسره کوی،دومره پیسې اخلي چې په دري کاله څوک بیاواده نشي کولای اوڅوک دې ته مجبوریږی چې یاغلاوکړي اویاهم له وطنه پنځه شپږکاله ورک وی اودخپل ولوردپیداکولو لپاره وطنونه وغواړي.حتاداسي ډیرځوانان خولاشته چې بیخی دواده کولوتوان نلری.دواده څخه نامحرومه پاته وي.داټول دغه دزیات ولورله وجې دي.ځکه په دومره پیسویې زورنه رسیږي،اونه دومره عوایدله کوم بلي لارې پیداکولای شي.دادځان لپاره بهتره وګڼي چې ټول عمر څیره واوسی اوهیڅ واده ونکړي.زه اوس هم ستاسواحسان منم.

دپاڼې مورورته وویل:

چې زویه!تاخوزموږسره ډیري مرستي کړي دي،ترهرچادي ډیرنازولي یو، اوتردووولورودي لاډیري پیسې پرمونږمصرف کړې.زموږسره دغومره پیسې سته چې دپاڼې دواده لپاره کالي،الماری،فرشونه،پلنګ، لوشي اوهم داسي نورضروري شیان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته په کار کیږي رانیسو.داپیسې ته بیرته درسره واخله ،په واده کې دې په کارراشي.

_مادرته وویل چې بغیرله کالیوڅخه به بل شي نه ورته اخلي.هرڅه مي په کورکې ترضرورت زیات شته. زماسره نوري پیسي دواده دمصرف لپاره شته.دغوپیسوته اوس ضرورت نلرم.

دپاڼې موراوپلاریې دي ته مجبوره کړل چې هغه پیسي ځنی واخلي.پیسې یې له ښوونکی اصف څخه راواخیستي اوخپل کورته راغلل.کله چې خپل کورته راورسیدل نودښوونکی اصف کیسه یې ټوله پاڼې ته وکړه،پیسي یې پاڼې ته ورکړي چې داته پوه شه اوپیسي دي،هرشي چې په اخلې اوهرشي چې دې خوښ وی ته اوستاخوښه.

پاڼې هم له موراوپلاره پیسي واخیستي اودنازوکورته راغله.هغه یې لدې رازه خبره کړه اوورته وویل:

زه ډیره بخښنه غواړم دایوخیانت مي په خپل ژوندکې درسره کړي دی،ځکه ته مي له خپلې مینې نه یې خبره کړې.ماخوله ښوونکی اصف سره مینه درلوده اویوه میاشت وروسته زمااودښوونکی اصف واده دی.اوس راځه چې بازارته ولاړې شوو.زه خوپه کالیونه پوهیږم ته به یې راته خوښ کړي.

نازوچې داواوریدل حیرانه پاته شوه،هیڅ یې زړه ته نه لویدل.پاڼې ته یې وویل:

داخورښتیاچې زماسره دې خیانت کړي دی اوزه دې دخپلې مینې څخه نه یم خبره کړې.اوس خوڅه په درکوي نشم،نه څه درسره کیږي.بس نورخوزما هم څه په وس ندې پوره بې له دعاڅه.بل ښوونکی اصف خوداسي یوشخص دی چې په ډیروانسانانوکې نشته.ډیر پرځاي اوډیربهتره ملګری دی ځان لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب کړی.خوشحاله ژوندورسره ولرې.درځه اوس خومي کورته راغلې يې څه نشم درته ويلای.که زه مخته خبره وای يابه زمااوستاملګرې ختمه وه. ځکه چې تاولي زه لدې رازه نه يم خبره کړې.ماخوستاله رازه څوک نه خبرول.

پاڼې ورته وويل:

چې پردغه ځای زه هم درباندي ملامته يم.خوداراته خپله ښوونکی اصف ويلي و،چې په دې رازبه زمااوستاپرته څوک نه وي خبر.ته باوروکړه چې زماموراوپلارلانه شول خبر

نازوورته وويل:

بس نوري خبرې مه راته کوه.چې وارپه وارمي خوادرته شنه کيږي.درځه چې ځوبازارته.

دواړې بازارته راغلې اوپه خپله خوښه يې کالي دپاڼې مور،پلار،ځانګه، ښوونکی اصف اودهغه نيږدي خپلوانوته يوه يوه جوړه کالي اويوه جوړه يې لا نازوته رانيول.اونازو تې وويل:

داځکه درته رانيسم چې له تامي داخبره پټه کړې وه.

_ بس په دغه يوه جوړه کاليوځان راځخه خلاصوې؟

_ ياکه دې دوهمي جوړې ته زړه کيږي هم يې درته رانيسم.اوس خودرته ملامته يم،هرڅه چې وايې منم يې.

_ يامادغسي درته ويل.دغه يوه جوړه لاکفايت کوي.درځه چې داشيان ترکوره ورسوو.

.ټول کارونه يې مخکې ترټاکلی يوې مياشتي پوري خلاص کړل،دواده دورځې په انتظارول.هره ورځ پرښوونکی اصف اوپاڼې باندي تريوه کال اوږده تيريده.کله چې ټاکلی نيټه راورسيده دواړوخواوودواده تياري نيولي و.دواده ورځ وه هرې خواخپل دوستان،خپلوان،همسايه ګان خبرکړي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښوونکی اصف اوپاڼې نکاح وتړل شوه.وروسته ترنکاح تړلوېې پاڼه په یوشین شال کې چې سرترپایه پټه و،ترراسته لاس یې پلارنیوله واوترچپه لاس یې ماما اوله خپل کوره یې راوایستل په موټرکې یې چې موټرپه پلاستکي ګلانواورنګارنګ جالیوپوښل شوي وکښینول.کله چې ټول مراسم دپاڼې په کورکې خلاص شوټولوبیرته دښوونکی اصف دکورپرخواورروان شول.

ښوونکی اصف واده ته ښه تیاري نیولی و.ښه ډوډۍ یې خلکوته ورکړه.او ټول قریبان،دوستان،خپلوان اوانډیوالان یې په ښه خوشحالي له خپله کوره رخصت کړل.ټولوخپلوانواودوستانویې دخوشحاله ژونداوښه بخت دعاوي ورته کولي.

کله چې ښوونکی اصف اوپاڼه په خونه کې یوازي پاته شول،نودلږ،مودي لپاره دواړوچوپتیاغوره کړي وه،وروسته ښوونکی اصف خپل دکلوکلوانتظار کوم چې دی ورته په طمعه و،اوخپل لیدلي خوب یې په حقیقت بدل والیدي،

نو پرپاڼې یې بږغ وکړ.ترڅوبه دغسي چپ ناست یو،خیرته اوس هیڅ بږغ مه کوه،ماته دي دسرشال راکړه چې زه خودوه رکعته نفلي لمونځ ورباندي وکړم،بیابه ډیرسره وږغیږو.پاڼې هم دستي له سر څخه خپل زرغون شال کوم چې پرسریې وښوونکی اصف ته ورکړ.ښوونکی اصف هم ورباندي دوه رکعته نفلي لمونځ اداکړوروسته ترلمانځه یې له پاڼې پوښتنه وکړه چې ته ددغه نفلي لمانځه په برکت خبره یې؟

_ یاتراوسه مي له هیچاڅخه ددې نفلي لمانځه ندي اوریدلی،نه زه په خبره یم. خیراوس مي ته ځني خبره کړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په دې لمانځه کې خدای(ج) پاک دافضیلت اوبرکت ایښې دی،چې کله دواده په شپه باندی څوک دا نفلي لمونځ دناوی دسرپرشال باندي وکړي، نودژوندتراخېره به دغه جوړه (زوم اوناوی)سره خوشحاله اوله مینه اومحبته ډکه ژوندولري.ته په دې پوهیدلې چې دواده لومړي شپه دجنت شپه وی؟

- بلی هو،پدې خبره وم چې دواده لومړی شپه دجنت شپه ده.خوزه همدااوس په دغه دجنت په شپه کې ځان بې انصافه بولم.ایاماخوبه له ځانګه سره بې انصافی نه وی کړې؟

- یاپدې کې نوستاڅه بې انصافی ده،ماخوستاسره مینه درلوده،په مینه کې خوهرڅه جایزدي.څوک په مینه کې دبې انصافی،عزت اوابروپروالري .اوبل مادهغې په خوښه درسره واده کړی.هغه زمااوستاپه مینه خبره ده.هغې راته ویلي وچې خپله مینه دې حتماًلاس ته راوړه،زماله خواده ته اجازه ده،په دې کار کې زه درسره ملګرې یم.اوس ته ووایه چې له هغې سره موڅه بې انصافي کړې ده. هغې راته خپله اجازه راکړي ده ماهم ډیرکوښښ وکړترڅوته مي دژوندملګرې شې.دابه زه ځان بختوروبولم چې خپله مي کړې،اوتا په خپله خوښه اورضایت واده راسره وکړاوزه دي هم دژوندملګری کړم.

- ښه چې داسي ده اودهغې په خوښه دې له ماسره واده وکړ،نوزه به دهغې دومره خیال وساتم لکه یوه ښه دوسته چې مي وی.ته به هم نن دا واعده راسره کوي،چې زمااودځانګې ترمنځ به هیڅ فرق نه کوي.څه چې ماته کولای شي ځانګې ته به یې هم کوي.

- حتماًزماهم درسره واعده ده،چې ستااوځانګې به یوه زره فرق نه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نونسم څپرکی

دښوونکی اصف اوپاڼې له واده څخه دوې اوونۍ تیري شوې وې،چې ښوونکی اصف پاڼې ته داسي وویل:

څه غواړې چې په دغه دریومیاشتوکې یې وکړي.ایاغواړي کوم ځاي کاروکړي که په کورکې استراحت کوي؟

پاڼې ورته وویل:

په کورکې به نوڅه وکړم.که ماتعلیم ددې لپاره کړي دی چې پر کورکښینم.ماله ځان سره داوعده کړي ده چې خپل مظلوم ولس ته به شپه اوورځ خدمت کوم.

ځکه پر ماداوطن حق لري،اووطن دمورحیثت لري،زه یې په خپله غیږه کې غټه کړې یم.ماته یې نوم اونښان رابخښلی دی.زه نه غواړم چې جفاورسره وکړم ،لږترلږه خوبه یې حق پرځاي کړم.

زه غواړم چې په دریو میاشتوکې دښځوداګاهي لپاره په کورکې کورس جوړکړم. هغه بې تعلیموښځوته چې دتعلیم له نعمته بې برخې پاته دي،هغوي ته هغه څه ورزده کړم کوم چې زماپه ذهن کې دي.

_ څنګه چې ستاخوښه وي زماملیکې هغسي به وشي.دکورس لپاره دي کوم شیانوته ضرورت دي چې زه یې درته برابرکړم.

_ زه به یې لست درکړم.

_ سمه ده.دشیانولست خوبه دي غټ نه وي.لږشیان دي که ډیر.داسي نه وي چې کورمی پرچرګه رابارکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ ډیربیریږه مه،هرشي چې دی راته راوړل پیسې يې په ماپسي لیکه،کله چې مي پیداکړي بیرته دي خپلې پیسي راځه واخله.احسان يې مه راباندي اچوه.

_ کاښکی دغسي وکړي.بیاداسي نه وي چې ځان ورباندي واچوی.هورښتیاپه پیسوکې خوډیر ځندرائي،ترڅوچې ته يې راته پیداکوي،دهغوپیسوګټه خوبه راته راکوی.

_ ګټه يې هم غواړي.لکه چې سودخور يې ځکه سودخوري کوي.خیردي ګټه ډیره باندي واچوه هغه هم درکوم.ووايه څومره ګټه غواړي چې اوس يې سره معلومه کړو؟

_ ډیره ګټه زه هم نه غواړم،فقط شل فیصده ګټه.پرشل فیصده ګټه به زماپه خیال سودهم نه راځي.

_ بیغمه اوسه دغونده ګټه خودرکوم.زه بیریدمه چې اوس سل فیصده ګټه راباندي وانه چوي.که دي راته سل فیصده هم ویلي وای مابه درکړي و.

_ په کتابچه کې يې راته والیکه،صبابیاپه پښمیانه نشې،بیانوځه درسره کولاي شم.

_ یابیغمه اوسه  درواغ نه درته وایم ستاحق خوبیخي نه خورم.زماصداقت به هغه وخت درته معلوم شي.

_ هوچې حساب موترمابین پاک وي بیاداسي نه وي چې غاړې موبندي شي.زه به خپل حق درڅخه غواړم اوته به باندي پښیمانه يې.

_ ستاځونه زده دي،مه يې راته راوړه.خدای(ج) مهربانه دي له یوخوانه یوخوابه راته پیداشي.

_ د دماغ له خواخوهم اوس خلاصه يې.ماته معلوموليې.دومره ژرخومه خواشینې کیږه.مامسخرې درسره کولاي.ژرشه دشیانولست دي راته راکړه زه به يې نن درته راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڼې ورته خپل لست ورکړ. کوم شیانو ته چې یې ضرورت و.
ښوونکی اصف ورته له بازاره ټول دلست شیان راوړل. په کورکې یې ورته یوه خونه دکورس لپاره منظمه جوړه اوبرابره کړه.

دځلویښتوڅخه زیاتوښځوته یې دبې سوادۍ درسونه اوددې سربیره دکورنۍ او دماشوم دتربیې اوپاملرنی په هکله مکمل معلومات تشریح کول.

کله چې دري میاشتي تیري شوي په روغتون کې پاڼې اونازودواړوخپل عملی کارشروع کړ. له هرمریض سره به یې دومره ښه رویه اودومره په نرمي خبرې کولي لکه هرمریض چې ددوي له خپلوانوڅخه وي.

پنځه میاشتي یې دعملي کار تیرشوي وې چې په روغتون کې دواړوته دواکسیناتورې وظیفه پیداشوه. ښځواوماشومانوته به یې واکسینونه لګول اوهرې ښځې ته به دواړو داویل چې هره ښځه بایدپنځه واري واکسین په خپل ژوندکې ولګوي اوخپل هرکوچني ماشومان چې عمرونه یې له پنځوکلنوڅخه کښته وي واکسین کړي. ځکه چې واکسین ډیرباارزښته اوباتجربه اودهرمرض په مقابل کې ډیرسخت مقاومت کوي.

پای
۱۳۸۹- ۰۲- ۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**